د پښتو ټولنې پرله پسې
خپرونه ۲۳۱

د پښتو د اولسي ادب لارې

څېړنوال دوست محمد دوست

پښتو ټولنه

۱۳۵۶

د پښتو د اولسي ادب لاري

څېړنوال دوست محمد دوست

PROPERTY OF
ACKU
1518

پښتو ټولنه

۱۳۵۶

سریزه

فولکلوردا ولسي ژوند هینداره ده. په دې هینداره کې دخلکو دودونه، ارزښتونه، چال چلند، انګیرنې، کړنې، او دژوند هر رازلارې چارې منعکس کیږي. دفولکلوردخیړنې ساحه ډیره پراخه ده خوعمده برخه یې او لسي دودونه، خرافات، رواجونه، اولسي ادب (لکه متلونه، سندرې، کیسی اونور) دي.

تاریخي کتنه

د فولکلور (folklore) اصطلاح د لومړي ځل د پاره انګلیسي پوه تامس (W.J. Thoms) له خوا په (۱۸۴۶) عیسوی کال کې استعمال شوه. ده د فولکلور اصطلاح دهغو دودونو، خرافاتو، متلونو، سندرو، کیسو اونوروعنعناتو دپاره استعمال کړه چې په انګلستان کې له ځنډونو (پخوانو) وختونو څخه په میراث پاتې شوي وو. دفولکلور اصطلاح ډیر ژرنو روا ارو پايي ژبو ته لاره وموندله او دخیړنې ډګر یې نور هم پراخ شو. دنولسمي پیړۍ له نیمایي نه وروسته لومړی په انګلستان او بیا دامریکې په متحدو ایالتونو، جرمني، فرانسې، اسپانیا، اسکنډینیاوی هیوادونو، رومانیې،

ترکیې او نورو هیوادو کې یو په بل پسې دفولکلورخیړنې موسسې جوړې شوې. دغو مؤسسو په اصولي او سیستماتیک ډول فولکلوري موضوعگانې وخیړلې او یو زیات شمیر آثارېې خپاره کړل. زمونږ په گران هیواد کې هم (۱۳۵۲) کال کې د (فولکلور ټولنه) تاسیس شوه او د (فولکلور) د مجلې تر څنگه یې ځینې کتابونه هم چاپ کړل.

د فولکلورمبادي او بنسټونه:

دفولکلور کلمه له دوو توکونو څخه جوړه شوې ده: (folk)چې په انگلیسي کې(فوک)تلفظ کیږي(خلکو) ته وایي او (lore)دزده کړې په معنا راځي. په دې اساس،فولکلوریافوکلور(دخلکوزده کړې) یااولسي پوهې ته ویل کیږي. دفولکلور خیړنه دوه اړخه لري یو پخپله (فولکلور) او بل (دفولکلور په باره کې) .

په لومړي برخه کې یې د هرډول فولکلوري مواد وبنسټونه او راټولونه او دراټولولو میتود شامليږي. دې برخې ته(تشریحي اړخ) ویلې شوه. دوهمه برخه دفولکلورمبادي او اساسات دي چې (تیوریک اړخ) بلل کیږي. دپښتنې فولکلورلومړي برخه تر زیاتې اندازې خیړل شوې ده: دپښتوټولنې،فولکلور ټولنې، دپښتوخیړنو بین المللي مرکز او ځینو نورو مؤسسو او لیکوالو له خوا په دې برخه کې خیړنې روانې دي او د ریسرچ پلانونه یې طرح شوي

دي، مګر دفولکلور دتیوریک ارخ په باره کې ترا وسه کومه څیړنه ماته په نظرنه‌ده راغلې. څیړنوال دوست محمددوست د پښتوټولنې (دادب اوفولکلور د څانګې) لوی مدیر زیاراېستلی دی‌چې ددې اثر په ورآندې کولو سره د تیوری اواساسونو برخه هم وڅیړی . دا چې څیړنوال دوست په دې لاره کې څومره پرمخ تللی دی دلوستونکو په قضاوت پورې اړه لری خو هغه څه چې زه یې په‌خپله برخه کې وېلی شم‌داده چې (دپښتو داولسی ادب لارې) دموا دوله حیثه پورې‌غنی او دفولکلور څیړونکو دپاره ډیر تیاره اړخونه روښانه کوی.

د فولکلور د اساساتو دڅیړنو په ترڅ کې باید د فولکلور او اجتماعی بشرپیژندنې (Social anthropology) ترمنځ یولې اوحدود څرګندوی. پخوانو لیکوالو دغه دواړه موضوعګانې سره‌ګډې کړې وې.دفولکلوری بنسټونو په څیړلو کې د کتاب‌لیکوال دلرغونو اریائیانو افسانې هم‌یادې کړی دي . مذهبی افسانې دپیدایښت،طبیعت او د انسانی ټولنې دتکامل دښودلو دپاره خاص اهمیت لری. دغسې افسانې اوس هم زموږ په ټولنه کې شته‌چې کولی‌شی دپورتنیو موضوعاتو په باب‌زموږ د ټولنې تصورمنعکس کړی .

ددغو افسانو راټولونه— په‌تېره کومې افسانې چې تقلیدی بڼه نه‌لری— د نظری موضوعاتو دتشریح د پاره‌ضروری بریښی. لو یدیځ فولکلوریستانو د افسانو له مقایسوی څیړنو څخه داجتماعی تکامل مرحلې او دهغو علتونـــه

تشخیص کړی دی. بو زیات شمیر فولکلوربوهان له مقایسوی ګتنو او ګروبرتو څخه دې نتیجې ته ورسیدل چې هره ټولنه د تاریخ په ټاکلې مرحله کې داجتماعی-اقتصادی (Socio—economic) شرایطو او عواملو په بنا یو معین ډول فولکلورلری چې د هماغه وخت شرایطو محصول یې ګڼل‌شو او له همدې امله ، هره ټولنه چې د تاریخ ټاکلې مرحلې ته داخله شي قهراً اوجبراً هماغه ډول فولکلور هم مینځ ته راولي. دانتیجه د فولکلوري مشابهتونو د پرتلنې په اساس لاس‌ته راغلې ده.

ځینو فولکلوربوهانو پورتنی نتیجه نیمګړې وبلله او ویې ویل چې د فولکلوري مشابهتونو علت یوازې‌ټاکلي شرایط نه‌دی بلکه اکثر روایتونه، افسانې او رواجونه دسیاحانو، تاجرانو، فتوحاتو، او داسې نورو عواملو په اساس له‌یو ځایه بل‌ته نقل شوي دي. کلتورونه د ونو د ځانګو په شان مستقله وده‌نه‌کوي بلکې د اسمان‌داور یځو په شان په‌حرکت کې‌دي او یوتربله سره ګډیږي. سربیره پردې ، په‌پورتنی فرضیه کې مشابهتونه ترنظرلاندې نیول شوي‌دي اماتوپیرونه او اختلافات له‌نظره‌غورځیدلي دي. په‌داسې‌حال کې چې هرفرضیه باید دواقعیتونو په اتکاء او بې له کوم شخصي تمایل (bias) څخه اثبات ته‌ورسیږي.

دادواړه‌نظریې پلویان لري او د دوی ترمنځ مباحثه او دلایل د فولکلوري تیوري یوه مهمه مسئله ګڼله کیږي ځکه چې په تیوریک موضوعګانو کې

اساسي خبره دعلت او معلول خبره نه او د(ولې؟)پوښتني ته دځواب برابرونه نه.

دفولکلور داساساتو په څېرنه کې داصطلاحاتو تعریف او تحدید هم ضروری بريښي. دمثال په توګه، په انګليسي ژبه کې(myth Legend, او popular tales)ډېر بله څرګندتو ډېر لري.(myth)مذهبي اړخ لري چې دهغې په واسطه دخلقو او ماوراءالطبيعي مسايل او دمعتقداتو او لمانځنو موضوع شرح کيږي . (legend) حماسي قصې دي چې د اتلانو زړورتوب، ميړانه او نورلنيز ارزښتونه پکښې تمثيليږي.اولسي کيسې(popular tales) داورېدونکو دتفنن دپاره وي او يا کيږي — له تاريخ او مذهبي شعاير وسره چندانې اړه نه لري. دفولکلوري تيوري له مخه دادرې ډوله افسانې او کيسې هر خاصو موضوعاتو باندې رڼا اچوي او بيل بيل هدفونه لري.

څرنګه چې داکتاب يوازې(اولسي ادب) ته وقف شوي دی نو دخرافاتو، دودونو او نوروځانګړو په باره کې دلته بحث کول لازم نه ګڼم. البته کله چې زمونږ هدف داساسونو پلټنه وي نشو کولی چې پرهغو باندې له بحث څخه که څه هم په مختصره بڼه وي — ډډه وکړو . ددودونو په باره کې سربيره پر اجتماعي—اقتصادي عواملو جغرافيايي شرايط او ديني عوامل هم په نظر کې نيول کيږي.

دپښتو اولسي ادب هغه ارزښتونه او ايډيالونه په ښه ډول تمثيلوي شي چې

له پخواو څخه راپاتې دي. په اولسي کیسو کې دزړه وړتوب، میړانې، ناموس ساتنې، عفوې، کسات اخیستلو، دتراژیدی او کومیدی شکلونه او داسې نور موضوعات په سیستماتیک ډول مطالعه کیدای شي او ممکنه ده چې عمومي تیوري او رباندې بناشي.

ښاغلی مؤلف به په دې برخه کې خپلو څیړنو ته دوام ورکړي. پښتو ټولنه دخپرنوال دوست دغې زیارته دقدر په سترګه ګوري او په راتلونکی کې ورته موفقیتونه غواړي. په درنا وی

څیړندوی محمد صدیق روهی

دپښتو ټولني رئیس

د دې کتاب په باره کې

دښاغلی دوست «دپښتو داولسی ادبلارې» په نامه کتاب می ولوست. لکه څنګه چه ددې کتاب له نامه څخه ښکاره ده دغه کتاب د علمی اصولو په رڼا کې زموږ داولسی ادب په هراړخیزه څېړنه کې یو قیمتی او ارزښتناک اثر دی. ځکه که چیرې بې طرفانه قضاوت وکړو نو تراوسه پورې ماداولسی ادب ډېری خوندورې مجموعې او اثارلیدلي دی چې په ځپل ځای کې ډېرقدرور دی، مګر که چیرې دغو اثاروته دیومنقدپه سترګو وګورو نو دیولړ بې نظمیو او نیمګړتیاو څخه خالی نه دی ، دا ځکه چې تراوسه پورې دفولکلورزا تولول زموږ په ګران هیوادکې ډېرنوی او ابتدایی بڼه لری اوله بلی خوا کوم داسی علمی تیوریک لاربښود موجود نه وچی دهغه په رڼا کې څیړ ونکی زموږ د شفاهی ادب دغه خورې وړې ملغلرې را ټولې کړی او بیایی په مرتب او منظم صورت سره وړاندې .

دغه خلا او نیمګړتیا ښاغلی دوست تر زیاتې اندازې پوره کړه او دپښتو

ژ بې دفولکلو ر په اکثر و انو اعو او اقسامو یې علمي او اکادیمیکه څېړنــه
کړې او دعلمي اصولو په رڼا کې یې داولسی ادب تیوري شرح کړی ده.
یو بوه وایی چې: عمل بې تیوری او تیوري بې عمله هیڅ قیمت نه لري.ښاغلی
دوست دغه دواړه اړخونه په کلکه سره په نظر کې نیولی او که چیری دغه
اثر په غور سره ولولو نو دغه کتاب دوه برخې لري چې لومړی برخه یې د
اولسی ادب پوهنې عمومی تیوري او تاریخچې ته وقف شوې ده چې په دی
برخه کې یې دعمومی ژبپوهنې او تاریخ په رڼا کې دپښتو ژ بې داولسی ادب
روابط دېرو لږ غونډونو ژبو او اسناد و سره ښودلی او بیا یې داولسي
ادب عمومی تیوري په عالمانه توګه شرح کړې او دېرونامتو بین المللی
فولکلور پوهانو نظریات او افکار یې وړاندې کړی دی چې دابرخه هغو
کسانو لپاره چې دفولکلو ر په راټولو لګیا دی دیوغوره لارښود او پوهیا
حیثیت لري .

ښاغلی دوست په دویمه برخه کې په عملی ډول ددغې تیوری په رڼا کې
دپښتو داولسی ادب په مختلفو انو اعو او اقسامو رڼا اچولې ده، دغه اقسام یې
صنف بندي کړی او دهر یو معنوی او لفظی فورم او ماهیت یې په ژور نظر
څېړلی دی .

ښاغلی دوست یوازې ددغو اقسامو په څېړنه اکتفا نه ده کړې بلکه دغه
اولسی بیلګې یې دنورو ژبو داولسی ادبی نمونو سره مقایسه کړی او دیو

اولس نه‌بل ته‌دفولکلور په انتقال او بین‌المللیت یې عالمانه څېړنه کړې‌ده. له بلې خوایې ددغو ژانرونو دوه زن او قافیې اړیکې زمونږ دګران هیواد د لرغونوژ بنیو سیراثونو (و یدی‌اوا وستایي سرودونو) سره مقایسه کړی‌او ددوارو ترمنځ اختلافات یې څرګند کړی دی.

دغه کتاب په‌نقادانه توګه لیکل شوی او هغه نیمګړی اړخونه یې بشپړ کړي‌دي چې دفولکلورڅېړونکي او تولوونکي ورسره مخامخ کیږي.

په‌رښتیا سره چې اولسي ادب په‌لوسړی درجه او لیکلې ادب‌په‌دویمه درجه په‌یوتاکلي وخت کې دیوی تاریخي ټولني کلتور، تمدن، اجتماعي او اقتصادي روابطو غوره هینداره ده‌دغه ادبیات دیوې ټولنې داجتماعي سایکالوجي، تاریخ، اقتصادپوهنې، تاریخي‌جغرافیا اوحتی ارکیالوجي له‌پاره غوره خام مواد دی چې ددغې ټولنې په سیاسي او اجتماعي روابطوښه رڼا اچوي او د دغو پوهنو دهریوڅېړونکي له‌پاره کافي مواد برابروی— په پښتنې‌فولکلور کې تراوسه پورې داسې تاریخي بیلګې موندل‌کیږی چې زمونږ داجتماعي تاریخ، مهم اوغوره اسناد تشکیلوی. اوسنی تاریخ لیکنه دپخوانیو تاریخ لیکلو سره ډیر توپیر اری ځکه پخوانی تاریخونه منحصر باالفرددوا کمنانو دپیښو اوژوندانه مصنوعي اوریاکارانه ثبت دی چې نن ورځ دغه تاریخ لیکنه بیخي له‌موده لویدلې اودعلمي اصولو سره سمون نه لري، اوسنۍ تاریخ لیکنه دخومحدودا شخاصو دژوند پیښو د ثبت په عوض

دیوې ټولنې عمومي او هر اړخيزې خېړنې ته ترجيح ورکوي يا په بل عبارت ټولنيزې پېښې د تاريخ اصلي محور تشکيلوي .

له بله پلوه په فولکلورکې تاريخي جغرافيايي نمونه، کلتوري او اقتصادي بيلګې د يوسوسيالوجست له پاره د تحقيق غوره او په زړه پورې مواد برابروي. لکه څنګه چې ښاغلي دوست هم په خپل کتاب کې اشاره کړې ده، د دغه ارزښتناک فولکلوري مواد ورځ په ورځ له سنځه تلونکي دي او افغاني ټولنه د منظمې تعليمي پوهې داغېزې له کبله خپل معنوي او سادې حالات بدلوي او د فولکلور ځای نورمواد نيسي. هيله ده چې د اولسي ادب او فولکلور څېړونکي د دغه کتاب څخه پوره ګټه واخلي او زمونږ د اولس دغه قيمتي سلغلرې چې ورځ په ورځ له سنځه تلونکي دي د زماني د وره کاوي د طوفان څخه بچ وساتي او راتلونکو ته يې جدي پاملرنه وشي.

زه ښاغلي دوست ته د دې ابتکاري اثر په ليکلو سره تبريک وايم او افغاني ټولنې ته د داسې نورو قيمتي خدمتونو په لار کې ورته لا بريا ليتوب غواړم.

څېړنمل خير محمد (سا د) د اجتماعي پوهنو د څانګې غړی

اولسي ادب او فولکلور

فولکلور د انګلیسي ژبې کلمه ده چې (فولك) د (وګړي، خلك، اولس او (لور) د (پوهه، زده کړه) معنا لري چې په دې صورت د (فولکلور) معنا (اولسي پوهه) ده. د اولسي پوهې لمن ډېره پراخه ده چې د اولس دودونه، عادتونه، طب، د کورجوړولو، کرنې، پوښاك خصوصيات، قصې، سندرې معاملې او نور ور کې شامل دي.

کله کله د اولسي ادب نه مطلب یوازې د اولس ادب هم وي چې د (خلکو ادب)، (اولسي ادب)، (شفاهي ادب)، (فولکلوريك ادب) او همدا د (فولکلور) په نامه هم یادېږي.

«اولسي ادب» د ټولنې د ادب هغه برخه ده چې د خلکو په ژبه جاري وي، له یوې خولې نه بلې ته انتقال شوی او لومړی جوړوونکی یې معلوم نه وي او نه د هغه په باب څوك فکر کوي.

کله موږ یوه لنډۍ واورو او یا ولولو د هغه د لومړي جوړوونکي فکر له موږ سره نه پیدا کیږي خو که یوه څلوربیته یا غزل و اورو او په پای کې یې د جوړوونکي نوم نه وي پوښتنه راسره پیدا کیږي چې جوړوونکی به یې څوک وي ؟ ځکه چې لومړی د ټولې ټولنې کمال دی او دویم د یوه شاعر .

د پښتو داولسي ادب مواد د موضوع په اختصاص لکه متلونه ، لنډۍ د خلکو سندرې او نور په نسبتاً زیاتو کتابونو کې را ټول شوي دي ، خو په اساسونو او تیوریو یې چا کار نه دی کړی . زما د دغه اثر موضوع همداده . متاسفانه په دې باب زما د څیړنې له پاره مواد د دومره کافي نشته چې زیاته استفاده ترې وکړم ، نو خپل کار نیمګړی بولم خو هومره مواد چې زما لاس ته راغلي دي دلته به یې ښاغلیو لوستونکو ته په لنډ ډول وړاندې کړم .



زموږ هېواد د اريايي فولکلور او تمدن زانګو

زموږ لرغوني هېواد د چې د اريايي تو کمونو لومړی ځانګواو د اريايي ژبو (او ديالېکتونو) ټاټوبی دی په زرګونو کلونو يي فولکلور او اولسي ادب په خپله غېږ کې روزلی دی. اريايي تمدن هم دلته زېږېدلی او له همدغه ځايه خپور شوی دی. محققين وايي چې زيات امکان لري د معاصر افغانستان خاوره يوه له هغو سيمو څخه وي چې بشري ټولنې يکه ارتقا پکې را غلې ده.(۱) همدغه نظريه په بل عبارت په اريايي بلکې باختري فولکلوري افسانه کې د (کيومرث) په نامه هم موجوده ده.

افغانستان د کروندې او غنمو يو لومړی مرکز و. شوروی اکاډيمسن ن. ي. واويلوف د خپلو اوږدو وجيو بوټا نيکي څېړنو په نتيجه کې دې نظر يې ته رسيدلی دی چې د افغانستان غرني لمنې او هغو ته

۱ـ «د افغانستان تاريخ» لومړی ټوک (۲۸) مخ

نژدې د هند د نیمې وچې شمال لوېدیځې سیمې د غلې د دانو د پیدا ښت یو لرغونی مرکز دی (۱) د کروندې د پیدا ښت تاریخ تر بې دساکو په افسانه کې هم د هغوی خپل هیوا د دی . محققین د ف . انگلس د انظریه تاییدوی چې وایي خاصتاً د آمو د سیند او سردریا تر منځ سیمه یوه هغه لرغونې ساحه ده چې ژوی پکې لومړی اېل او اهلي شوي دي (۲) په دې باب هم خو اریایي افسانې هم دا سې روایت کوي .

دافغانستان په خاوره (کندهار) کې چې کوم ډول کودي موندل شوي د هغو هم معصر او هم زماني په نورو ګاونډیو سیمو کې نه د ایران په خاوره او نه د منځنۍ اسیا د جنوب لوېدیځ په نورو سیمو کې تر اوسه موندل شوي (۳) چې دا ټول د افغانستان د لرغوني تمدن د قدامت شواهد دي او په دې باب زموږ تاریخي کتابونو هم ډېر مواد وړاندې کړي دي .

د افغانستان خاوره نه یوازې د لرغوني اریایي تمدن ځېږده ، بلکې د لرغوني اریایي فولکلور ځانګو او لمن هم ده .

د اریایي فولکلور څېړونکي اتکل کوي چې اریایي حماسې او مذهبي افسانې چې زموږ لړ وخته را رسیدلې دي له دوو سلسلو پاتې شوني دي :

الف — له دېشینو باختریانو څخه چې هغه په زیاته اندازه داوېستا مقدسو متنونو ته

---

۱ – (دافغانستان تاریخ) لومړی ټوک (۳۱) مخ

۲ – د تاجیکي نظم له تاریخ څخه ۴۲ مخ

۳ – د (افغانستان تاریخ) لومړی ټوک (۳۱–۳۲) مخونه

ننوتي او ساتل شوي دي .

ب ـ د کوچیو ساکو څخه چې اویستاته یې د ورسره لاره نه ده پیدا کړې او دوی مره مذهبي روحیه نه لري او د(توراني). یا (اریایي) په نامه هم یادیږي (۱) ساک او باختریان څوک دي ؟

ساک او باختریان زموږ د خاورې لرغوني قبایل دي چې د پښتنو د توکم او نژاد په جوړولو کې ستره برخه لري .

په دې باب (د افغانستان ژبې او توکمونه ـ پښتو تولنه ۱۳۵۰ کال) د باختریانو او ساکو په باب ډېر اسناد لري چې دلته یې تکرار لازم نه دی ــ دلته یوازې د خوځنو ټورینو محققینو د نظریاتو لنډ یزورواندې کوم .

« د افغانستان تاریخ» د باختریانو په باب داوېړدې څېړنې په ترڅ کې لیکي :
... د غه نوي ژبني اسناد د یقیناً ستر اهمیت لري . او اوږ ترلږه شاهدي ورکوي چې د پښتنو په نژادجوړولو کې باختریان برخه لري . ضمناً امکان لري چې اتکل وشي د باختریانو ژبه د اراخوزیا او درنګیانا (۲) دلهجو یوه نژدې لهجه وه ... د افغانستان تاریخ لیکي : په دغه د ول د مرکزي اریا یانو په اساسي تشر کې د بېر پخوا د پښتنو د توکم په تشکیل کې باختریانو او ساکو (او په وروسته مرحلو کې یفتلیانو) برخه لراله خو د دغه ګډون او توکم جوړېدو نېټه او مرحله تراوسه په یقیني ډول نه ده معلومه . داسې اتکل اساس لري چې عیسوي (۱۱-۱۲) پېړۍ د پښتنو د توکم په تشکیل کې زیات اهمیت لري (۳)

۱ـ (د تاجیکي تطم له تاریخ څخه)(۱۲۰)او (۱۴۹) مخونه

۲ـ اراخوزیا ـ کندهار ، درنګیانا ـ هلمند ، سیستان .

۳ـ د افغانستان تاریخ ، لومړی توک (۲۱) مخ .

د یونسکو په مرسته د پښتو د ژبې او ادبیاتو د مرکز د جوړولو په سیمینار کې پروفیسر مارګین ستیرن د ۱۳۵۰ کال د لیندۍ په نهمه نیټه په خپله وینا کې په دې باب چې معاصره پښتو ژبه د باختري او ساکي له ګډون څخه پیدا شوې ده رڼا واچوله.

په همدغه سیمینار کې د ښاغلي مېکنزي د آریایي ژبو د ویش او طبقه بندۍ یو تابلو وړاندې کړه چې د پروفیسر مارګین ستیرن نظر یې تایید کړی او پښتو یې د باختري او ساکي څخه جوړه شوې ښودلې ده. په دغه نظر کې زما په خیال یو تشه او ابهامګري خوا شته (۱) خو بیا هم دا څرګند وي چې ساک او باختریان د اوسنیو پښتنو دوه مهمې څانګې دي.

د آریایي فولکلور څېړنه:

په اوېستا، ویدا او ور پسې وروسته په لیکلي «لکه د فردوسي شهنامه» او شفاهي ادب کې د لرغوني آریایي فولکلور ګڼ او ېلو خصوصیات توله ډ پروخت نه را هیسې د مورخینو او ژبپوهانو پام ځان ته اړ ولی دی لکه په شوروي کې آ. کریستین سن، و. و. برتولد، په فرانسه کې ي. بور نوف، بین. وتنیسیت، په جرمني کې ف. شپیګل، ف. ویندشمن، په انګلستان کې هـ. و. بیلي او نور.

---

۱ - د دغو نظریو ابهامګرتیا په دې کې ده چې د دغو پښتنو یاد یکی نشته چې په بوسي ډول په دې خاوره کې هسته او لرغونو مورخینو یاد کړي او باختریان او ساک یکې ور ګډ شوي دي.

څوګډ ارخونه :

په هندي(خصوصا ویدا) کې دتیارې دښامارسره داسماني رب ا لنوعه ځکره. په اریاني (۱) (په تیره بیا (اویستا) کې داژی‌دهاك سره داور د رب‌النوع ا ترا (atara)ځکره.

په هندي کې ددايمي ژوند ښښاك سوما — په اریاني کې (سوما) په ځای (هوما). په هندي کې د هسکوارباب الانواعو وارونا (Waruna)ا و میترا جوړه- په‌اویستا کې‌میترا. دهندي‌اوشانا —داویستا کوای‌اوسان(Kavayusan) (کیکاوس) په‌هندي کې‌سومراواس sumrawas- په‌اریاني کې‌کوای خوسروه (کیخیسر) اوداسې نور.

څوبیل ارخونه:

په‌لرغوني هندي فولکلورکې (دیو)دیوه سپېڅلي ژوند بخښونکي‌موجودنوم‌دی خوپه‌اریاني فولکلور کې(دیو) بوناوړه، ضرررسوونکی موجود دی، با لعکس په هندي کې (اسورا) ددیواوضرررسوونکي موجود نوم دی‌خو په‌اویستا کې داهورا مزدا په مشري خیر رسوونکي‌ارباب‌الانواع دي‌او داسې نور (۲)

۱- د پښتو ژبې او ادب څېړ نې‌په سیمینارکې یومعقول پیشنهاد وشو چې چاردنه کړ پېشنها د داسې و (دایراني ژبواو توکمونو) په ځای دي(اریاني) استعمال شي .

۲ — دتاجکي نظم له‌تاریخ څخه (۸۶)مخ

په اوېستا او دري(پارسي) ادب کې د کيومرث افسانه :

محققين وايي چې د باختر يانو حماسي قصې داوېستا په متنو نو کې منعکسې شوي دي. يو ه له دغو حماسو څخه بنايي د کيومرث ار غو ني با ختري قصه وي چې لومړی اويستا اوبيا وروسته فارسي (دری) ادبياتو ته ننوتې او په بېل بېل رنګ سا تل شوې د ه. له دغې حما سې ښکاريږي چې با ختر يا نو خپله خاوره دلو مړی انسان د پيد ا يښت ټاټو بی باله .

داوېستا په بونداهېشن کې دنبات نه دانسان دلومړي پيدايښت (يا کيومرث) قصه چې دګايه مرتن (Gayamartan)په نامه يا ده شوېده د اسې ده:

ګايه مرتن د (خپلې) مړينې په وخت کې تخم پريښود . تخم د نمرد وړانګو په ګرزيدو سره پا ك شو. څلو ښت کاله (وروسته) پنځلس کلنه يونا ريزه د ريسا قه پنځلس پاڼيزه ښه ی (رواش) له ځمکې زر غونه شوه د به اسې ډول چې ددوی (دوه) لاسونه د غوږونو سره و و او يوه نښتي تنه يې جوړه کړی وه ، دوی په يوه ښه ا و يوه شکل وو ا و دتنې په منځ کې سره يوځای شوی وو.

بيا هر يوه له نباتي شکل څخه انساني شکل ته وده وکړه . دوی بيا په ماشيا او ماشيانا (متره اومتروياانا) په نامه و بلل شو ل ، په ګرزېد لو او خوړ لو بې پيل وکړ ، د دوی نه دانسان توکم پيداشو .(۱)

د کيومرث افسا نه بيا د متخنيو پير يو په عربي او پارسي ادبياتو کې زياته منعکسه شوه لکه د طبري په (تاريخ الرسل والملوك) دثعالبي په (اخبار ملوك الفرس وسيارهم) دالبيروني په (الاثار الباقيات عن القرون الخاليات)، دفردوسي په (شهنامه) او داسي نور.

۱— «دتا جيکي نظم له تاريخ څخه » ۱۲۰ — ۱۲۱ مخونه

دالبیروني په قصه کې دغه افسانه ډېر لرغوني خصوصیات لري چې (کیومرث دري زره کاله په جنت کې واو بیا زمکې ته راکښېووت او هلته هم دري زره کاله ترهغه ژوندی وچې داهریمن په خیره بدی او بدکارونه لانه و وپیدا شوی. دآهریمن زوی بیا په کیومرث پېښ شو، هغه یې وواژه، اهریمن بیا کیومرث و واژه دکیومرث له پوښتیو دوه څاڅکي توی شول له هغو پېښېدوه بوټي شنه شول. د نهمي میاشتي په پای کې په پښبوکې دوه غوټی ښکاره شوې. چې هغه سره یو ځای شوې اودا دانسان لومړی جوړه وه. پنځوس کاله ترهغه دوی ژوندی وو ترڅو چې اهریمن دبو دا په خیرورنږدی شو اودوی یې تېرا یستل.

دوی د هغه په لمسون میوه وخوړه سره یو ځای شول او خلک ترې وزېږ یدل.

البیروني لیکي: د کیومرث نوم (گرشاه) و. (گر) په پهلوي کې (غره) ته وایي اوده په غره کې ژوند کاوه (۱)

د بلعمي په (مجمل التواریخ) کې داقصه داویسنا بوندا هېښن ته ییخي نږدی ده. دفردوسي په شهنامه کې کیومرث د یوی هیولا او یوه عظیم الجثه انسان په حیث ترسیم شوی چې خلک یې په غرو نوکي له تورو سمڅونه د یوه خیر رسو نکي په حیث په ښارو نوکې کورونو ته وویستل (۲)

طبقات ناصري په دې باب لیکي چې لنډه یې دادی:

د کیومرث په نسب کې اختلاف زیات دی. ځیني وایي د سام بن نوح

۱ـــ د اکلمه زما په نظر (غرشاه) پښتو ده ترکیب یې هم پښتو دی. ښا یي پهلوی ته نقل شوی وی

۲ـــ د تاجکي نظم له تاریخ څخه ۱۲۰ ـ ۱۲۲ مخونه

له او لا دی دی اونوم یې اسیم بن لاورد و [۱] په نړۍ کې وګرزید، په یې نومه شیا نویې نوم کښو داودنړۍ په کرنه اوودانۍ کې یې زیار وویست. دیرش کاله یې حکومت وکړ. د زوی نوم یې سیشی، د زوی زوی سیامک د سیامک زوی فراواك اود هغه زوی هوشنګ و... (۲) او په دغه صورت مو ووینو چې یوه باختري افسانه په نورو ادبیاتو کې څرنګه منعکسه شوې ده.

دارباب قصو دویمه سلسله:

دارباب قصو دویمه لړۍ ساکی افساني دي چې مهم اتلان یې رستم، زال زرینه ساکه تومیریس (Tomiris)اونور دی. د د غو اتلانو نومونه د اویستا متنونو ته نه دی ننوتي، ځکه چې ساك لمرپرستان وواو زردشتیانو ورته په ښه نظر نه کتل، خود ساکی اتلانو حماسې د نورو اتلانو په نامه د اویستا په وروستیو متنونو کې ثبت شوې دی.

که څه هم د ساکی اتلانو نومونه په آویستا کې نشته خو لرغونو مورخینو د دوی په باب ډیر روایتونه پریښي دي چې په دې باب د هیرو دوت تاریخ په خاص ډول د یادوني وړ دی.

د ساکی اتلانو په جمله کې یو هم رستم دی. د رستم نوم په (بهمن یاشته) کې د روتستهم (Rostathom) په نامه د عر بو تیری کوونکو سره د یوه مبارز شخص په حیث ثبت شوی دی. په (یادګار زریران) او (درخت اسوریك) پارتیاني قصیدو کې هم د غه نوم لید دی. د سنځي پارسي په (شهنامه ایران) کې رستم د سیستان دوا کمن اود فراه او زابلستان

---

۱ - د پښتنو په باب د هغې افسانوی نسب نامې سره زیات ارتباط لري چې سامي یې ګڼل .

۲ — طبقا ت ناصري لومړی توك د تاریخ ټولني چاپ ۱۳۴۲ کال.

د ښارو نو و دانو و نکي بلل شوی دی (۱) دفرد و سي دشهنا مې یو محبوب هیر و او د هغه افسانې په پښتو او دری کې ز یات شهرت لری. دسا کو دېرې حماسي لرغو نومو رخینو په خپلو اثا رو کی سا تلی دی چې یو هم د شیر ک حما سه ده چې پولیین (Polien)(دگرېي چلو نه) په نا مه په خپل کتا ب کی د رج کړې ده . حما سه داسې ده:

د هخا منشیانودپا چا لو سرېدارا په خلا ف دسا کو دقیا م (۵۱۳ ق م) په و خت کې یو سا کي میتر (اس سو ار) په داسې بد حا لت چې غو ږو نه او یو زه یې غوڅ شوی و و د پار سیا نو په سنگر و رننوت. دا سړی شیر ک (Shirak) نو میده ه.
شیر ک د خپل قو مله لا سه سخت شکا یت و کړ چې له ده سره یې د اسې سخت چلند کړی دی. اود غچ اخیسلو له پاره یې پا رسیا نو ته د هغې لا ر ې د ښو ولو وعده و رکړه چې د سا کو سنگر ته تللې و ه .له ا و و و رځو ستړی کو و نکی لا رو هنې و ر و سته یې دپارسیا نو لښکر یوې و چې او سپېرې د ښتې ته و و یست.
هلته معلو مه شوه چې شیر ک په خپله ځا ن په د غه حا لت کړی ا و دار ایې غو لو لی دی. کله چې دپا رسیانو دلښکر مشر ان په دغه ر از پوه شو ل دشیر ک دو ژ لو گوا بښ یې و کړاو و ر نه یې وغو ښتل چې دوی بیر ته له دښتې و باسی .
شیر ک له دغه کار ه انکار و کړ او د ور وستی سلگی په و خت کې یې و و یل زه بریا لی شو م ځکه چې زماد هیوادو الو سا کو د یې و ژ لی نه پارسیانو کر که کوله ، ماله تندې او لو ږې و وژل (۲)

۱- د تا جیکي نظم له تا ر یخ څخه ۱۳۰- ۱۳۱ مخ نه

۲- « « « ۱۳۳-۱۳۴

نامتو ستيره ليکونکي لو کيا ن (lukian) (دو يمه ميلا دی پيری) د ساکو د دوستي پا لنې په باب ډ يرې قصې ليکلې او څرگند وي چې د غه ر وحيه په ساکو کې ډ يره قوی وه، په د ی تر څ کې بې د غه سا کی متل هم ا خيستی چې وا يې .له دې ز يات خجالت نشته چې په دوستي کې څو ک خاين څرگندشي (۱) د سيسلي او سيد و نکی د يو د و ر (diodor) د سا کو د ملکې زرينې (zarina) په باب قصه کوی او وا يی د سا کو ښځې ډيرې ز ړ ه وري دی او جگړ و ته د خپلو ميړ و نو سره څنگ په څنگ روا نې وي، خو ز رينه له نو رو ټو لو سا کی ښځو څخه ډ يره ز ړ ه ور ه د ه، د ی خپل قو م د گا و نډ يو دغلا مۍ نه خپلوا ک کړ ، ډ ير ښا رو نه يې و د ا ن کړ ل او دخپلو هيو ادوالو دودو نه يې اسان کړ ل. دد ې له مرگه و روسته سا کو په دې با ندې د هر م په ډ ول يو قبرجو ړ کړ چې ذ ژ د ې څلور نيم سوه متره پراختيا لري يو نيم سل متره لوړ وا لی. هغوی و ر با ندی د سرو ز ر و لو يه مجسمه در و لې او هغه ته ئې دو ی دا کارد خپلوا تلانو سره کوی، خو د زرينې د ر ناوی له هغو ټو لو زيات کوی (۲) داو ه د پښتنو د يو ې څا نگې سا کو ژ و ند او فو لکلو ر ته يو ه کتنه په پای کې با يد وو ا يم چې دا هيو اد دفو لکلو ر او تمد ن څا نگوا و دلته ډيرې ار يا يي ژ بې (او د يا ليکتو نه) ز يږ يد لی ، لوی شوی، هر ه ژ به څا نته او لسی سند رې ،فکې هيا ت ،متلو نه او ا فسا نی لري . د هغو ر ا ټو لو ل زمو ږ د ټو لو

---

۱ - (تاجيکی نظم) .... ۱۳۵ مخ

۲- » » » ۱۳۳ مخ

ظیفه ده چې د غه لرغو نی ملی امانت را غو نډا و د کتا بو نو په پا ڼو کې یې د تل له پاره خو ند ي وسا تو .

د کو م هو ښیار سقو له ده: (کوم او لس چې پرو ن نه لري هغه نن او سبا هم نه لري)

د «نن» او «سبا» د کولتوري بر م له پاره د «پر ون» د بر م سا تل یو ضر ور ي کا ر دی .

زموږ ټو لنه د مثبت تحو ل او بد لو ن خو اته ر و انه ده ، د دغه بدلو ن په جر یان کې دلیك او لو ست لمن پر اخیږي . د دغه حیاتی نعمت په ښنګ کې د او لسي اد ب لمن هم څه نا څه پسخ په تو لیدو ده . دا د ټو لو هیوا د پالو لیکوا لو او خیر و نکو کا ردی چې په دی باره کې خپل ز یار و نه ژ غوري .

اولسي ادب ته د نړیوالو پام

په ټول ختیځ کې عموماً او زموږ په هیواد کې خصوصاً په فني ډول اولسي ادب ته پاملرنه او د فولکلور راټول ډېر اوږد تاریخ نه لري، خو په لوېدیځ کې له یوې نیمې پېړۍ نه راهیسې ورته زیاته توجه شوې ده.

د هر اولس فولکلور د «لیکلي» ادب په اندول د عمر په لحاظ دومره پخوانی دی چې حتی د ماکسیم ګورکي خبره «د لفظي هنر پیل په فولکلور کې دی»، خو د فولکلور د څېړنو له مخې د لیکلي ادب نه ډېر کشر او نژدې زموږ همزولی دی.

په لوېدیځه نړۍ کې نه یوازې دا چې د فولکلور په (مجموعي) څېړنو او راټولولو باندې په هر هیواد کې لوېي لوېي علمي ټولنې او اکاډمۍ مؤظفې دي بلکې د فولکلور په هرې برخې «متلونو، افسانو، سندرو، او نورو» ډېر پوهان او محققین کار کوي.

دا څېړنې نه پخوا البته په ذوقي او نا منسجم ډول کېده خو په سیستماتیک او علمي ډول له ۱۸۴۶ ع کال څخه راهیسې په لوېدیځ کې پیل شوې او بیا وروسته د نړۍ په نورو برخو کې هم وخت په وخت پیل شوه، علمي موسسې یې

په ځیرنه او تولو سوظفي شوي ، دنثري پوهنو په بوونځیو کې د درسي مضمون په حیث ځای ور کړ شو ا و دخپر ولو دپاره يې مجلوا وجريده و په کار پيل و کړ.

زموږ په هيوا د کې :

په منځنی آسيا کې عموماً او زموږ په هيوادکې خصوصاً داسلام دخپر يدو سره يوځای دعربي ژبې دنفوذلمن پراخه شوه او په (۷۰۰-۷۰۱) ميلادی کلونو کې رسمي ژبه شوه . له دغه وختهدسخه سوږ دپښتو دليکلی ادب په باب دېر بډای موادنه لرو خوله دغه وختهو روسته ورو په ورو ديونا ني الفبا اساس (چې دکر يکويا ختر په عصر کې منځ ته راغلی و) عربي الفبا وينو او دپښتو ادبيات له يوه ځخه بل ته په شفا هي ډول نقل کيدل او په سينو کې خوندي ساتل کيدل(۱).دغه جريان دپښتو ادبياتو دپراختيا مخه ونيوه خو دژبې دسوچه سا تلوسره يې مرسته وکړه

داولسي ادب له قصو که تير شو دپښتو عام اولسي ادبيات ا وس هم په سينو کې ساتل شوي دي او دوسره زيات کارورته نه دی شوی. په تيره بيا په اولسي ادبياتو علمي او نسبتاً سيستما تيکه څيړنه خو بيخي ا وسني ده .

په دی باب لومړی توجه موږ په (۱۳۱۶) کال کې درك کولای شو چې داوسنی پښتوټولنی سلف (ادبی انجمن) په عملي لحاظ اولسي ادب ته کړې ده .

---

(۱) دافغانستا ن ژبې او تو کمونه (۳۲-۳۳) مخونه

په دغه کال کې ادبي انجمن په پارسي ژ به په (۲۴) مخو نو کې يوه رساله خپره کړی او د هغې په مقدمه کې يو ځای ليکي :

(...له همدی اصله دادبي انجمن په نوی تشکيل د غوموضوعاتو «فولکلو-ريکوموضوعاتو» دتدوين له پاره يوه ځانګړې څانګه جوړه شوه او موږ په دغه کار و ګمارل شو ...)

په دغه رساله کې يوازې دفولکلوردپاره يوچوکاټ جوړشوی او د فولکلوريکو موادوتولول دخلکو په غاړه اچول شوي دي. او په دغه صورت موږ ګوروچې همدغه وظيفه لومړی ادبي انجمن او بياوروسته د پښتو ټولنې په غاړه وه خو ډير کلونه يې عملاً کوم کار نه دی ليدل شوی .

بياهم په دی باب زماپه خيال زموږ په هيوادکې د دغوآثارو نوم دياد ولو وړدی :

۱–دپښتو لنډيو مجموعه د محمدګل نوري له خوا په (۱۳۲۲) کال کې

۲–پښتني سندرې دوه ټوکه دپښتو ټولنې له خوا (۱۳۳۴ – ۱۳۳۵) کلونه

۳–پښتني دودونه.پښتو ټولنه ۱۳۳٦ کال (يوازې دودونه دی – ادب نه لری)

۴–«دپښتنو دودونه »ليکونکی غلام محمد دفولکلور او ادب د آمريت له خوا (۱۳۵۳) کال

۵-دهوتکو نارې دحبيب الله رفيع له خوا (۱۳۴۹) کال

٦–دخلکو سندرې دحبيب الله رفيع له خوا (۱۳۴۹) دغه اثر دمنظومو موادو په لحاظ تقريباً هر اړخيز دی .

۷–«پښتو قصې» پښتو ټولنه –۱۳۳۱ کال .

په لړه پښتو نخوا کې په دې باب ښاغلی سیال کاکړ په ر ښتیا سرچې ډېر زیات زحمت و یستلی او ډېر آثار یې خپاره کړی چې دغه څوېې‌زما لاس ته راغلی دی :

(پښتني فولکلور) –کوټه ۱۹۶۹ کال ، (ملي ادب) کوټه ۱۹۷۲ کال، (غاړې) کوټه ۱۹۶۹، (کاکړی) کوټه ۱۹۷۲ کال ، (فولکلوري‌طب) کوټه ۱۹۷۳ کـال همدارنګه د (کاکـړ ی لنډۍ) صاحبزاده حمیدالله پېښور ۱۹۶۷ کال .

(دمروتو کسرونه) دعبدالرحیم مجذوب‌له خوا پېښور۱۹۵۹ کال.
او (ملادو پیازه او بیربل)دپېښور چاپ‌دولی‌محدله‌خوا‌تو کې (فکاهیا ت) هم‌دیادولو‌وړ دی .

البته دقصو او داستانونو له خوا دپښتو اولسي ادب ډېر بډای دی او تقریباً دپښتو دلیکلی لاس ته راغلی ادب نه حتی په لیکلی ډول ډېر کشرنه دی .

دپښتو داولسی ادب دخپرېدلو په باب ځینو مستشرقینو نظر یې ورکړی دی‌چې دلته یې راوړل بیځا یه نه دی (۱)
دتاریخ په شهادت داقتصادي ،سیاسی او کولتوري‌پراختیاسرسم په‌میلا دي (۷–۱۰)پیړیو کې دپښتنو ځیني ستر قبایل دسلیما ن غرونو په سیمو کې

۱–دپښتونستان ادب چې (نه ایل کـېدونکي اولسي‌ادبیات) نو میږي (۹–۱۰) مخونه .

میشته وو (۱) په (۱۱-۱۲) پېړیو کې له خپل ټاټوبي څخه د شمال، ختیځ او جنوب خواته خپاره شول او د غزني، کندهار په غرنیو سیمو د پښتو ر په ناوه او دا ابا سین په پاسني پراخو ساحو کې خپاره شول. د جغرافیوي واټن له پلوه الي پښتو په دوو سترو (ختیځو او لویدیځو) لهجو وویشله، خو د دوی ترمنځه سیاسي او کولتوري نژدې اړیکې موجود وو.

د دوی ژبه په اولسي ادب بره بیخي بډایه او د فولکلور هر ډول اقسام بې په پوره اندازه لرل چې دغه موضوع د پېرو محققینو څېړلې ده. د جغرافیوي واټن سره سره د دوی د فولکلور په نژدې والي باندې والي کې ستر رول هغو پوونده و قبایلو لوبولی دی چې د پېرو پېړیو په جریان کې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د مالدارو یا سوداګرو په ډول په ډول کوچېدل. د فرانسوي پښتون پېژندونکي جارج ډار مستتر په عقیده (د پښتنو د ریبیتوار «هنري ننداری» پوهوالي او وحدت د هغو څلو پښتو زرو پوونده و په ذریعه منځ ته راغلی دی چې په کال کې دوه ځله د کاروانو په ډول له سلیمان غرونو څخه تېرېږي او له منځنۍ آسیا څخه په تجارتي مالونو باروي.) د ختیځ د نورو پرخو په شان د پښتنو په ښارونو او کلیو کې بازارونه بیخي ژوندي سیمې وې. په دغو سیمو کې پوونده و

۱- وروستي پلټنې د پښتنو پوازینۍ ټاټوبی د سلیمان غرونه نه ګڼي بلکې موجوده پښتانه د ساکو تخاریانو او د سلیمان د غرونو د او سېدونکو مجموعه او د ژبې لجهوي و یش د دغه ګډون پاتې شوني دي. په دې باب د (الغانستان ژبې او توکموڼه) د پښتنو، ساکو او تخاریانو پېژندنه وګورئ.

هغه انساني او سندري خپلو هيوادو الوته رسولي چي د پښتنو په بله سيمه کي به يي او ريدلي وي او د سيمي او ريدونکي به تري خبر نه وو او په تدريج سره به د اولسي ادب يوه برخه په دوى کي د اسي خپره شوه لکه په هغه بله سيمه کي . د او ريدونکو علاقه له دي سره نه وه چي دا فولکلوري قصه چيرته او د چا په ژبه جوړه شوې ده ، بلکي هغوى به د اسي ګڼله لکه خپله.

د مثال په ډول: ديرو خت د کندهار او سيدونکو خيال کاوه چي د ادم خان او درخاني مشهوره قصه د دوى په سيمه کي تيره شوي ده. حال داچي د قصي تاتوبى په حقيقت کي له دوى څخه ډير لري ، د يوسفزيو د قام د سوات ښكلي سيمه وه او له هغه ځايه په ټولو پښتنو کي خپره شوه. (۱)

داوه د پښتنو د اولسي ادب د خپريدلو او وحدت په باب نظريه .

---

۱ — د پښتونستان ادب (۱۰) مخ .

فولکلوریک او لیکلی ادب

د بشر د ډېرو لرغونو هنرونو په کتار کې ډېر مهم ځای لفظي هنر نیولی دی چې په هغه کې لفظ او عبارت د مفهوم په افاده او استفاده کې اساس دی. لفظي هنر دوه لارې لري:

الف: اولسي ادب (فولکلوریک ادب)

ب: لیکلی ادب. فولکلور او ادب څه بېلوونکي او څه ګډوونکي خصوصیات لري. اولسي ادب چې د بشر د هنر پیل له همده څخه شروع شوی دی تاریخ یې د بشري ژبې د فورم او تشکل سره د لومړنۍ څخه پیل کېږي، حال دا چې د نړۍ د لرغوني لیکلي ادب تاریخ له دېرشو څلوېښتو پېړیو څخه تېری نه کوي.

د لیک د پیدایښت نه ترمخه یوازې فولکلور و چې د بشري ټولنو ادبي تنده یې ماتوله. ادب د لیک د ظهور نه وروسته تشکل وموند او د خپلې ودې پوړۍ یې ووهلې. دلته د فولکلور د جوړوونکي او ویونکي ځای خپله لیکوال او د اورېدونکي ځای لوستونکي ونیو.

پخوا به که د یوه روایت، افسانې، سندرې اورېدل لازم وو یا یو قصه خوان، راوي او سندرغاړی موجود وای. خو د لیک اختراع او د ادب پیدایښت دا مشکلات له منځه یوړل.

دلیک او لیکلي ادب پیدایښت او پراختیا دبشریت د راتلونکی کولتوري او اجتماعي انکشاف په لاره کې ستر خدمتونه و کړل .

د لیک او بیا د کتیبو او و روسته د کتابونو ظهور هغه لوی زماني او مکاني واټنونه له منځه لرې کړل چې دلیکوال او لوستونکي ترمنځه موجود وو او داسې شوه لکه لوستونکی چې دلیکوال معاصر او ورسره په یوه ځای کې وي او دېرېو زماني واټن او د زرګونو کیلومترو مکاني فاصله له منځه لاړل . په حقیقت کې دلیک د پیدایښت سره بشریت و رو ، و رو یو بلې نوې ادبي نړۍ ته داخل شو ، خوددې ټولو سره دلیک او لیکلي ادب ظهور او انکشاف ددې سبب نه شو چې اولسي ادب او فولکلور ختا تمه و مومي ، بلکې فولکلور دبشریت په بیلو بیلو ټولنو کې په بیلو بیلو فورمونو موجود دی او موجود به وي .

فولکلور او اولسي ادب هم ځانته ډېر خصوصیات لري چې هغه په لیکلي ادب کې نه شته . کلمه چې دلیک دعلامو په قید کې راغله د افادې د هغو ډېرو ذریعو څخه محرومه شوه چې د فولکلور و یونکي ، راوي ، ممثل د افادې او اخبار په وخت کې ورنه کاراخلي لکه درواېت په وخت کې دلاس ، سر ، شونډو او نورو ښورول ، کلمه ، جمله ، متن ، په خاصه لهجه او خاص څېج اداکول او په بیلو بیلو لارو او ویدونکي پرې پوه کول .

بله داچې لیکوال دلوستونکي په واک او اختیار کې نه دی ،، د موضوع او دافادې د طرز په باب هغه ته دلوستونکي ذوق ، دفهم سویه ، او شرایط نه دي معلوم خو د اولسي ادب سندرغاړی ، قصه خوان ، راوي د اوریدونکي

سره دمستقيمې رابطې لرلو په برکت ديوه فولکلو ريك اثر په اجراکې دهغه ټولې غوښتنې په نظر کې نيولای شي .
د فولکلوريك اثر او ريدونکی داسې دی لکه په فولکلورکې برخه اخيستونکی ،په دی معنی چې ديوه فولکلوريك اثر په باب د هغه تشريح يادونه ،فتح غوښتنه ، همدارنګه د هغه ترديد، موافقه ،تا ئيداو نور په فولکلورکې يوه بلهمعنا اضافه کوي .
البته دليکلي ادب په مناسبت فولکلور هم ځينې نيمګړتياوې لري لکه دمؤلف مجهوليت ،دوخت په تيريدو په متن کې بدلون.
لکه چې تجربو ښوولې ده داولسي ادب سندرغاړی ،قصه خوان ، اجرا کوونکی يو متن تکې په تکې نه شي ساتلای ،ډير ځله دهغه عنعنوي کلمې، ترتيب ،قافيه ، وزن ،او نور دخپل ذوق ،خپل فهم او خپلې حافظې سره سم اړوي .مثلاً که يو فولکلوريك اثر (لکه دادم خان او درخانۍ قصه) له مختلفو لاروو پلټو ديوې منبع متن به اروسرو دبلې منبع د متن سره ټو پيرو لري .
له دغه ځايه ويلی شو چې: ليکلي ادبي اثر يو ځل جوړيږي او په پيړيو پيړيو به خپل حالت کې پاتې کيږي او دفولکلوريك اثر به بدلون کې ډير راويان لاس لري .ليکلي اثرابتکا ر اوفولکلوريك اثر تکراروي . په کوسوتيولنوکې چې خو مره ليك او ليکلي ادب عاميږی هماغو مره دفولکلور تله سپکيږي .
بيا هم فولکلور جهاني ادب دي په دی معنا چې هرې ټولنې در لوداو لري ىې ،خو ليکلي ادب يوازې دباسوادو خلکو دخدمت له پاره دی.
دلته يوه بله خبره هم په زړه پوری ده او هغه داچې :

PROPERTY OF ACKU 1518

لیکلی ا د ب همیشه داولسي ادب داغزې لاندې راغلی دی .
که سو په عام ډول د نړ د کلاسیک ادب ستر شاعران او لیکوال لکه (پوشکین ،سر وانتیس ،سعدی ،شکسپیر ، گویټه) او په خاص ډول د پښتو کلاسیک ادب دپیاوړو شاعرانو لکه (خوشحال خان خټک،رحما ن بابا ، حمید) آثار ولټوو په هغوکې به ډېر متلونه ،دفولکلو ر یکوقصو روح او مضمون داولسي ادب دهیرو یانونوسونه ا ونو روسو .

داسې هم کیږي‌چې دلیکلي ادب‌ځینی برخې او عناصر اولسي اد ب ته ورننوځي ،خو بیاهم په فولکلو ر باندې دلیکلی ادب‌داغزې‌په اند ول‌په لیکلي ادب باندې‌دفو لکلو ر اغیزه زیاته ده .

فو لکلو ر دیوې‌ټولنې‌په غیږکې زیږي ، و ده کوي‌او لو یږي ،د هغو ځانګوله هر څه زیات دټولنې لاند ینۍ او بې سوا ده پوړ دی .

لیکلی ادب داولس په لوړپوړکې زیږیدلي اولوی شوی دی .په نړۍ‌کې مترقی او هومانیستو لیکوالو اوشا عرانو د خپلو آثار و په لیکلو کې همیشه لاندیني پوړته مخ اړولی ، دهغه ژوند او روح یې عکاسي کړی او دشفاهي اد ب څخه یې متا ثر شوی دی .

لیکلی ادب په ځینو ملحوظا تو شخصي ما ل دی:
مؤلف یې معلوم ، نوم یې خو ندي اوحق یې محفوظ و ی
دَ فو لکلـو ر یك ا ثر مـؤ لف کـه څه هم لومړ ی یو شخصی وي خو هغه او دهغه نوم هیراو اثر یې دټو ل او لس دژبې مال‌وي.
ځینې‌اولسي آثار (لکه ټوکه ،ټکاهې، لنډه قصه) کله کله یو‌شخص

(شیخ چلی ،بربل، ملادوپیازه، ملانصر الدین او نورو) ته منسوبیږي خو د غه نسبتو اقیمت نه لري، بلکې دخاصو شرایطو او ملحوظاتو زیږنده ده، په دې معنا چې :
بوراوي غواړي خپل روایت مستنداو مدلل کړي نو دهغه د پاره ماخذ پیداکوي او یا داچې یو څوک چه په فکاهیاتو مشهوروي نو دهغه نا سه ته یوه توکه منسوبوي چې دهغه دنامه یادونه یې خوند زیات کړي .
داولسي ادب او لیکلي ادب یو بل مهم توپیر دادی چې په لیکلي ادب کې بو لیکوال کوشش کوی چې په معیاري او یا په نسبتاً معیاري او منل شوې املا او انشاء افاده وکړي ،دې دخپل چاپیریال دد یالیکتیکوا و لهجوی خصوصیاتو له قیده ځان وباسي او دژبې له نسبتاً منلو شو یو نورمونو نه کار اخلی .اولسي ادب له دغه قیده او شرطه وتلی دی او خپل لهجوی او دیالیکتیک خصوصیات ساتي ،دژبې داقلیمي او جغرافیوي شرایطو د توپیر اغیزه ورکې څرګنده وي .مثلاً دیوه شي د پاره د ژبې په یوه لهجه کې خاص نوم موضع وي چې دتولنې په نوروسیمو کې ورته بل نوم اخلی ، یاسیمه ئیز خاص بوټې، مرغان، خزنده یادژوند تاکلی وسایل وي چې د تولنې په نوروسیمو کې نه وي او دغسې نوموله د دوی لولکلو رته ننوتې وي چې دتولنې دبلې برخې (یابرخو) خلک پرې نه پوهیږي.
مګر په لیکلي ادب کې لیکوال عموماً هغسې عبارات اولغات استعما لوي چې دتولنې دهرې برخې او سیدونکي بایدپرې پوهشي او که نه! دادلیکوال مجبوریت او عمومیت کموي.
په بل عبارت داولسی ادب ژبه دلیکلي ادب له پاره دخامومواد و حیثیت لري :
بو لیکوال له اولسي ژبې او ادب څخه خام مواد اخلي او هغه په لیکلي ادب کې بڼوي.

په فولکلور کی ملیت او بین المللیت

د هرې ټولنې فولکلور او اولسي ادب د هغې د ملي کولتور او ملیت مهمه هنداره ده. د هر ولس سندرې، نکلونه، افسانې د دوی د پیړیو پیړیو مبارزو، هیلو، خوښیو، خواشینیو د هاغه ملي روح ښکاره ګندوی دی چې د زرګونو خولو وتلي، په زرګونو غوږونو ننوتلي او په زرګونو سینو کې ساتل شوي او ملي رنګ او صبغه یې ساتلې دي چې د ملیت له خصوصیاتو څخه ګڼل کیږي.

د دغې ملي صبغې په څنګ کې فولکلور بین المللي صبغه هم لري په دې معنا چې که د پښتو یوه حماسه یا افسانه په نظر کې و نیسو هغه به کټ مټ او یا په بیخي ورته مضمون او روح د نړۍ د نورو اولسونو په فولکلور کې هم ومومو. په دې باب مثلاً د روسي ژبې فولکلوریستان د جهاني فولکلور له پرتلنې او مقایسې له وروسته دې نتیجې ته رسیدلي چې د روسي ژبې د فولکلور یو کوا ثار و د مضمون او روح دوه دریمې برخې د نړۍ د نورو اولسونو په فولکلور کې موندل کیږي او باقي یوه دریمه برخه یې هغه د عنعنې له مخې دومره لرغونې نه ده او

اکثره یې د هغه اولس د ژوند او ژبې په ورېاره لري . (۱)

د فولکلور د «د غه بین المللیت» د نړۍ د یا "فولکلور پېښتانو" سره دا اکثر پېدا کړي دي چې د فنلندي فولکلور پوه انتي آرني (Antti Aarne) د پېښتنها د شوی سیستم سره سم په دې باب څېړنه وکړي(۲) د غه سیستم کله کله د (ارنې-تامپسن) په نامه هم یادېږي چې د حماسي سندرو او افسانو په باب د (آرنې) سره په یوه وخت کې امریکایي پوه (ک.تامپسن) هو لار بود څه ور کړه.

د دغې لاربوونې په رڼا کې د فولکلور معاصره پوهنه د فولکلور د بین المللي کېدو د پاره دېر عوامل په ګوته کوي چې مشهور او مهم یې دا دي:

۱ - په ځینو تولنو کې د فولکلور یکو آثارو ګډون او باورته والی د تاریخي خپلوۍ له امله وي په دې معنا چې د خپلو اسلافو څخه یې د تاریخي میراث په شان او یا په لیږدو او بېلتون سره ساتلي وي-لکه داریایي توکمونو د فولکلور نژدېوالی. دا (تاریخي نسبي ورته والی) نومېږي.

۲ - بل ستر عامل یې تاریخي کولتوري عمل او تعامل دی چې د تولنو د ګاوندي توب له امله له یوې ګاوندۍ ژبې نه بلې ته ترجمه او هلته د سکنیو اثارو په شان دود شوی او منل شوی وي. په هغو تولنو کې چې وګړي یې دوه ژبي یا څو ژبي وي او یو توکم د بل په ژبه پوهېږي (لکه په افغانستان کې پښتو ژبي او دري ژبي) هلته د یوې ژبې فولکلوریک اثار په اساني سره په بله ژبه کې خپرېږي. (فردوسی په

۱-دروسی ژبې اولسي ادب ۳۲-۳۳ مخونه.

۲-دده کتاب لومړی په ۱۹۱۰ بیا په ۱۹۲۸ کې او وروستی په ۱۹۶۱ کې په هیلسنکي کې چاپ شوی

په خپله شهنامه کې د پښتو دیوې لهجې (ساکې) نه د رستم او زال حماسي فولکلوریک
نکلونه په اسانۍ سره واخیستل.)

۳ــ بل ستر علت یې په یو شان شرایطو او دطبیعي یو شان پیښو په مقابل کې د سره ورته ټولنو دیو شان درک، فهما و عکس العمل له امله په ځانګړي دول د فولکلوریکو اثارو پیدا ښت دی چې دې ته (تاریخي توپولوژیک) ورته والی وایي

دشوروي تکړه فولکلوریست و. م ژیرمونسکي چې په وروستیو څو کلونو کې یې د اسیایي او اروپایي اولسونو اولسي حماسي اثار په پراخه اندازه سره مقایسه او پرتلنه کړې دي داسې وایي: دبیلو بیلو اولسونو داولسي حماسې سره ورته والی یوازې په دغېو پېښو اجزاو کې نه محدود دیږي چې دغینو پخوانیو څیړونکو پام یې ځانته اړولی دی، بلکې هغه دپرپراخ، ژور او هراړخیز خصوصیت لري چې په ټوله موضوع شامل وي، دهغه مضمون، ایډیا، حماسي اړخونه دملي اتلانو دجګړه ماري ایډیا، دعاسلو خیر و ښیو نه، داتلولۍ او قهرمانۍ څرنګوالی دمضمون دجوړولو ترتیب، حماسي خاص سبک، مخصوص چاپیریال او د ژوند خاص حماسي شرایطاو داسې نور سره ورته والی لري. (۱)

دفولکلوربین الملليت یو بل مکتب هم شته چې هغه د «کریم(Grium)د ورونو د افسانو مکتب په نامه یادشوی دی.

ددغه مکتب پیروانو خیال کاوه چې داهندو اروپایي بیلو بیلو اولسونو دافسانو هر دول ورته والی له دې امله دی چې په اهندو اروپایي افسانو کې

۱ــ روسي اولسي ادب ۳۵ــ ۳۶ مخونه.

د هغو ستو او سر چینه سره ګډه ده. د غې نظر یې په روسیه کې هم پیروان لرل لکه ف.ی. بوسلایف، ا.ن. افناسیف او نو ر. (۱) خو څرنګه چې دا نظریه تیوریک محدودیت زیات لري دومره جهان شموله نه شوه.

دارني او اندرسن د فنلندي مقایسوي مکتب پیروان د فولکلوریکو اثارو ګډون په یوه اولس د بل د اغیزې، مهاجرتونو او له یوې سیمې نه بلې ته د کوچ او لیږ د له امله بولي.

د انترو پولوژیک مکتب پیروان (ا.تایلر، ی .لینګ) او نور د فولکلوریکو آثارو و رته والی د دوی ځانګړې زیږنده بولي، منبع یې له هر څه د مخه د بشري روحیاتو د اساسي څرنګوالي ګډون او شراکت ګڼي. دوی وایي فولکلوریک تکرار او د هرې پیښې ورته تیبونه کیدای شول په یوه وخت کې په ځانګړې ډول پیداشي چې له یوه بل سره پلوه یې سر مرابطه لرله. د دو یاخو اولسونو دا جتماعي طبیعي شرایطو او د ژوند دایدیالوژۍ سره ورته والی نه یوازې تیپولوژیکي ژدي پیښې زیږوي، بلکې د داسې اثارو د را کړې ورکړې د پاره لاره بیخې اروي او په خپل وار کولای شي د خپلو پخوانیو شریکو اسلافو او نیکونو د هنري میراث د ساتلو سر مرسته وکړي. او له دغه ځایه د اولسونو تر منځه د فولکلوریکو اثارو ګډون یا ورته والی د بیلو بیلو اولسونو ترمنځه پوشان نه دې دا د اولسونو د تاریخي شرایطو، تماسونو، کولتوري اړیکو د څرنګوالي، د ملي خصوصیاتو، ذهنیتونو او نورو سره له هر څه زیات اړه لري. مثلا :

۲ــــ د افسانو په بحث کې به څه پرې وليکو.

دژ و یو افسانې دو مره په اسانۍ سره له یو ه او لس نه بل ته انتقالیږي چې د جادو-
کرۍ دافسانو په انتقال کې دو مره عمو میت او اسانی نه وي.

په هر صو رت دفو لکلو ر پستانو دپاره دفو لکلو ر بین المللیت ا و تکر ار یو ه
دېر مهمه مو ضو ع ده.

او سنۍ فو لکلو ر پو هنه نه یو ازې دفو لکلو ر ګډو ن یا تکر ار تثبیتوي بلکې دهغو
خاصو ملي او اجتماعي شر ایطو څیړ نو ته ار زښت و ر کوي چې بشري ټو لنې
دهغو سر مسم و ده او پر اختیا کوي او ددغو شر ایطو له مخې فو لکلو ر یک اثار
یو تر بله یانژ دې یا لري کیږي (۱)

۱-ر و مي او لسي ادب ۳۵-۳۷ مخو نه.

اولسی ادب دفورم او مضمون له مخې

اولسي ادب د اولس په ژبه او د هغه د فکر او پوهې محصول دی، ځکه نو د فورم او مضمون تر منځه یې ځه ناځه توپیر موجود وي.

د فورم بدلون او تغیر يې ډېر کم پېښېږي ځکه چې په ژبه کې تحول او بدلون ډېر لږ پېښېږي. د اولسي ادب هره کلمه او هر لغت ثابت او د کانې د کرښې غوندې ټینګ ښکاري.

د بېلګې په توګه دغه متل: (چېرته اوسې په خوی به د هغوی سې)

په څو سوه کاله تېر شوي وي، خو هره کلمه یې په خپل ځای ثابته پاتې ده. د اولسي ادب هغه برخې چې له کومې تاریخي پېښې او له منځه تللو نکو شرایطو پورې اړوندې دي د کانې د کرښې غوندې دوام کوي. خو اولسي ادب د مضمون او موضوع په لحاظ د ټولنې د پوهې او ذهنیت زېږنده ده. د ټولنې پوهه او ذهنیت چې څومره بدلون او تحول مني هماغومره اولسي ادب وخت په وخت

اوري، مثلاً: داريايي قبايلو لرغوني تاريخ او په دې باب بيل بيل اسناد شاهدي وركوي چې دژوند دهرې طبيعي مهمې پيښې په باب دوى خاص شفا هي ادبي اثار(نظمونه، سندرې، افساني او نور) لرل دو پداد كيتونو اود او پستاد گاتونو سرچينه يقيناً دلرغونو اريايي توكمونو اولسي ادب وچې يا ورو ستهٔ يې دمذهبي سندرو او رواياتو په بڼه نوى تشكل موند لى اودطبيعي پيښو په مقابل كى يې دمذهبي مناسكو په حيثو ده كړى وه. البته د اسلامي عقيدې په خپريدو سره، ددغو مذهبي مناسكو ځاى اسلامي مناسكو ونيوا و په اسلا مي ساحه كې دهغه اريا يي فولكلوريك ادب مهمه برخه له منځه لاړه چې د نوې عقيدې سره يې تكر درلود او نور نود «اهورا»، «ميترا»، «اندرا» اونورو سندرې په اسلامي چاپيريال كې دتل له پاره ځلي شوې. همدارنګه دلويديځ ادب تاريخ هم دلرغوني يونان لرغوني ادب ته رسيږي. دمورخينو په عقيده ديونان دلرغوني ادب ډېر لرغونى آثار (مثلاً دهومرې ايلياد اواد يسى) داولسي ادب زېږنده ده (۱).

ترهغه وخته چې لامسيحي مذهب په لويديځ كې نه وخپورشو ى د موضوع په لحاظ يې زموږ د اولسونود فولكلوريك ادب سره د ومره توپيرنه درلود. خو هلته ددغه مذهب دخپريدو سره سم دزېږيد نې، د تعميدد غسل، دخښولو او داسې نورمراسم او دهغو په ارتباط اولسي ادبيات وزېږيده، وده يې وكړه او خپاره شول او زموږ له اولسي ادبيا تو څخه ځنې ناځه لرې شول او ځېنې هم ستر پدلون و رسره راغي.

---

۱ - فولكلور دلفظي هنر په حيث (۶) مخ

او له دغه ځایه ګوروچي اولسي ادبیات دفورم له مخې دېر لږ غوني خصوصیات په ځان کې ساتي او دموضوع او مضمون له مخې تحول او بدلون په کې راځي .

مثلاً دکورګانیانو ، صفویانو او نوروخارجي یرغلګرو په باب په زموږ اولس دېر اولسي ادبیات لرل چې له هغو څخه یوازې د (هوتکو ناري) په لیکلو یاداشتونو کې پاتي دي او یادفتح خان بریڅي او دشمس الدین کوار- یالو ترمنځه دجګړې قصې .خو دبرتانوي استعمار او دهغه د اخلاقو په باب دقصو او سندرو نه اوس هم زموږ اولسي ادب ډک دی .

له دغه ځایه ده چې دموضوع په زړېدو او هېرېدو سره مربوط نولکلو- رېک ادب هم زړېږي او هېرېږي .

اولسي ادب - هنراونورعلوم

نن دنړۍ فولکلور پستان اولسي ادب نه یوازي له دې امله څیړي چې د
بشري تولنو ترټولو لفظي هنرونو زباته لرغونتیا اوقدامت لري او د
ماکیسم ګورکي خبره «دلفظي هنر پیل په فولکلور کې دی» بلکې
فولکلور له دې امله هم څیړل کیږي چې دهغه زیات قسمونه (ژانرونه)
دډیرو هنرونو او علوموسره همغاري کیږي او په ځینو برخو کې د هغو
مکمل وي . ځکه نو دنړۍ دبیلو بیلو علومو اومسلکونو د محققینو پام نه خپله
نظره دهغه څیړنې ته اوښتی دی .

ښکلاپوهان په فولکلور کې د ښکلاپوهنې پر نسیمونه لټوي ،ځکه
اولسي ادب چې اولسي هنر دی دښکلاپوهنې د پرنسیپونو سره نیغه اړه
لري .

ګورکی دښکلاپوهنې تعریف داسی کوي : «دښکلاله نامه دموادو، همداراز دغږونو ، رنګونواوکلموهغه‌جوړښت ذهن ته ورځی چې د انسان ـ هنرمند له خوا جوړ شوي ، تیارشوي څیز ته داسې کیفیت‌و رکوي چې د هغه د خلاقیت داستعداد په باب دقوت ،په و ګړي کې‌دپارید نی حیرانی،و یاړ، خوښۍ‌په څیر په احساس ا وعقل اغیزه کوي (۱) .

فولکلو ر همیشه او په خاص ډول دتاریخ ملګری دی.دهغو لرغونو پیښوله پاره چې لیک‌لاوجود نه درلود اولیکلي‌وا دو ر نه نه دی پاتې شوي فولکلو ر یوازینی اوډېره سهمه تاریخی منبع د ه .

دلیک‌دپیدابښت ددو رو دڅېړنو دپاره‌هم دغه شان ارزښت لري ځکه چې دپخوانیو پیښه لیکوونکو، مؤرخینو اورسمی ا سناد وزیات مواد د ټولنو دخاص پاسني پوړ په باب‌وړاندي کړی دي اودعام اولس د پاره په زړه پو رې تاریخی مواد ذوسره نه لري.یوازې‌فولکلو ریکوموا دو په دې باب ډېر خدمت کړی دی .

دفولکلو ردپیدابښت د دو رې تشخیص او تحلیل یوه مؤرخ ته ډېر په زړه پورې مواد ورکولای شي. مثلاً په پښتو کې «دهوتکونا رې» د هوتکیانو، صفویانو او نادرافشار په تاریخی پیښوبنه رڼاا چولای شي.

له دغه‌ځایه ده چې‌ډېرمؤرخین (لکه‌تاین بي) په خپلو تاریخی څېړنو

۱ــفولکلو ردلفظی هنر په حیث ۷ـ۸ مخونه .

کي په فولکلورزياته اتکاکوی . دفولکلور څېړنه ژبپوهانواو لهجه
پېژندونکوته يوه په زړه پورې موضوع ده.هغوی داولس په ادب کې د
جملوجوړښت دلغاتوقدامت او داستعمال مورد يې ، دکلمودبدلون څرنګوا لی
او نورژبنې خصوصيات څېړي .

همداشان د فولکلورڅېړنه دادب پوهانوله پاره يوه په زړه پورې
موضوع ده. داولسي ادب بداعت ،ايجاز، دافادې طرز، تشبيهات او
نور ادبي خصوصيات دادب دتيوری له پاره ډېرمواد لري .

همد ارنګه داولسي ادب څېړنه د سوسيالوجست، دموسيقی او تياتر
د پوه ، ايتنولوجيست او بالاخره داجتماعی هرعلم دپوه او محقق له پاره
علاقې اوفايدې څخه خالي نه ده، ځکه چې فولکلور د هرې بشري ټولنې په
کولتوري او روحياتي تاريخ کې دېر ګنو دسترې اغيزې روښانه هند ازه
ده .

اولسي ادب او د هغه ويش

اولسي ادب د فلکلور هغه برخه ده چې ديوې ټولنې په خلکو کې دود شوې وي او د هغو لومړي جوړوونکي چاته معلوم نه وي. که لومړي جوړوونکي يې معلوم وي هغه د اولسي ادب د تعريف لاندې نه راځي: که فرض کړو چې مثلاً د رحمن بابا کوم شعر زموږ په ټولنه کې د خلکو په خوله کې ډير يوځي او ديوه فلکلوريک اثر په شان عام شي په هر صورت هغه د اولسي ادب برخه نه ده.

د اولسي ادب لمن ډيره پراخه ده:

هم په سيمه ييز لحاظ او هم د موضوع له مخې. په ټوله ليدل کيږي چې ديوې سيمې او سيمه وتکي د کاونډي سيمې، بانډې او خپل په باب ځيني فکاهي، قيصې، متلونه او سندرې لري. د موضوع له مخې اولسي ادب د اولس د رو حياتو، کولتور او دژوند د ټينبو انعکاس دي. ديوې ضابطې لاندې د دې ټولو را ټولول له امکانه وتلې دي. دلته د اولسي ادب په هغو برخو رڼا اچول کيږي چې په هره ټولنه او هر وخت کې عموميت لري او د هغو په باب اولسي

ادب لوبې زېږېدلې دي.

اولسي ادب په دريو برخو وېشلای شو:

١- منثور ادب (افساني، قيصې) اونور...

٢- منظوم ادب (اولسي سندرې) اونور...

٣- منظوم وزمه ادب (متلونه، منثوري کيسې) د متلونو او کيسو بوه برخه په منظوم ادب کې شامليږي، په خپل ځای به پرې خبرې وکړو.

په وروسته پانو کې به هم ددغه دوول موضوعات وڅېړل شي.

داولسي ادب ځينو کتابونو، (١) چاربيتي، بګتي، لوبې، مسروتو کسرونه اونور هم داولسي ادب په کتار کې درج کړي دي. هغه که څه هم داوا زونو او آهنګونو له مخې داولسي ادب سره اړه لري خو څرنګه چې جوړوونکي يې معلوم اشخاص او په تاريخ کې معلوم شاعران دي د هغوي آثار د دوي خپل مال دی او په اولسي ادب کې نه شامليږي، ځکه چې اولسي ادب هغه ته وايي چې نسبت يې بو، معلوم شاعر، ليکوال او جوړوونکي ته نه کيږي او که نه، نو هغه بياد ليکلي ادب يوه برخه ده، که څه هم ديوه تالوستي او پېسواده شاعر اثروي.

١- لکه «پښتني سندرې» دو يمه برخه او «دخلکو سندرې».

مثلاً دمروتو کسرونه دتاریخي ځېرنو دخاص آهنګ او سندریزو خصو صیاتو له مخې اهمیت لري او د «حیات افغاني» دمؤلف د اخبره سمه ده چې وايي: «له دغو کسرونو څخه دهغوی (مروتو) طبیعت ښه څرګندیږي او دتاریخ دلیکلو له پاره ورنه ښه کاراختسل کیږی» (۱) خو جوړوونکي یې معلوم اشخاص دی (لکه جرس، میرهوس، لاجمیر او نور).

نو له دې امله زه دداسې برخو له ځېړنې څخه تیر یږم

۱ «دمروتو کسرونه» مقدمه ۱۳ مخ

افسانه په اولسي ادب کې

افسانه د اولسي ادب یوه مهمه څانګه ده. افسانه هم په لیکلي ادب او هم اولسي ادب کې مهم ځای لري. له افسانې سره هم ماشومان او هم لویان مینه لري. افسانه د ژوبو، جادوګرو، ماجراګانو، او همداسې نورو په باب د پند او عبرت له هغې قیصې او حکایت څخه عبارت ده چې تیپیک او ریښتینې واقعیت نه شي لرلای، خو د واقعیت د ځینو عناصرو د ترلو امکان لري.

د افسانې جوړونکې خپله اولس دی، په افسانه کې د اولس هیلې، ناسیدی، د طبعي خطرونو سره مقابلې، د ظلم او تیرې سره مجادلې مجسم او موږ ته د پېر لرغوني انسان د تفکر طرز رانقلوي او څرنګه چې دا ټولې پېښې په ټولو اولسونو کې یو شان موجودې دي نو د نړۍ د بېلو بېلو اولسونو افسانې هم سره ورته وي. بیا هم دیوه اولس افسانې چې د بل اولس له افسانو څخه په څه جلا کېږي د هغو تعبیر او تعریف څه ګران ښکاري.

خود ایډیا اومضمون خصوصیت ،دبدیعي ذریعو په کار اچول، دافا دي ژبني وسایل‌دهیرو دچاپیریال ،کړو وړو ،کالیو او دژوند د نورو اړخونو ترسیم اوانتخاب او داسی نور مشخصات دیوه اولس افسانې‌دبل اولس له افسانو څخه دنورو فولکلوری آثاروپه شان جلا کوي .

افسانه که څه هم دمضمون اومحتوا له مخې په ډیرو اقسامو ویشل کېدای شي خو اساسي قسمونه یې څلور دی :

د ژویو قصې ،دجادوګریو قصې ،دماجراتوونکوهیرو یا نو قصې او لکاهي قصې .

دژویو قصې :دغه دول قصې په سمبولیک‌ډول دعبرت او پند د پاره‌ویل کیږي . دغه‌قصې‌غالباً‌په خبرو کې‌ددلیل‌اوشاهد په ډول دموضوع د ثبوت دپاره‌ویل کیږي .دیرځله‌دداسې قصو یوه‌برخه په‌ژبه‌کې‌دمتل حیثیت پیدا کوي‌لکه : (چاله او په خړول)چې دمظلوم وړی او ظالم لیوه قصې ته اشاره ده .

دغه ډول قصې کله کله‌یوازې دماشومانو دساعت تیرۍ‌له پاره و یل کیږي.لو یان یې په سمبولیک ډول تلقي کوي د«خره‌نه ـاحمق، دلیوه‌نه ـ حریص،ظالم ،دګیدړنه ـفریبکار ،کمزوری »او داسي نور مراد وي .البته ماشومان یې دخپل فکراو ذهن سره‌سم په خپله حقیقي معنی‌تلقي کوي .

دژویو په بابه افسانې دفولکلور پیشانو په عقیده له نورو افسانو څخه مخکې لرغونې دي . انسانې تولنو دخپلې پراختیااو تشکل‌په لومړیو

مرحلو کې دژوبو په باب عجیب عجیب خیالونه او تصورونه لرله په دې باب بېل بېل روایتونه جوړېدل او داځکه چې انسان دیوه تاکلی ژوی سره یو خاص ډول رابطه لرله .ددغې رابطې په رڼا کې بې د هغه په باب هم هغسې قصه کوله چې په عنعنوي ډول له یوه څخه بل ته نقل کېده .په دغو قصو کې ژوي نه یوازې دانسان په شان دافادې ژبه لري بلکې دانسان په شان احساس ،هیلې ،غوښتنې او روحیاتي ټرې لري. البته جوړ ووندکې او اوربد وندکې ددې ډول قصو په واقعیت اوربښتنوالله باور نه لري .

دجادوګرۍ قصې : ددغو قصو تاریخ هم دفولکلوریستانو په عقیده د بشري ټولنو هغې مرحلې ته رسیږي چې لا په کلا سونونه وي وېشل شوې.

دغه قصې موږ ته ددېرو لرغونو اولسونو عقیدوي څواوې را ښیي چې دخپلو قبیلوي روحانیانو او مشرانو په خارق العاده قوتونو یې اېرلې دغو مشرانو دخپلو خلکو په عقیده ،کولای شول چې دالوتونکو په شان د جادو په وزرونو، دباد، دموسلې په شا ، ددېوانو اوښا پیریانو په اوږو والوځي . دژوېو دافسانو سره دجادوګرۍ دافسانو یو توپیر دادی چې د جادو ګرۍ او طلسم دافسانو ویونکي او اورېدونکي دهغو په رښتنواله او واقعیت عقیده درلوده خو دژوېو دافسانو په باب دې عقیدې وجود نه درلود.بله داچې دژوېو قصې غالباً په سمبولیک ډول وړاندې کیږي خو د جادوګرۍ قصې سمبو لیکه بڼه نه لري .

دساحرانو ونکو افسانې :داهغه افسانې دي چې ،نسبتاً د عادي هیرو یانو او

اتلانو سرنوشت اوماجرا تصویروي . د دغو قصو هیرو یان حیرانونکی سفرونه کوی، دفوق العاده ستونزو او سختیو زغم او تحمل لر ی ، همیشه بری ددوی په برخه وی ، په مینه او عشق کې عجیب موفقیتونه د دوی په برخه وی او داسی نور ، خو داتول د خپل عقل په لار ښوونه او تدبیر ، دمشکلاتو دګاللو، دبدني او روحي قوت او سبیک په برکت وی ، نه د سحر او جادو په زور . ددغسې قصو تاریخ دجادوګری له قصو و روسته دی او نسبتاً ریښتوا لي ته نژدې دی .

فکاهی قصې :— داقصې دټولې لړی داولسونو په اولسي ادب کې سترځای لري . دوی غالباً دروزنې، استدلال او عبرت خواوې لری، په هغو اخلاقي، روحیاتي او نورو نیمګړتیاو ماندې او تمسخر کوی چې باید له ټولنې څخه یووړل شي لکه: دروغ ویل ، تنبلي ، بخل ، حماقت ، عیاشی او نور .

دغه قصې له یوې خوالنډې او حفظېې آسان وی اوله بلې خوا په زړه پوری او اولسی حکمت و رکی مجسم وی . نو ځکه د هرچاخوښیږی .

فکاهی قصې غالباًپه نژدې ژبو او ګاونډیو اولسونو کی په نژدې متحد المال شکل موجودې وي او کله یوه او کله بل خاص شخص ته یې نسبت کیږی ، لکه ملانصرالدین ، ملا دوپیازه ، بیربل او نور او کله یې یوه مجهول شخص ته. له نورو قصو څخه دفکاهی قصو توپیر نه یوازی دموضوع او مضمون له مخې کیږی بلکې دفورم او بداعت له مخې هم ورسره زیات توپیر لري . دفکاهی قصو اتلان او پیښې ریالیستیک خصوصیت لري او

او ریدو نکي د هغو ر ښتنو اله له امکان نه لرې‌نه بولي. یو ازې د هغوی‌سر-
نوښت دده د خندا او ملنډې‌باعث، ګیږی ځکه چې په‌تو لنه کې عمومیت
نه لري .

له همدې‌اسله ځینې فولکلو ریستان یې د افسانو په کنار کې بولي او د
تو کې ټکالې ،ټکاهې، لطیفې ،یو سر، او نو رو په بیل باب کې یې وړ اندې
کوي .

په دغوقصو کې عموماً دو رځنیو پېښو ترسیم موجود وی او دهغوی
تاریخ د وسره لرغونې نه دی (۱) .

ځینو پو هانو ا فسانه په «اسطو رہ- اولسی افسانه او مرموزه افسانه»
دریوه ولونو ویشلې‌ده چې دا ویش په امریکا او اوروپا کې دروایت له
مخې شوی د ی :

اسطوره هغه «مقدس»روایت دی‌چې‌په‌او سنۍ بڼه‌ل‌د‌ځمکې او انسان دتشکل
په‌باب‌وي. په‌اساطیرو کې دبشریت یا یوې‌خاصې ټولنې دارتیا وړځیز پیدا
کیږي‌او کله‌په‌کی غیرضروري ځیزله مینځه ځي -

اولسی‌افسانه‌دداسې‌خلکو‌ماجرابیانوي‌چې دبشریت ا وټولنې دښیګ ی نه
بلکې‌داتل‌دشخصي‌هدفونو هاند او کوشش څرګندوي‌وی.

په‌اساطیرو کی د یوه‌کولتو ر قهرمان‌مثلاً(دلرغونی یونان داسطوري پرو
میتی) دټولو خلکو دښیګڼو‌او هغوی ته‌دخیررسولو دپاره او رسنځ ته‌ر اوړي.

---

(۱) روسی اولسي ادب (۱۴۸-۱۶۸) مخونو لنډیز .

سرموزي قيصي هغه دي چي په يوه تيا کلي وخت او ځای کی دیوی پیښی څرګندوی وي . دغه قصه دا ساطیرو او افسانو په خاطر په اوسني واقعی نړۍ کی پیښیږي. په سرموزو قصو کی امکانلري دماوراى طبيعي ژویو قو تونو لکه پیریان، ښاپیریان، شیشکي ،دیوان او نورو بیان وي چي کله کله د یوه غره ،کلی، باندې او نورو په باب هم وي لکه(بنداسیر)چي کو یا امیرالمؤمنین علی جوړ کړی دی.

د دغو دریو ډولونو په ویش کی لو یه برخه زمانه لري:

داساطیرو پیښي په اوسني پیښه د نړی له پیدایښته تر مخه دی.داسطوري له دغه زمانه وجود نه لري او په دغه صورت اسطوره دزماني دجریان سره د تیم خط په ډول ستوازي جریان لری لکه(زمکه چي دغوایي په ښکرولاړه ده).

دخلکو افسانو نسبت یوه تيا کلي وخت(او کله کله کان)ته نه کیږي .خو د نړی له خلقته وروستی وخت ته منسوبیږي دغه قصې دنړۍ دکوم بدلون څرګندوی نه دی.

سرموزي قیصی زموږ په هیواد کی واقع کیږي او کیداي شی په راتلونکي وخت کی هم دزماني دجریان سره د نیم خط په شان جریان ولري مونږ کله کله اورو چی «په فلاني ځای کی له یوې ښځی نه خرموجوړه شوي،فلاني سړی شیشکې وواهه فلاني ته ښاپیریانو ښوور کړل او داسی نور).

چې داتو لی په اصطلاح سر مو زي قیصی دي(۱)

په در یم و یش کی فکاهی قیصی په افسانه کی نه دي نیو ل شو ي.

زما په خیال فکاهی قیصی باید په دو و بر خو و یشل شی.

الف: د پیښی په ار تباط چی عینی و قوع یی غیر عادي و ي لکه د شیخ چلي مشهو ر مقصه چې د ښاخ په پاسنی بر خه ناست او لاندینی یې پر یکو له، بیا په ز اره قبر کی پر و ت ؤ او خیال یې کاو ه چې مړ شوی دی او ددې قصی نوړ ې بر خی چې تو لي غیر و اقعي، غیر عادي او یو ازې افسانو ي بڼه لري داډو ل قیصی یقیناً فکا هي افساني دي.

ب: کو مه عیني غیر و اقعي پیښه نه بیانو ي بلکی د الفاظو لطافت او ظر افت یي نوی و الی او خندو ونکی بڼه لري لکه داقصه: دیو ه کلی خلک داستقا نما نځه ته ر و ان وو او ماشو مان یې هم له ځانه سر ه ډله کړي وو. یو چاو رته پوښتنه و کړه داما شو مان څه کوی ؟

کلیو الو و و یل: دو ی هم نمانځه ته بیا یو ، دو ی بې گناه او معصوم دی چې دعا و کړي د دو ی دعا به قبلیږي. هغه شخص و و یل: که د ماشو مانو دعا قبلیدلای د زمکی په مخ به یو معلم هم ژو ندی نه و پاتی.

د غسي قیصې افسانو ي خصو صیت نه لري په دو ا قعي ژ و ند کی هر ه و رځ پښیږي او پیښید و نکی دي

(۱) دو ر و ستی و یش په باب د فلکلو ر مجله ۳ ۵ ۱ کال څلو ر مه گڼه «ادب شفا هی...» و گور ی

تاریخي افسانوي حماسه

تاریخي افسانوي حماسه د اولسي ادب د یوې برخې له پاره بنایي یوه نوې اصطلاح وي چې دلته د لومړي ځل له پاره وړاندې کیږي. داهغه حکایتونه او قصې دي چې تاریخي واقعي اتل (هیرو) او تاریخي پېښې شوې واقعې تمثیلوي، خو د بیان ځرنګوالی او د تفصیل کیفیت یې خیالي او افسانوي رنګ لري، د تاریخ لیکني له لارې نه، بلکې د شفاهي روایتونو له لارې له یوه نسل نه بل نسل ته پاتې او په سینو کې خوندي ساتل شوې وي.

د غه ډول قصې ته ما ځکه «تاریخي افسانوي حماسه» اصطلاح غوره کړه چې پېښې له یوه پلوه تاریخي حقیقت لري رزمي (یا بزمي رزمي) بڼه لري او له بله پلوه د بیان او تفصیل له مخې له رښتنوالي څخه څه لرې، په افسانوي پیرایه افاده شوې وي.

په دغسې قصو کې غالباً پاکه او لیوني مینه له رزم او حماست سره ګډه وي، عشق او مبارزه و رکې یو شان پر اختیاسو سي لکه د شمس الدین پاچاد ګوار- یانو سره د فتح خان بریڅي رزمي نقل، د آدم خان او دورخاني تر منځه لیوني مینه او د پایو خان د مبارزې داستان. دا یو ازې افسانې نه دي ځکه چې په تاریخي پېښو ولاړې دي.

تاریخي افسانوي حماسه د یوه اولس د ملي غرور او یار هنداره ده، دا د اولس له افتخاره ډکه ادبي پانګه ده، په هغې کې کله کله د وطن د کورنیو او بهرنیو دښمنانو سره مبارزې او سر ښندنې تصویروي.

د داسې داستانو په سر کې همیشه یو داسې هیر و ځای لري چې د ښهاو ښو صفاتو، عالي اخلاقو، روحي او بدني پیاوړتیا له امله داوړید و نکو خواخوږي او همدردي و رسره ملګرې وي.

د داسې قصو د پیدایښت په باب د فولکلور پستانو له خوا بیل بیل نظریات وړاندې شوي دي. د تیرې پېړۍ په نیمايي کې په روسیه کې د ژبنیو علومو په ساحه کې یو میتولوژیک مکتب منځ ته راغی چې په سر کې یې د هغه وخت نامتو پوه ف. ي. بوسلایف و. ده او دده پیروانو لکه او. ف. میلر، ا. ن. افناسیف خیال کاوه چې د غه قیصې لکه د اولسي ادب نورانواع په ما قبل التاریخ دوره کې منځ ته راغلې دي.

بیا د زماني شرایطو او د ذهني سویې د بدلون سره سم د غو قصو خپله ځېنه اړولي او د مطلقي افساني په ځای یې تاریخي بڼه غوره کړې ده. په بله ژبه د غه موجوده فولکلوریک داستانونه د لرغونو میتولوژیکو قصو سنحرف او وښتي شکل دی ....

د غه نظریه لاهماغه وخت د هغه ځای نومیالیو نقادانو د وبره لویوف او چېرنېشیفکسي او نورو پوهانو و غندله ـ ځکه دوی و یل د غه فولکلوریک نقلونه د لرغونو میتولوژیکو قصو سره هیڅ اړ خ نه لګوي. هماغلته یو بل مکتب د تیری پېړۍ په (۶۰) کلونو کې منځ ته راغی چې د«مقایسي یا اخستنې» دمکتب په نامه یا د شو. دد غه مکتب پیروانو ویل: تاریخي افسانوي حماسه د نورو افسانو او فلکلوریکو اثارو په شان په یوه خاص اولس پورې اړ نه لري، بلکې د اولسونو ترمنځ حتی د لویدیځ او ختیځ ترمنځه اخیستل شوي او د خپلو زماني او مکاني شرایطو سره سم یې څه ناڅه اړولي دي.

او په دې صورت دوی د یوه اولس د تاریخي افسانوي حماسې د استقلال نه انکار کاوه.

دد غه مکتب د تاسیس په وخت کې لا د هغه کمزوري یاده شوې وه، ځکه هر اولس داسې ملي قصې لري چې له نورو سره نه شي پرتله کید ای.

د هم د غو دو مکتبونو سره په یوه وخت کې یو بل مکتب هم موجود و چې د«تاریخي مکتب» په نامه یادېده. دوی تاریخي افسانوي حماسه د تاریخي اساسونو په رڼا کې مطالعه کوله. د غه مکتب او س هم خپل اعتبار

ساتلی دی، خو ددغه مکتب په اساسونو کې یوه داسي اشتباه پیداشوه چې د دغو قصو دهیرو یانو زانگوېې ارستو کراسي کورنۍ گڼلې، نه اولس (۱).

که له پاسنی اشتباه نه تېر شو نو ر ښتیاداده چې حماسي قیصې تاریخي واقعیت لري او دنورو افسانو په نسبت دومره لرغوني نه دی. په دوی کې د اولسونو واقعي ترسیم او ر یښتیني اتلان ځای لري چې قیصې یې له یوه نسل نه بل ته په شفاهي ډول په رومانتیك او مبالغه آمیز ډول پاتې دي چې اولسي سندرغاړو او راویانو تقریباً داسې افسانوي تصویر کړي له کهچې دوی ته پخوانۍ افسانې رارسیدلي وی.

هر وخت او عصر په اولسونو کې ددوی دذهني او خارجي شرایطو سره سم بیلی بیلې حماسي قیصې پیر یښې دی. خو سره چې د غه حماسي قیصې لرغوني وی هماغو سره ورکې مبالغه زیاته وی.

د پښتو اولسی ادب په دغه ډول حماسه ډیر بډای دی، ډیری قیصې یې نکه ملی صبغه لری، د پښتې ځای یې غالباً دروایاتو له مخې معلوم وي. (د بست کلا د فتح خان بړ یخي قیصه، دسوا ندره دادم خان او دو رخانی قیصه او نور). دغه قیصې زموږ داولس پخوانی خپل مال دی. ددغو قیصو یو خصوصیت دادی چې غږونه لري (دغږ ونو بحث وروسته راځي).

په پښتو اولسي ادب کې داسې قیصې هم مروجې دي چې د ترجمې او اړونې له لارې رانو تې دي او دلته دخپلو قیصو په دود دسنګ شوي او عامې شوي دي. دغه

۱ـ روسی اولسی ادب (۱۷۷-۱۷۹) مخونه.

قيصې علاوه پرنورو اسنادو غيرو نه‌نه‌لري (لکه ليلى او مجنون، يوسف او زليخا) د پښتو اولسي ادب دقصو او داستانونو په ليکلو هم بډاى دى. دقصو ليکلو او ترجمه کولو عمر تقريباً دليکلي ادب عمر ته رسېږي. او ډېرو شاعرانو په‌فني ډول دشعر او نظم په‌قيد کې راوستي دي چې ځيني يې ملي قيصې دي«ادم خان او درخانى، دلى او شهى، فتح خان بړيځي اورابيا او نور». او ځيني يې ترجمه شوي (ليلا او مجنون، فرهاد او شيرينه، يوسف او زليخا او نور) چې اوس د پښتو فولکلوريک ادب ته ننوتي دي . يوه‌بله برخه هم ترجمه‌شوي او دليکلي ادب‌ښه‌زيرمه يې بللي‌شو لکه: (دحميد — شاه او گدا، نيرنگ عشق) خو اولسي ادب ته‌يې لاره نه ده پيداکړې. ددغو قصو دليکونکو او ترجمه کوونکو په‌جمله کې دصدرخان ختک، فياض، عبدالقادرختک، سکندرختک، طالب رشيد، امان گوجراتي، ملانعمت الله، ملااحمدجان بوعليشاه، حيدر، بختيار نومونه دياددونېو دي.

متل داولسي ادب يوه مهمه څانګه ده

د هر اولس په شفاهي ادب کې متل (ضرب المثل) مهم ځای لري. دغه ایوژ بو یو خصوصیت دادی چې په متلونو هم پوهای وي. متل د خبرو یوه برخې لنډه جمله ده چې دمعنا په لحاظ بشپړه او دمفهوم او مورد په لحاظ عامه وي.

د متل بلاغت او فصاحت په دې کې دي چې دفورم له مخې لنډ او موجز، دمعنا په لحاظ مستعار او کنایه، دافهام له مخې ساده او عام فهم او دافادې په لحاظ په هدف رسا او سم لګیږي.

ماکسیم ګورکی دمتل په باب وېل:«په لفظي سادګی کې یې تر ټولو لویه هوښیاری او حکمت ځای شوی دی، متل او سندره همیشه موجز وي، خو دبشپړ کتاب هومره تفکر او احساس ورکې وي». ده په لیکوا لو ته مشوره ورکوله

چې ليکوالي لەمتل څخه زده کړي چې الفاظ په کې د اسې کښېښکل شوي وي لکه پەسو تې کې گو تې (۱) متل (چې پښتانەو رته د هوښيارانو خبره هم وايي) خبره خوندوره کوی او دهغې مفهوم دمضبوطيااو غبرگون غوندې دی.

متل اصلاً ديوه هوښيار او حکيم عاقلانه «مقوله» وي چې په قصدي يا اتفاقي دول يې لەخولې وتلې وي. خو بيادلفظي ښکلا او مناسبت او معنوي حکيمانه افادې او ارزښت پەبرکت داولس پەژبه جاری او خوندي سا تل شوی وی

دمتل لومړی و يونکی داولس لەنظره لوبدلی وی خو وينايې دشفاهي ادب يوه ارزښتناکه برخه وگرځي.

د متل پەمرکز کې دگراسر لەمخې يو شخص «غالباً مفرد غايب يا خاطب» ځای لری خو هم دو يونکی او همداوريدونکی پەفکر کې دهغه سوردېځی عام وی.

متل داولسي جهانبيني، تفکر او دذهنيت بېل بېل اړخونه ترسيموی: تاريخي وی لکه «کەتەنا زو شې، نوسيرخان (۲) بەځوگ‌و زيړ وی»، جغرافيه وی وي (پېريانو تەغزنی څەشی دی)، اخلاقی وی (چې بدگز زي بدبه پرزي)، مذهبي وی وی (چې او بەوی تيمم تەځەځای نشته)، اقتصادی (د خپلي بړستنې سره پښې غزول

۱- روسي اولسي ادب ۱۲۳ مخ.

۲- نازو آنا او ميرو يس نيکه تەاشاره ده.

په کار دی).او که‌نور.

دمتل ستر خصوصیات دادی چې همیشه کنایې معنی افاده کوی، که خپله اصله او حقیقی معنی افاده کړ ی هغه بیا متل نه دی.مثلاً:(که‌غرلوړ دی په سر یې لاره ده، (دغله په‌ډیره خلی وی)، (په‌یوه گل‌نه‌پسرلی کیږی). دلته یو متل هم په‌خپله لومړی معنی‌نه‌دی‌او نه‌د(لوړ غر،په‌سر یې لار) ،غل،ډیره خلی)، (گل،پسرلی) ترمنځه ارتباط ملحوظ‌دی چې‌دمتل حقیقی معنی‌ده. بلکې دلته‌هرمتل خاص‌کنایې مفهوم لری‌چې‌هم اوریدونکی پرې پوهیږي او هم دویونکی مطلب وی، او هغه‌دمتل کنایې معنی‌ده او که‌کنا یې معنی افاده نه کړي هغه‌متل‌نه‌شو بللی.

دمتل دپیدا ایښت سرچینه :

دفولکلوریستانو په‌عقیده متلونه هغه‌وخت داولسونو په ژبو کی پیدا شوی وو چې ژبې‌یې‌لادلیك‌په‌قید کې نه‌وی راغلی.له‌لرغونو پیړیو راهیسی اولسونو دخپلو متلونو بدیعی او هنري‌پلو بشپړ کړی او دبلاغت درجې ته یې رسولی دی. متلونه چې‌دژ بې‌باارزښته پانگه او داولس دژوند دشرایطو ،اخلاقو، کولتورا ونورو خصوصیاتو هنداره ده‌په‌ژ به کې‌دپیدایښت څولارې لری چې دغه‌شپږ یې نسبتاً عامې دی:

۱—دطبیعی او اجتماعی پیښو له‌درکه هغوته دارزښت وړ کولو او په مستعار‌ډول په‌تیپیکو پیښو کې داستعمال او تکر ارله لارې.

۲—دتاریخی پیښو ددرك او انعکاس‌له لارې.

۳—یو ه خاصه برخه د اشعار و او سندر و له لارې.

۴—یوه بله برخه د کتابو نو له لارې .

۵—د مذهبي احکامو له لارې .

۶— له نو ر و ژبو د ترجمې او اخیستنې له لارې .

د اولسونو په ژبو کې (خصوصاً د هغو اولسونو ترمنځ چې ارتباط لرونکو اولسونو ترمنځه) متل د مضمون له مخې بدلېږي او په یو مضمون او مفهوم ډېر متلونه پیدا کېدلای شي چې یو تر بله ترجمه او اخستنه ښکاري، که څه هم شاید د خپلو ژبو اصلي مال وي .

لکه: پښتو :«څوک چې بل ته کوهی کیني —خپله به یې په کې شي (ووي) .

دري: «چاه کن را چاه در پیش است .)

عربي: «من حفر بیراً لا خیه —قد وقع فیه».

د فورم له مخې د یوې ژبې متل د بلې ژبې په قالب کې په اسانۍ نه اچول کیږي په یوه ژبه کې متل داسې خاص اهنګ ، اندولیز موازات او کلمه کلمه داسې قافیه لري چې په بله ژبه کې غالباً هغه له لاسه ورکوي. خصوصاً د قافیې په برخه کې .لکه (خپله خوله هم کلا ده—هم بلا)،(خول عمل— د لارې مل) او نو ر.

په بل عبارت د یوې ژبې متل داسې لفظي او معنوي ښکلا او بداعت لري چې که بلې ژبې ته ترجمه شي هغه له لاسه ورکولای شي.

متلونه او لنډۍ :

ډېر ځله لنډۍ د متل په ځای استعمالیږي او د اهغه وخت وي چې لنډۍ له خپلې اصلي

اولو مړ نی معنی ښخه وو ځی او بله کنایي معنی افاده کړی.لکه :

په پټاسو دې اسو خته کړ م+ساته د جو ارو پو لی خو نده را کو ینه

داهغه وخت و یل کیږي چې څوک دچا له خوا په ښو ښو سوغا تو نو نمانځل کیږی او بیا په سوغاتو نه په بې ارزښتو سوغاتو نو بدل شی.

متلونه او لیکلی ادب: دمتلو نو او کلاسیک (همدار نګه دمعاصر) ادب تر منځه اخذ او اقتباس ډیر ځله لیدل کیږی ډیر ځله دپښتو دلیکلی ادب یو بیت یا مصرع په اولسي ژ به د متل په ځای تکرار یږی او متل ګر ځی. متل ځکه و رته و ایو چې خپله حقیقي معنی یې له لاسه و ر کړې وي او دمتل په شان هم و یو نکی او هم اور یدونکی و رته کنایي معنی اخلي. لکه دتو کل دا مصرع.

«زن دی که سبادی تو کل له ښبوې تللی دی». دا په هغه مو ر د کې و یل کیږی چې یو څو ک له ډیر مجبو ریت نه خو اړی په راتلو نکی نیر دی و خت کې خپله سیمه خو شې کړي. دلته «تو کل او ښبو ه» په خپله معنی نه دی. یا لکه د رحمن بابا دا بیت :

د رحما ن و ینا به هله درپه یادشی+چې دې یو ه دیو ال ته مخ پل ته دې شاشی

دا بیت هم په کنایي معنی د نصیحت په و خت کې په هغو مو ر د کې و یل کیږی چې ناصح نا منو نکی ته وا یې «زما نصیحت به هله در په یاد شی چې مشکلاتو سره مخامخ شې او پښیماني دې په څه ګټه و نه لری.

همدرانګه د کلا سیک ادب غښتلو شاعرانو پخپلو اشعار و کې د اولسي ادب نه و خت په و خت متلو نه اخستي او د هغوی په اشعار و کې یې خپله په ساتلې د ه،

دپښتو د کلاسیک ادب دشاعرانو په جمله کې له نور هرچانه دا کار زيات حمید ماشوخیل کړی دی. دده په اشعارو کې متلونه هم دمضمون او هم فورم له مخې ژبنت ډېر دی لکه دا بیت :

دجمله بدیو سر تن اسا یې ده+خرشاوه شي لټ غو يې په قصابانو

په دې باب متل داسی دی: «دلټ غوا يې ور وستی خاو ند قصاب وی»

دمتلو نو ژبه:

متلونه له لفظی او معنوی ښکلاو ډک دی. دمتل ایجاز، اختصار او په هغه کی دلوی مفهوم ځایول دهغه بلاغت او فصاحت همیشه دادب دتیو ری دمحقیقنو پام ځانته اړولی دی.

دمعنوی ښکلاو، استعارو، تشبیهاتو او نورو ادبی خصوصیاتو په څنګ کې متلونه داسی ژبنی خصوصیات هم لري چې دژبو هانو او لهجه لټو ونکو خاصه علاقه ورسره پیداشوی ده.

متلونه دژ بې ده ډېرو لهجو ساتندوی دی نو دلهجو دلټو ونکو لپاره په زړه پوري موضوع ده.

دژبپو هانوا و دژبنیو خوا و دڅېړو نکو او محققینو له خوا په هغو کې دژبو لرغوني فورمونه او ژبني خواوی څېړل کیږي .

ډېر وخت ژبپوهانو په دې باب مشاجره لر له چې متل نحوی جمله ده که نه، که وی هغه څه ډول؟ سبب یې دادی چې نحوی جملې او دمتلونو جملی سره توپیر لري : په متل کې کلمه له څپله ځایه نه شي خوځولای او نه په آزاده ډول بدلېد لی شي، فعل یې د فاعلی

کتگوري او د زمان (ماضي، حال، مستقبل) له مخې تغییر نه مني. د متل د یوې کلمې دا ړ و لو په صورت کې امکان لري چې ټوله جمله واوړي. د متل په اړولو سره د هغه د ایجاز او اختصار ځای امکان لري په خو جملو کښ شي. د متل په اړولو سره بله جمله حقیقي معنی و رکوی نه مجازي او کنایي، او بالاخره بیا و رته متل نشو ویلی او داسې نو ر. نو ځکه د متل جمله او نحوي جمله سره توپیر لري.

په دې باب مشاجره د شوروي ژبپوهانو تر منځه ددې پیړی تر لومړی نمایې پورې روانه وه. دې پوښتنې ته په (۱۹۵۸) کال کې یوه شوروي پوه پ. و تکاچینکو مثبت ځواب ورکړ، متلونه او محاورې یې د نحوي جملو تاکلي تیپ وګڼل (۱)

د دغه او ږدې خبرې نه لنډیز دا دی چې متلونه او محاورې هماغه نحوي جملې دي، خو د ژبې په تېر بدو یې داسې لفظي او معنوي ټینګ امتزاج موندلی، داسې سره نښتي، سره پیوند شوي چې د یوځای ساختمان او جوړښت و رانول، اړول او بدلونو رکې را وستل د هغه خرنګوالی، بلاغت او فصاحت له منځه وړي.

د متلونو لهجوي خوا:

متلونه عموماً په ټولنو کې په معیاري ژبو خپریږي هغه متلونه چې په معیاري ژبه وي د ټولنې په هر ګوټ کې او ریدل کیږي خو د ټولنې په ځینو سیمو کې داسې متلونه هم وي چې په هغو کې د یوې لهجې انعکاس ساتل شوی وي.

۱- «د پښتو متلونو او محاورو ژبه او شعریت» ۱۱ مخ

مثلاً په پښتو کی :
بلرغو- ایله گرد ،څڅوړی -شال- په لویدیځه لهجه کې :
«په باغ کی آلو-په کلی کی بلرغو» ،(خپله خواری نه ژاړې-دسر څڅوړی غواړې) همدارنگه: بیستی-شوی،خاستا،پو واړه-ناولې ،چټله- په ختیځه لهجه کې :
(چې رارسیږی دسوات بیستی+ دخوارانو به ښکا رهشی سرې پوندی)
(څه اوره خیشته پیشته-څه سیرمن پوواره) (۱)

په متلونو کی توار داو بدلون :

په متلونو کې داهم لیدل کیږی چی دژ بې دیوې لهجی د یوې کلمی په ځای په بله سیمه کې بله کلمه استعمالیږې لکه په لویدیځه لهجه کې .
گیلیگی .دموږی په زورغور ځي .
په ختیځه لهجه کی د «گیلیگی» په ځای «آس»استعما لیږی .
همدارنگه : د سرو ر برخه دنسورده.
د«دنسور»په ځای (تالا) اود اسې نور.
دمتلونو په باب یو بل ټکی چی دیادولو وړ دی هغه دادی چې په یوه مفهوم ډیرمتلونه وجودلري چې کله کله په حقیقت کې د یوه متل څو او ښتې ښې وی لکه:

۱- دغه متلونه د (پښتو متلونه) ا خستل شوی دی .

۱ــ دجو لامنځه ترسوړې پورې وی .

دپښې منځه ترکادانې پورې وی .

۲ــ که وریښې خوارد روښې شی ــ دخره پکی لپه ده

که زمکه ټوله وریښې شي ـ د خره پکی لپه ده

او یا بیل بیل متلونه وی خو مفهوم یې یو وی او دمورد له مخی سره توپیرونه لری لکه :

۳ــ دکوهی خټه په کوهی لګیږي

دګور خاوره په ګورلګیږي

۴ــ او به چی په سر واوړي ــ څه یوه نیزه څه دوه .

دلندو به څه لانده شی .

۵ــ زه دې پوزه غوڅوم ــ ته پیزوان غواړې

زه دې حق نه منم ــ ته وایی چې درانه یې وتله

د ملتونو منځدریز یا شاعرانه خصوصیت:

نامتو نقاد بیلینسکی به ویل: «متل داولس دمتداولی او د ژوند دعملی فلسفی شعردی»(۱). دمتلونو په ارزښت کې ډیرزیات رول بداعت ، د افادي طرز دکلمو دجوړښت انځو لیزه افاده لري. په متلونو کی هره ول استعاره، کنایه او مجازځای شوی دی خو سره له دې یی مفهوم او داستعمال مورد بیخی څرګند دي چې د ایجاز اودبداعت خصوصیاتویی ادبی مقبولیت عام کړی دی.

۱ــ دپښتو دمتلونو او محاوروژ به او منظومیت ۱۴۲ مخ.

په پښتو کې عموماً د وه ډوله متلونه موندلی شو:

الف- منظوم متلونه: دا ډول متلونه د یوه بیت حکم لري چې هم د قافیې او هم د سلابونو له مخې تر یوې اندازې مقید او خاص اهنګ او تال لري لکه:

بد به دي په زړه لرم سلام به دي په خوله لرم

که په کور کې غوړه سوسی لیونی به غروته دروسی

سل روپۍ پور کړه دا ختر شپه په کور کړه

ب- منثور متلونه:- دا هغه متلونه دي چې د سلابونو په شمیر او د قافیې په مراعات مقید نه دي او عروضي اساس نه لري بلکې مسجع نثر ورته ویلای شو

دا په خپل منځ کې په نحوي لحاظ په دوه ډوله دي:

الف- چې بشپړه جمله وي، مستند او مستندالیه یعنی فعل او فاعل یا مبتدا او خبر ولري دي ته په انګلسي کې Proverb او په روسي کې «پسلوویځه» ویل کیږي. دا هغه مستعاره بشپړه مقوله ده چې کنایي مفهوم افاده کوي او غالباً آهنګ لرونکی «سندریز» فورم لري لکه:

که غرلوړ دی- په سر یې لاره ده.

ب- هغه چې بشپړه جمله نه وي او په نحوي لحاظ د کلام یو سهم جزونه لري خو نو ر د متل د تعریف لاندې راځي دې ته په انګلسي کې Sayirg او په روسي کې (پګه وورګه) ویل کیږي لکه:

نوستا د ارو ته زسادارو

وړه په وړه سینت یې په څه

خپل عمل دلارې مل

خپله وطنه
گله وطنه

دغه ډول ته ځینې خلک محاوره وايي خو د پښتو او دري داولسي ادب په کتابونو کې عموماً د متل په نامه يادشوي او په کوم تو پیر و رته نه دی کتل شوي(١) متل کله یوه جمله وي لکه:

دغله ځای په غره کې هم نه شي

او کله دوه جملې:

رانه ته مه ګوره — کانه ته ډول مه وهه

کله چې متل له دوو جملو څخه جوړوي ددواړو جملو ترمنځه کله د عطف معنوي ارتباط موجودوي «دعطف ادات حذفیږي» لکه:

کو تک وهه دوروړ د پاره — خبره کوه د خدای د پاره

او کله د شرط او جزاء

دغنی که زره سوی شي — خوار غریب به پاتې نه شي

او یاد اسې نور ارتباطونه سره لري چې دو یمه غالباً دلو مړی تابع جمله وي. ډیر لږ متلونه له دریو جملو هم جوړوي لکه:

«دکونډې کره زوی نه و — چې زوی یې پیدا شو — سرګوګه شوه».

د پښتو متلونو د ټولو اوخپړلو تاریخچه:

له ډیره وخته راهیسې د پښتو متلونو راټولولو او څیړلو ته هم په هیواد

---

١ — انګلیسي — پښتو قاموس د پښتو ټولنې چاپ هم دواړه کلمې په «متل» ترجمه کړې دي.

او هم په بهرنیو هیوادو نو کې پام او ښتی دی او په دی باب دیر و محققینو او څیړ و نکو زیار و یستلی دی ـ خو زما په خیال په هغو تو لو کې د غه راتلو نکی اثار دخاصی یا دو نی و ړدی :

۱ دستلو نو لو مړی مجمو عه ـ دمحمد قد یر تره کي او امین الله زمر یالی تو لو نه تو ل (۲۳۱) ستلو نه ـ پښتو تو لنه ۱۳۱۸ کال .

۲ ـ دو یمه مجمو عه محمد گل نو ري (۱۹۰۰) ستلو نه پښتو تو لنه ۱۳۲۷ کال .

۳ ـ دریمه مجمو عه محمد دین ژ و اک (۲۷۷۰) ستلو نه ـ پښتو تو لنه ۱۳۳۴ کال

۴ ـ دعنایت اله شهر انی (امثال او حکم) ـ بیهقی ـ ۱۳۵۴ کابل .

۵ ـ پښتانه ـ میاخان اپر یدی ۱۳۵۰ کال .

۶ ـ دمحمد شفیق و جدان (ادبیات سردم) دپښتو یوه برخه لری کال یې نه دی لیکل شوی .

په پښو و نس ان کې :

۷ ـ «سپیڅلی گایو نه» سیال کا کړ کو ته ۱۹۶۹ کا ل

۸ ـ «ملی ادب» ۱۹۷۲ کا ل .

په بهر نی نړ ی کې زما په خیال سهم یې دادي:

۱ ـ د پښتو ستلو نو او محاو ر و مجمو عه ـ دښاغلیو و یخو سکی، گاو ر یلین او چو یکوف له خوا ـ تاشکند ۱۹۵۰ کال

۲ ـ دپښتو ستلو نو مجمو عه ـ دښاغلی لیبیدیف، میر من لو دمیلا یاخو و یچ له خوا ـ مسکو ـ ۱۹۶۱ کا ل .

٣ـ د پښتو نقلونه ښاغلي بويل ـ الله‌اباد ١٩٢٦ کال (١)

٤ـ د پښتو ايډيماو ډکشنري ـ گيل بيرت‌سون ـ هير تفورت (١٩٣٢) کال (٢)

٥ـ (د پښتو متلونو او محاورو ژبه‌او نظم) ـ سولت‌شاه‌سيرگا نوف ـ ددو کتور له‌پاره‌تيز يس ـ مسکو ـ (١٩٧٣) کال ـ دغه‌قلمی کتاب د مؤلف له خولي څلورزره‌متلونه لري. دغه کتاب‌په (٤٠٢) مخونو کی ليکل شوی دی ،هم دا موادو له مخی بهای او هم‌دتيوري‌او تحقيق‌له پلوه‌بيخي نوی‌او دنوروټولو مجموعوپه اندول عالمانه تحقيق لری (٣)

دلته‌دلرغونی يونان څو متلونه‌چی‌لاپه‌قبل‌الميلا دپيړ يو کی هلته رايج‌وو دپښتو متلونو په‌مقابل کې‌دښکارندوی‌په توگه‌وړاندي کيږی (٤)

پښتو: وروستيه‌فکره چی‌وړومبی وای

يوناني: دو يم‌فکر هميشه‌ډير رسيد لي وی

پښتو: دسپی‌داړی په‌سپی حصا ريږی

يوناني: ميخ په ميخ ويستلای شی

پښتو: دنوك‌په ځای سوك‌مه‌منه‌ږه

يوناني: دلمبلو په‌تاس‌کی د يلفين نه‌ځايږی

پښتو: په‌يوه‌گل نه پسرلی کيږی

1-hag luna- G.A. Boyle-Allah—abad-1926
2-G.W. Gelbertson-the pakkto Idiom a dictionary. Hertfort—1932.

٣ـ دغه‌اثرپه کابل‌مجله‌٤ ١٣٥ کال په‌پنځمه‌گڼه کی‌ښاغلی‌معتمدمعرفی کړی‌دی.

٤ـ يونا نی‌متلونه «دلرغونی يونان دادبياتو منتخبات(٤١)مخ

یونانی: یوه‌توتکی پسرلی‌نه شی را وستلای

پښتو: له‌بارانه‌تښتیدمه‌ـ دناوی‌لاندی‌می شپه شوه

یونانی: له‌لوګی‌تښتیده ـ په اورکی ولویده

دلته دلرغونی‌باختری‌ژبی دوه متلونه هم‌وړاندی کیږی‌چی‌د کونیت کور ـ
ځی‌روف(Kvint Kurce ruf) لرغونی یونانی مؤرخ
په‌روایتونوکی پاته‌شوی دی.

دی‌وایی‌چی دباختریانو ژبه‌په‌متلونو زیاته بډایه وه(١) او دغه دوه
متلونه یی‌تری نقل کړی دی.

١ـ ډارن‌سپی‌دومره کلکځغاپی چی‌هرسره‌خوړ ل نه‌کوی .

٢ـ سیندچی‌څومره‌ژوروی‌هماغومره یې‌د بهیرغږ لیږوی.

یوساکی متل‌چی د لوکیان(Lukian) ـ سیلا د ی د ویمه پیړی)
په‌روایت کی‌پاتې‌دی (٢)

له دې زیا ت خجا لت نشته‌چی په دوستی کې دروغ جن ښکاره شي.

١ـ تاجکی نظم‌له تاریخ څخه تا . . . (٣٣) مخ

٢ـ دتاجیکی نظم‌له‌تاریخ څخه . . . (١٣٥) مخ

اولسي عشقي سندرې

اولسي عشقي سندرې دا ولسي ادب خورا ډېره مهمه برخه ده او په هر اولس کې يې خپل محبوبيت تراوسه ساتلى دى. د تاريخي سندرو او تاريخي حماسې سره يې توپير دا دى چې اولسي سندرې کومه تاريخي پېښه او کوم تاريخي هېرو غالباً نه لرى، کومه اولسي تاريخي شهکارى ورکې نه وي ترسيم شوي، بلکې د ټولنې دوګړو د داخلي احساس، خوالې، د زړه راز دغم او کړاو، د مينې او بېلتون هنداره ده. دانسان د پيدايښت او تشکل سره د ده داخلي احساس، خواله، سينه او غم ملګرى دى، بلکې همدغو صفاتو له انسانه انسان جوړ کړى دى. خو دا چې کوم وخت او په کومه مرحله کې دغه لطيف احساسات د سندرو او موزونو خوږو الفاظو په قالب کې لويدلي دي؟ فولکلور پوهان د دغې پوښتنې ته کوم يقيني ځواب نه لري. د اولسي ادب له څېنو برخو لکه تاريخي افسانوي حماسه

او تاریخي سندرې چې په غالب گومان دخانخاني اوملوك الطوايفي لــه تشکیله وروسته منځته راغلي دي ، د اولسي عشقي سندرو تاريخ ډېر لرغوني دي .

دوی دخانخاني دسیستم نه لاډېرې پخواجوړې شوې دي ، بلکې دتولنو دژبې دفورم دپوره پشپړتيا او کمال له عصره يې کيدای شي څه وروسته پيل وکړو .

اولسي سندرې دهراولس دروحياتو، احساساتو اود اخلي دنيا روښانه هنداره ده .دفولکلور او ادب نقادان په اولسي سندرو کې داولس مقدرات، هوساینې تنگسې او محروميتونه ويني .

دټولنپوهنې يو تن روسي نقاداتو دخپل اولس دعشقي سندرو په باب ډېرڅه ليکلي دي :دد وی په جمله کې بېلېتسکی دخپل اولس دغم جنو سندرولړزوونکي غږونه په واقعيت کې دهغومحروميتونو او د داجتماعي سختوشرايطو انعکاس باله چې د يې برخې کروندگرله ځولې وتل .

کيرشن داسندرې دهغو پېغلواوزلميانو له خولې يوسخت پروتست گانه چې دپلرونوله خوا مظلوم او محروم وو، پلرو نه يې دنيکونو او نيکونه يې دټولنې دجگ پوړ له خوا بې برخې شوي وو . (۱)

په اولسي سندرو کې ځا لبآ هيروزلمي يا پېغله وي چې په سندرو کې

۱ـ روسي اولسي سند رې ۲ ، ۱۹۳۰ ـ ۱۹۳۳ مخونه .

ستایل کیږي ـ څرنګه چې دنړۍ اولسونه دبدني جوړښت، ملي لباس دسينګار دوداونو او کړووړوله مخې سره توپیرلري دهغو سرحسم داولسونو په اولسي سندرو کې دمعشوقې دستا یلو لارې ، استعارې ،تشبیهات هم سره توپیرلري .مثلاً دزلمي کوره شمله ، دپيغلې دپاولیو شرنګ ،په رنجو تورې سترګي ،په زنه شینکی خال او داسې نور په لویدیځو اولسي ادبیاتو کې نه شوموند لای .

اولسي سندرې په پښتو کې :

په اولسي سندرو پښتو د و مره بډا یه ده چې غالباً د نړۍ ژباتې ژبې بې په دې باب سا رې نه دی .

زما په خیال ددې علت هم دا دی :

دځینو عواملو له امله پښتو ډېر وخت له لیکلي ادب څخه تقریباً بې برخې وه او ادب بې له یوې پېړۍ نه بلې ته په شفا هي دول انتقال کیده ،

پښتنو خپله ادبي تنده په اولسي‌ادب ماتوله او دغه میراث یې بډای ساتلی دی .بله‌داچې د پښتنو اکثریت د پوونده و کوچیو اوله بیاړو څخه لیرې په کلیو او بانډو کې اوسیده (او اوسي) د لیک او لوست نه محروم ، د لیکلي ادب سره نا آشنا او پوهانې داولسي ادب ساتونکي او و بونکي و و .

دوی نه پوهاوی خپل اولسي ادبیات دفولکلورپه صورت‌دپېرېو ، پېړیوله پاره وساتل ،بلکې خپله ژبه یې هم‌له عربي‌او نورو ژبوله نفوذه او اغیزې خوندي‌وسا تله .او څرنګه چې د لیکلو‌اد بیا تو‌بنسټ د ا و لس د

فولکلوریکو ادبیاتو په بنسټ غالباًایښودل کیږی‌نو دپښتو په لیکلی‌ادب کې هم دغه سوچه والی او نګه‌توب دنو روژبو داد بیاتو په نسبت لیدل کیږی.

دپښتو اولسي ادبیات اوسندرې په عمومی ډول دغه خصوصیات لري:

۱ــ دپردیو ژبو له لغاتو او الفاظو څخه‌سوچه والی .

۲ــ دنالوستو کسانو په ژبه او دهغوی دداخلی او خارجی احساس او چاپیریال ښکارندوی . دتصوف‌او عرفان له مضمون او روح نه په‌څنګ .

۳ــ دعربی (او دري)له عروضو او ښیترېکوخصوصیاتو څخه‌په څنګ‌او لیری .

۴ــ ښکلااو دښکلو مینه ورکې طبیعی اوفطری رنګ‌لری اودروحــــی انحراف سرحد ته نه ده رسیدلې .

۵ــ که‌رزمی‌وی که‌بزمي‌د کوم واکمن‌او با دارمدحه‌اوستاینه نه لري.

۶ــ مفهوم او مضمون ورکې‌له قافیې‌څخه نه دی قربان شوی،ایجاز او اختصار یې لوی خصوصیت دی .

۷ــ دتشبیه‌او استعارې‌طرفین یې دخپل چاپیریال مولود دی،دختااو ختن‌سنګ او دیمن‌لالو نه‌نه‌لری، کیفیت او کمیت‌یې دخپل‌چاپیر یال زیږ ندده. همدغه سبب‌دی‌چې دپښتو اولسي‌ادب‌هم دکیفیت او هم‌دکمیت له‌مخی بیخی بډای دی .

دکمیت‌له‌مخې‌دپښتو لنډۍ‌یوازې دوسره‌زیرمه لري چې‌دنړۍ په هیڅ ژبه

کې بهساري و نهلري. که څه هم تر او سه د هغو یو ازې (۷۳۰۰)(۱) را ټولې شوې دي خو، یقین دی چې په اولس کې به د هغو شمیر له سلو ز رو هم زیات وي. دلته د مستر راورتي دا خبره بیخي په ځای ده چې وایي:

«پښتانه که څه هم و رځپاڼې او نورې خپرونې نه لري، خو هغه ساده او عامیانه اشعار او سندرې چې په عام ډول د پښتنو هرې طبقې و یلې دي، د دوی تاریخ او و رځپاڼې بلل کید ای شي». (۲)

د کیفیت او تنوع په لحاظ د پښتو اولسي ادب ز بات ډیر قسمونه سندرې لري په هره سیمه او هر خیل کې تقریباً خاص ډول سندرې پیدا کیدلای شي چې ټولو لیې دیوه کس له وسې پو ره نه دي.

دلته یې څو مشهور ډولونه څیړل کیږي.

۱ـ «پښتنې سندرې» لومړی ټوک.

۲ـ «د خلکو سندرې» ۳ مخ.

لنډۍ

لنډۍ د پښتو داولسي ادب یو مهم ساری بڼه په بانګه ده. زموږ د ټولني دژوند او ایډیا هیڅ خوانشته چې په لنډیو کې یې انعکاس نه وی موندلی .

مینه، ښکلا، وصال، بېلتون، خوښی، خواشیني، تیری، عدالت، سربښندنه، وطن پالنه او هر ډول رزمي او بزمي ایډیا په لنډیو کې ځای شوې ده. د پښتو د اولسي ادب، روحیاتو، دژوند دشرایطو، کولتور او دود دپېژندلو له پاره لنډۍ د یوه دایرة المعارف حیثیت لري .

لنډۍ (چې د ټپې، مسرۍ، ټیکۍ په نومونو هم یادیږي) د پښتنو په هره سیمه، هر کلي او هر کور کې د اولسي ادب یوه مهمه برخه ده، خو په هره

سيمه کي په خاصو غرونو او تاکلي دول وېل کيږي چي مشهور ئـي
دليرا ،ننګرهار ،وردګو،شلګره کندهار اونوردی او هرځای يې غږ
او کمو زيسيمې تلفېزي لاندې وي او دهر دول موسيقي په قالب کې ځايږی.
لنډۍ کله په ځانګړي او کله په ډله ييزه دول ، کله يوازې او کله د
سرو کوسره يو ځای وېل کيږي .

د لنډۍ يو ګوروم :

لنډۍ هميشه له دوو بر خوجوړ ېږي چي لومړۍ برخه يې (۹) او دو يمه
يې (۱۳) سلا به وی .

دلنډۍ دويمه مصرع هميشه په (ونه - Una - (غږګندواو) ،
ينه ، Ina (غږګندې) ، (زورکی + ana) ، (زورکی +مه،
مجهوله يې× مه) پا ی ته رسيږی لکه :

په لوړو غرو دخدای نظر دی — پسرلی وا وري وروي چا پيرګلونه

که په ميوند کې شهيد نه شوې — خدايږو لاليه بې ننګی ته دی ساتينه

زمايه رنځ جانا ن خبر دی — داروخونه کړي تش يې نه کوي يو ښتنه

په خنداشنه په ملاشوې ساته — دجنت حورې ا په کولی د ې وويشتمه

زمايه د ې و طن کې څه دی — ملا لو سترګو د ا ښنابند کړی يمه

له دغه فارموله وتلي لنډۍ له ادبي معياره وتلي ا وپېځې کېږي .

ما ديپتو لنډيو دلوسيپيتوك د (الف ، ژ، ی) لنډۍ وليتولې چې تولې (۳۷۳)

لنډۍ کیږی په هغو کې یوازې یوه لنډۍ په (زور+نه ana) پای ته رسیدلې (ا و د ۱۸) په (ǝna — ز و ر کې + نه)

ا ر ما ن ا ر ما ن خپله و طنه - دخپل و طن جا مې سی و لویدی له تنه

او په دغه تول کتاب کې یوازې یوه لنډۍ په (له) پای ته رسیدلې .

اصیله وم کم اصله یو و رم ـ کم صله ! داسې سې ساتې لکه مغو له ؟

دغه لنډۍ په فنی لحاظ اعتبار نه لری او دلنډیو له اصلې فو رم سره ار خ نه لگوی او حتی لنډ ی و ر ته نه شو و یلای .

دلنډیو بل خصوصیت دادی چې په هر څلو رم سلا بل یوه څپه (دجملې اکسنټ) راځي او په دې صو رت په لومړی بر خه کې په څلو ر م او اتم په دو یمه بر خه کې په څلو رم ،اتم او دولسم سلا بل څپه را ځي .

څپه په خج لرو نکی هجا واقع کیږی .له دغه ځایه د لنډیو لومړی او دو یم بار کې هیڅکله په خج لرو نکی هجا پای ته نه رسیږی په د غه لنډۍ کې سلابل او څپې ترسیم و ړ اندې کیږی .

که ـ په ـ مې ـ وند +کې ـ ش ـ هيد ـ نه + شوې
خدای ـ ړو ـ لا ـ له+ یه ـ ې ـ ئن ـ گی+ ته ـ د ې ـ سا ـ تی + نه

دا په هغه صو رت کې چې لنډۍ یو ازې و یل کیږی او که د سرو کو سره یو ځای شی په هغه صو رت کې د سرو کو دخصوصیت سره سم د لنډیو په څهو کې تو پیر راځی او کله لاداسې هم و یل کیږی چې کو مه څپه و ر کې نه احساسیږی د سیمه ییز و غیر و سره هم څپه په خپل کیفیت نه پا تې کیږی

او په يوه نيمه‌سيمه کې تو پيرلري ،چې داخبره بيله موضوع ده او بيل تحقيق غو اړي .

په لنډيو کې دښځو ونډه :

دپښتو په اولسي‌ادب کې‌عموماً او په لنډيو کې‌خصوصاً دښځو ونډه‌ډېره زياته‌ده.همدغه‌لنډۍ‌دي‌چې‌په‌و يرنو،ودونو ،دغم‌اوخوښيووختونو کې ويل‌کېږي.

دلنډيوجوړو ونکي هم‌غالباً ښځې دي،زياتې لنډۍ‌دزړه دژورو تأثراتو خواشينو او خپګان انعکاس‌دي.

د نيمايي نه‌زياتې لنډۍ‌د غم، خپګا ن ، دردېدلي‌زړه‌او دمحرومیتو نو ترجماني کوي.زمونږ په‌ټولنه کې له بل هرچانه زيات ښځې‌له‌خپلو اجتماعي حقوقونه‌بې‌برخې‌دي.دغه‌لنډۍ ددوی‌دزړه او ازدي ،ددوی‌ددرد دمن زړه څګيروی دي‌او ددوی‌دغم زړلې سينې آه‌دي چې دناړينه ومخ ددوی تير يو، بدسلوك او دناوړه دودونوخوا نه اړ وي.

کله دبنې‌له‌غمه ژاړي:

د بنې غږ راباندې وشو — لکه ډوډۍ په تناره کې وريته شو مه

او کله دسړه‌له بده سلوکه:

نيستي‌دخدای‌له‌لوري راغله —سوزی په مامنت کوي‌چې‌خواردې کړمه

دجبر او زورواده‌غم بولي او داسې‌ميړه ته‌سوزی وايي.

سوزی په‌سينه‌خه‌پو هيږي — په نس‌ېې‌سوزی کړه‌ترسبا کوی خو بو نه

خاوندە بيادې ساخوستن کړ — د نارضاګۍ نه سړي‌پر دي‌انداسو نه

او کله د بېو سي او بې وا کۍ له لاسه مرګ غواړي:

صورت زما او الکښي د بل دی — خدایه نو روا خلې دا بېوا که صورت تو نه

په هر صورت لنډۍ زمونږ د پښتو لنې نالوستو او پیسواده خلکو جوړې کړې او په ساده او روانه ژبه ویل شوې دي.

څینې لنډۍ داسې هم دي چې په څرګند ډول میرزایانو او ملایانو جوړې کړې دي او داسې لغات او تعبیرات ورکې وي چې عام خلک پرې نه پوهیږي لکه:

شفق یې مه بولی عالمه — اسمان زما په ژړا اوښکې تو یوینه

علم دریاب طالب او باز دی — یا به ځان ډوب کړي یا به باسې ګرهر ونه

عقل د سر فکر د زړه و — د یدارد ستر ګو، د خولې بنې خبرې وینه

په دغسې لنډیو کې هغه ژوراحساس، هغه خوند، هغه کیفیت هیڅ نه وي لکه څو مره چې د نالوستو خلکو له خوا په ساده او روانه ژبه ویل شوې وي د و مره تو پیر لري لکه طبیعي او د کاغذ ګل.

سروکی

سروکيچې(سرونه)او(نيمکی) همورته وايې‌داولسي سندروَکې مهمه برخه لري.

سروکي په‌ځانگړي ډول نه‌ويل کيږي، بلکې هميشه دلنډيو سره په‌خاص اهنگ او خاص کمپوزځای کيږي‌اوکله داتې په‌ذاروکې هم ويل کيږي.

سروکي دشميرله‌مخې دوسره زيات دي‌چې‌ديوې ضابطې اوقاعدې لاندې يې راوستل اسان کارنه‌دی.دفورم‌له‌مخې هم‌زښت ډير دي. دمضمون‌له‌مخې سروکي غالباًدژوند يوه‌حساسه برخه‌تمثيلوي لکه داولس‌يوه‌تاريخي حماسي برخه، دطبيعت دښکلاپواړخ،دمينی د داخلي احساس‌يوملحظ او داسې نور.

دغېنو سرو کو لړا و ریدو ځخه و پوهېږو چې د ادیوې تاریخي پېښې څرګندوی دي او هغې پېښې به تاریخي اهمیت د رلو د، ځکه نو سرو کي دفلکو رې سندرو په سر او داولس په خولو کې لاژوندي دي. دغه پېښه یاد تو ل هیو اد او اولس د سرنوشت سره اړه لري لکه:

په خیبر راغلې پوځو نه + کوي جنګ + تېښته و نه کړې ما مدجانه

کله د یوې سیمې د سرنوشت سره لکه :

ورته راکا ږه توپونه + ناوګي مو سندوو رانه کړله + عمر اخانه!

او کله د یوه شخص لکه :

متین په تورکې کلابند دی، سر ږه شینه + غبدالمتینه! زولنې، درته راوړینه

کله د ښکلا د یوه اړخ ترجمان وي لکه:

هلک نرې چنار دی - نجلۍ د ګلو نه + په سرېې نرې شال دی، په غاړه یې ګلونه

او کله د مین د داخلي احساس یوه خاصه لحظه څرګندوي لکه:

ستا لیو نی مینه سې خوب ته نه پرېږ د ینه + لېر خبر سې واخله جانانه!

سرو کې لکه څنګه د شمیر له مخې ډېر زیات دي همدغه شان د پښتو نخوا په هره

سیمه کې دلنډیو سره په بیل بیل ډول پیوند یري او په بیل بیل تال (اهنګ)

و یل کیږي نو د پښتو داولسي اهنګونه د لټون په ترڅ کې دلنډیو سره د سرو کو

د پیوند ډول معلومول هم یو مهم او ګران کار دی.

دسروکو تقطیع او عروض:

سروکي دا ولسي سندرو داسې برخه ده چې لنډۍ د پیل نه مخکې بشپړ او کله یې یوه برخه ویل کیږي او بیا د لنډۍ په منځ او پای او کله یوازې په پای کې ټول یا د هغه یوه برخه تکراریږي چې سیمه ایز خصوصیات لري.

په لنډه یو کې د تکرار په نسبت نه، بلکې د خپلو اجزاو د تالیف په نسبت سروکي په دوه ډوله دي:

الف: هغه سروکي چې په خپل جوړښت او تالیف کې یې تکرار نه وي، یعنې نه ټول تکراریږي او نه د هغوی یوه ټوټه یا برخه.

ب: هغه سروکي چې یا ټول تکراریږي او یا د هغوی یوه برخه.

لومړۍ ډله په څلورو څانګو ویشلی شو:

١— هغه سروکي چې له دوو پارکو یا مصرعګانو نه جوړ وي.

٢— هغه چې له دریو پارکو جوړ وي.

٣— هغه چې له څلورو پارکو جوړ وي.

٤— هغه چې له پنځو (وندرتاً له زیاتو) پارکو جوړ وي.

لومړۍ ډله:

هغه سروکي چې له دوو پارکو جوړ وي د عروض، سیلابونو او څپو له مخې کله انډولیز وي یعنې دواړه برخې یې د څپو د شمېر له مخې سره برابرې وي او کله بې انډوله یعنې یوه برخه یې لویه او بله یې وړه وي.

انډولیز سروکي: دغه ډول سروکي غالباً د دواړو پارکو ترمنځه یوه

قافیه همساتي او دليکلي شعر سره يې دفو رم لەمخې دو مره تو پير نه ليدل کيږي لکه:

يار راله جدا شو په لمسو نند رقيبانو + او ښکي ملغلري دي تو يږي له چشمانو

د ما بو يې په خاره زانگي تا و يز و نه + مخې ته راغله تو رې ستر گې سره لاسو نه

په تادې راشي دخز انسارمبا دو نه + زودی کرم جدا له خوا په ياره پېلتونه!

په خو ب و بەمو م چې په مخ مې چالاسو نه و هل + چې سر مې جگ کړ خپل اشنا راته خالو نه و هل

تو ر و ربل دې بند په بند + گل په شان او دلې دی.

دلته گو رو چې له ورستي سرو کي پر ته نو رتو ل قافيه لري دلو مړی سرو کي هر ه مصرع خوار لس څپې، دو ار ه اته و پشت، ددو يم ديار لس دو ار مشپږ و پشت، در يم هم په همدغه عرو ض، دغلو رم هر مصرع پنځلس څپې او د پنځم هر ه مصرع او و ه څپې کيږي.

يې ا نهو له سر و کي:

دا هغه سرو کي دي چې دواره يار کي (مصرع) يې يوه اندازه څپې او انهو ل عروض نه لري، بلکې کله يې لو مړی يار کی له دو يم نه او ږد او کله با العكس وی.

دا هم په خپل سنخ کې په غلو ر و څانگو و يشلای شو :

الف: لنډی و زمه سرو کي چې دغهو دشمير له مخې د لنډ يو سره تو پير نه لري، يعنی لو مړی يار کې (۹) څپې او دو يم يې (۱۳) څپې وی (دلته د هری مصرع

د څپو اندازه پهشمیرښوول کیږي):

راوړه بندی چي‌او سږیږي‌وړو نه(۹)+جانانه بیرېږته راځه‌چي‌وڅانګو نه(۱۳)
وه شغاسي‌یاره‌جانانه(۹)+جو نکي‌ژاړي،وړ کي‌یا کابل ته‌ځینه (۱۳)
چاپیره‌او رو لګید نه (۹)+ کو ز د چنار په کندو لیو نی‌راغله (۱۳)

ب : هغه‌سرو کي‌چي‌د(لنډۍ‌وزمه)سرو کو په‌عکس‌دي‌یعنی‌لومړی‌پارکی‌یې (۱۳)او دو یم‌یې(۹)څپې‌وي، دغه‌ډول سرو کي زښت‌ډیر دي لکه:

تلي‌مي‌سوزي‌په‌غرمو و لاړ ییمه +سخته‌د بل‌وطن یاري‌دمه
دا نیمه‌شپه‌ده‌غم‌مي‌خو ب‌ته‌نه پر یږدینه+اشنا‌خپه دی‌نه‌را ځینه
امیل‌داو ښکو به‌له‌ځانه‌سرمو ړمه+زه‌د جانان‌دید ته تڅمه
زه‌په‌ورېل کي‌دشړ شم‌ګلو نه‌ږدمه+ماته‌راسیل‌له‌پاغه‌ر ا وړه
زه‌دجانان‌دیدن‌ته‌چیر ته‌و در یږمه+لاړو کوځو کي‌ځما زاندی
ستادښو غشو په‌زړ مو یشتلی‌یم+لاس‌مې‌دزړمله‌پلمه کیږ د ه
دلیو نتو ب‌نه‌مي‌خبر شو ل‌عالمو نه+مینه به څو پټه‌ساتمه
ستالیو نی‌مینه‌مي‌خو ب‌ته‌نه‌پر یږ د ینه+ لږ خبرمي‌و اخله‌جانانه

ج: هغه‌سرو کي‌چي‌لو مړی‌پارکی یې‌دلنډۍ یود دو یم‌پارکی به اند ازه څپې لري‌خو ددو یم پارکی‌څپې‌یې کمې وي لکه :

بیګاه‌ته‌راشه‌جاروی‌سي‌دالاندی(۱۳)+وو روو ریا را ن دی(۵)
په‌مادې کړي‌دلندو لښتو و ار و نه(۱۳)+زماجانه!مات دي‌شه لاسو نه
سپینه‌رو یې‌یې‌په‌ورېل کږه و ږه ده (۱۳)+نن‌یا نجلکي خپه‌ده(۷)

له خوبه پاڅه مسافر جانان دې ځينه (۱۳) + بيا خو نه راځينه (۹)

د: لنډ څه داسې سروکي هم شته چې دوېم بارکي يې د لنډيو د لومړي بارکي په اندازه وي، يعنې (۹) څپې لري خو لومړی بارکی يې د څپرو د شمير له مخې ورو کی وي لکه:

تا چې راوړی له بازاره په پيسو (۱۲) + شين خال دې بو وايه په خو (۹)

هغه سروکي چې له دريو بارکو څخه جوړ وي:

دغه گروپ سروکي د قافيې له پلوه په څلور ډوله وېشلای شو:

۱ — د قافيې له مخه وتلي لکه:

راشه ليونيه (۹) + تور زلفو ربل سي سنادي (۹) + د پل خاورې شه بينه (۸)

ورته راکاږه نو بونه (۸) + خالو کې مو منډو و راله کړله (۱۰) + د دير نو ايه (۵)

بنديوانه سي ساتيه (۸) + ماته لالی و ايې وايې (۸) + چې چېرته سه څه د زړه سره (۹)

تاو پښتلي يم شاليلا (۹) + تاو پښتلي يم بيغو ره باره (۱۰) + خو ب خو پسې و ړ بنه (۵)

۲ — هغه سروکي چې لومړی دوه بارکي يې يو قافيه لري خو دريم ورسره شريکه نه وي لکه:

پيروان مې زوړ که د صحرا خړ و گر دو نو (۱۳) + نا جوړه کړم غمو نـو (۸) + جانانه راشه راشه (۷)

راشه زما باره (۹) + زه پسه بيماره (۹) + ستا خمار و ستر گو په زړه و پښتلې يمه (۱۳)

جانانه راشه په گلشن نوی بهار دی (۱۳) + زړگی مې ناکرار دی (۷) + زمـا

شیر نیه یاره(۸)

داتوري څمۍ نرۍ شمال و هینه(۱۳)+ یاره نازنینه(٦)+ لږ مې خواته راشه (٦)
دسرو گلو نو ښانگي(۷)+ لیلا دخیاله زانگي(۷)+ تازه کړه رنځوره (۷)
جارجار لالیه(۵)+سرمه شې لالیه(٦)+زه سینه نه یم چابه دروغ ویلی و ینه (۱۴)

۳— هغه سرو کي چې لوسړی او دریم پارکی یې په یوه قافیه وي خو دویم
ورسره شریک نه وي لکه:

پاس په گودرولاړی نجلی+یا به خو له راکړی+یابه ماتی وړی ښنلگي
بل اوردی+ومستی نادانی ایلو+پیکی دې توردی.

نن دی و هلی په لنډی زنه خالونه+ څه په شرنگ شرنگ+تورو ربل دې جوړ دی
ولو ولو نه

۴— هغه سرو کي چې دریواړه پارکي یې اصلاً په یوه قافیه وي او شمیر یې
کم دي لکه:

دمازیگر اوبو ته څی خالونه تور لگوي+مابو به اور لگوي+دچا په کور . .
جانانه راکړه اجازه ناوخته کیږی+څم درنه باران وریږی+شال مې لندیږی

هغه سروکي چې له څلورو پارکو جوړ وي :

له څلورو پارکو جوړ سرو کي دقافیې له مخې په(۹) ډوله ویشلای شو:

۱— هغه سرو کي چې څلوروارو پارکي یې په یوه قافیه وي لکه:

توري سترگي خماري+درته کړم ناله زاري+دزړه زخم مې کاري+شوم رسوا
ستا په یاري .

لیلاخندل کوی، په زړو نوچل کوي، سترګي یې توري په کجلو کړي خوږل کوی، عجب کتل کوی.

۲– هغه چې یو ازې لومړی دوه یې یوه قافیه وی لکه:

موری یې ښي راکوه چې پسې ځمه، سره به شمه، یاره سپې دزړګر په دکان، لیدلی مادی.

۳– هغه چې لومړی او دریم یې په یوه قافیه، دویم او څلورم یې بله قافیه وی لکه:

تورمي لونګي دیاره، سپین سي تاویز ونه دی، هسکه سی غړی ده یاره، شنه سې خالونه دی.

اسیلو نه جوړوي، وه ار سلاخانه، په زړګر یې سپینوی، جار جار جانانه!

سرې سترګی خمارې، بانه سی جلندر دینه، تیکه سی درې وړې، داچاری دزړګر دینه

۴– هغه چې لومړی او دریم یې یوه قافیه لری او بس لکه:

وه به جارو کړم زیارتونه، شینکی بابا، که سی قبول کړی داسوا لونه – په توروز لفو

چابه دروغ ویلی وی، دربه نتو اتی شم، دبل به دی سنلی وی، مه شه مرور.

۵– هغه چې د سلغ دوه یا رکی یې په یوه قافیه وی او بس لکه:

لکه دزړکی سترګی سرې په لار مځینه، دګلو لیسته دراسیهل چمبیل، په سینو لیجو په داسرو سنګلو، زړه راته یوسی

زیادزلفو ارسان جنه، ربه دی راولړنن، الله دې راولړنن، په چمن بیا

زمه‌یې‌چیب کې‌گرزومه‌ماته شال راورمه‌بایسته وما ل راورمه‌د بنارس

۶ - هغه‌چې‌دمخکي دوه‌بارکې‌په‌یوه‌قافیه اوورستي دوه‌په‌بله قافیه وي‌لکه:

سپین‌دي‌جبین‌دي‌نجلي+ او خال دي شین دی نجلي + په تورو زلفو
کې د ې تومبلي زیر گلونه + را شه چې وکړو د یدنونه.

کمیس‌مې‌لنډو نیسه‌سوري+زمانصیب کړې جلسې‌توري +جانان مې بیاچیرته
روان دي+دیلتانه داسی دوران دی.

۷- هغه‌سروکي چې‌لومړی،دویم‌او خلورم‌یې‌په‌یوه قافیه وي لکه:

څه‌دي‌شو له‌مینه+ یاره‌نازنینه+ ساته‌به‌دي‌داوي+ ته‌فرهادیې‌زه‌شیرینه .

۸- هغه‌چې‌دویم‌او څلورم‌یې‌په‌یوه قافیه‌وي لکه:

نن‌دجانان‌دیدن ته‌ځمه+ توري‌نري وروځې + خدای خودې لنډې کړي
دادزمکي‌تناوونه+ مستې نازنینې

زه‌به‌یې‌څنګه‌تولومه+جماسې+ تاولې‌دانې کړي دي+ وري‌وري.

۹- هغه‌چې‌دقافیې‌له‌قیده ازادوی لکه:

په‌لویوغروباندی راتاوشوتوپانونه‌یاره+ زلې‌ورېږینه + سه‌څه‌دلته
شپه‌وکړمه+ پاتې‌شه‌باران دی .

چرګوناري کړی+ جګ‌شه‌لالیه+خوب‌به‌بیاوکړې مینه+ پاخیږه یاره

یادونه:داسی‌سروکي‌هم‌شته‌چې‌دتقطیع‌له‌مخې‌په‌پنځو بار کوو یشلای شو لکه:

امل دغاړې‌جوړ ومه+خولې‌دګلو+ اوس‌به‌لمن‌د که+ورلورم دګلو+ سپوسبا

زرشه دیدن و کړه + همزولې زانه لاړې + میرا تشي + زه به تار او اخلم + منګیه سات شي

دو یم ګروپ:

دغه ګروپ پسرو کي چې زه د(تکرار يدو نکو) په نامه يا دوم دخپل خاص عروض او اهنګ له اسله تول او یاد هغو يو ه بر خه تکرار یږي. هغه په دې ډول دی:

۱ــ هغه چې بو ازې له یوه پار کي جوړوي او د خپل اهنګ د پوره کو لو له پاره دوه ځله یا څو ځله تکرار یږی لکه :

ادم خانه + وه ادم خانه + وه ادمه یاره!

شاو زيره يار + شاو زیره یاره !

وه ګل سی راوړه باغو انه + وه ګل سې راوړه باغوانه !

۲ــ هغه چې له دوو پاړکو جوړوی، دغه ډول سرو کي په پنځه ډوله دی:

الف: هغه چې لومړی پار کی یې له دو یم څخه و روسته بشپړ تکرار یږی لکه :

پاخیږه مجنونه + لیلا و لاړه تو رې سترګی سره لاسو نه + پاخیږه مجنو نه !

زرزري چپنه + دهلک توره لونګې + زرزري چپنه .

چرګ بانګ دی + پاڅیږه لالیه خوب به بیا و کړی مینه + چرګ بانګ دی.

ب: هغه چی دلومړی پاړکی لومړی بر خه د کوم تغیر څخه پر ته و رکی تکرار یږي لکه: و روځه په بلی + بادې دز لفو بوی راوړی بې تازه یمه + په بلی و روځه

ج: هغه چی دلومړی پاړکي لومړی بر خه دخه بدلون سره و رکي تکرار یږي لکه :

جمدانی لمنی غونډه به دې و ړمه + را وابه دې ړومه + زار جمد انې.

د: هغه چی دسر و کې دلومړي پاړکي دو یم یا سنځنی جز و رکي تکرار یږي لکه :

پاخیره شرینې سبادي+برو لگیږی‌و نی پانی‌ریږو ینه+سبا دي.
پیغله باغ ته‌لاړه شوکوي تازه‌گلونه+اوس به بیرته را شی توري ستر گې
سره‌لاسونه +باغ ته لاړه

ه: هغه‌چې‌په‌دو یم پاړ وکی یی تکر ار یږی‌لکه:.
راشه جانانه+سرم بی‌له‌تانه+سرم بي له‌تانه.
هغه سروکي‌چې‌له‌دریو پاړو کو جوړوي هغه‌په(۳) ډوله‌دي:
۱—هغه‌چې لومړی پاړکي یادهغه‌یوه‌برخه تکراریږي د غه‌تکرار کله
دغه‌تغیر سره هم‌وي لکه:
د کمر گی‌په سرمی کوردي +زړمی‌نسکوردي+دیدن‌ته‌راو ړسینه+د کمرگی ...
خانگي راځه+بستر دگلو+را ته‌بلې‌لمبې‌شونه+خانگي راځه
راځه‌دلبره+ماته کونه‌کړه الغانی+چې‌شور کوینه+خانه‌راځه .
۲— هغه چې دو یم پاړکي یی ددریم‌پسی تکرار یږي لکه:
لرې‌شه‌پیلتونه+غمجن‌دي کړمه+نورمی‌دي‌سوي زړگی‌مه‌اخله ازارونه+ غمجن کړمه
۳—هغه‌چې‌دریم‌پاړ کی‌یی تکرا ریږي لکه:
..ایلبندته‌خیژوینه +زماتوره جانانه +کلې باریږي+ کلې باریږي.
همدغه رنگه‌له څلور و پاړکو جوړ سرو کی هم په څلو ډوله
و یشلای‌شوچی کله‌یی‌لومړي کله دو یم کله‌دریم او څلورم پاړکی تکراریږي.
همدارنگه د پنځو پاړکوجوړسرو کی هم‌لږشمیر شته‌چې د ټولو څیړل
موضوع بیخی‌او ږدوي‌او زه دلته‌و رنه‌تیریږم.

دا تڼ نا رې

اتڼ پر سیزه پر دې چې یو بشپړ صورت دی د بشري ګرځند یا متحرك (۱) هنر په په زړه پورې قسم او دود لري.

اتڼ او دغه ناري د پوهانو په نظر ډیر پخوانی لرغوني دي. اتڼ په بیلو بیلو ټولنو کې په جلا جلا رنګ خپل خصوصیتونه لري له دغه ځایه ده چې د اتڼ سره اکثر وختونه د (اولسي او ملي) کلمې ملګري کیږي. د جنس او شغل په لحاظ هم اتڼ فرق پیدا کوي لکه د توري او ډال اتڼ د ځلمیانو د پاره، د یوم او کروندې د سامان سره اتڼ د کروندګرو له پاره، د منګیو سره د کوډو په غاړه د پیغلو له پاره او داسې نور.

---

۱ — هنر دوه ډوله دي: خوځنده او متحرك لکه اتڼ، نڅا او نور او ثابت هنر لکه رسامي، هیکل تراشي او نور.

هغه وخت چې بشر لا د کروندې سره آشنا نه و او خپل احتیاج یې د ښکار په غوښو او ځنګلي میوو پوره کاوه هماغه وخت لا د نڅا او اتڼ د پیدایښت اټکل کیږي.

هغه وخت به چې وږي انسان په خپلو بدوي وسایلو کوم ژوي ونیوا و د خپل واک لاندې به یې راوست نو له ډېرې خوښۍ به یې په نڅا شو او له خولې به یې نارې وتلې. دا هغه نڅا او نارې وې چې بې اختیاره به ترې صادرېدې ـ همدغو چیغو او نارو ورو ورو هنري او ادبي رنګ پیدا کړ او د نړۍ په بیلو بیلو ټولنو کې یې ملي بڼه غوره کړه.

اتڼ د اریایي ټوکمونو د کولتور یو مهم توکی و. د افغانستان په تاریخي سیمو کې داسې اثار ډېر موندل شوي چې د نڅا او اتڼ د موجودیت شاهدي ورکوي. اتڼ اوس هم د پښتنو په بېلو بېلو سیمو کې په لږ او ډېر توپیر سره عمومیت لري چې په خوځونو، اخترونو، اشرونو او د خوښۍ په وختو کې اجرا کیږي او د هغو سره خاصې سندرې ویلې چې د «اتڼ د نارو» په نامه یادیږي.

اتڼونه په خاص ریتمیک ډول د خاصو غږونو سره یو ځای کیږي چې په نارو کې زیات غږونه (ها، هو، یا) او د کلمو تکرار هم زیات راځي لکه:

(مستانې لونګې غوټه ـ مستانې لونګې غوټه غوټه پر سر کیږده مسر کیږده —
راځه په اتڼ کیوزه ـ مستانې د دنیا ـ یا کارونه پرېږده هو پرېږده)

په نارو کې کله کله یې هم په ورتني خصوصیت ویل کیږي. د اتڼ د نارو زیات دولونه د اولسي ادبیاتو په کتابو (۱) کې شته، دلته یې تکرار لازم نه دی.

(۱) مثلاً «د خلکو سندرې» ۵۰۷ مخونه «پښتنې سندرې» لومړی ټوک د (۳۴۸-۳۶۳) مخونه

بابولالي

دواده دسندرو يومهمه برخه بابولالي دي. دواده هرزلمي او پيغلې په ژوند کې دخيالونو،احساس اوخوښی یوه خاصه مهمه سرحله ده ،خوکه په واده کې کوسه خواناخوښه اودواده ملگری يې په په زره پورې نه وی واده که داجباراوزورله لارې وي هغه وخت واده د خوښی او خوشحالی سرحله نه، بلکې ديومسترغم او ماتم دوره ده چې دناخوښواو مجبورو په ژوند کې شروع کيږي (متاسفانه چې دغه اجبارلااوس هم زمونږ په ټولنه کې دښځو په برخه کې ليدل کيږي).مونږ نه پوهيږو چې د بشريت په د يرو لرغو نو ټولنو کې به واده محدود او دستوردرلود، خودارا ته ښکاره ده چې واده دخپل دوداودستور په لحاظ اوس په ختيځ اولويديځ کې سرطرق لري. په اوسني لويديځ کې دژوند دنوروارخونو په شان دواده دو دونه اسان شوي او دميره او ناوي دژوند ځاني پيښه گڼل کيږی ، خود پروني لويديځ

او ننني ختيځ ترمنځه په دې باب ډېر توپير نه ليدل کيږي، په دې باب چې په ختيځ او لويديځ کې، يا خپله په لويديځ کې د زمان په لحاظ کوم توپير يا مشابهت موجود دی،نشايي غالباً د ميړه په باب د ښځو په اختيار يا اجبار کې باید و لټول شي.

په دې باب داوسني ختيځ او پرونی لويديځ اکثره اولسونه سره ورته سرنوشت لري. د پرونی لويديځ نه دلته مطلب هغه لويديځ اولسونه دي چې صنعت،اجتماعي او کلتوري روابطو ورکې دوسره انکشاف نه وکړی هغه وخت په لويديځو اولسونو کې د ځه لږ او ډېر تغير سره، نه يوازی دا چې يوی پيغلې د ميړه د انتخاب حق نه درلود، بلکې زلمي هم د پيغلې له انتخابه تر زياتې اندازې محروم و. ددوی دژوند دا مهمه پيښه ددوی د مشرانو په خوښه کيده، پيغله او زلمي به غالباً دواړه تر وخته سره نااشنا وو، دواده اجرابه لويه کشالهوه، لګښت به يې زيات او مراسم به يې څوورځې دوام کاوه، په دې باب که د لويديځ د ځينو اولسونو مثلاً شرقي سلاو يا ني قبايلو دو د مطالعه کړو د خپل او لس د دو د ډېر شبيه عناصر به ورکې وموسو.

دواده دوا ړو خوا وخپلوانو به تو ټکی او ګو ډګری او ځينی نوري چاري اجراکولي چې په دې ذريعه ناوې او ميړه يې له بد و ستر ګو ، د بد کارانو له ټولو او کو ډو و ساتي.په دې غرض چې ددوي ترمنځ مينه او محبت تلقين کړي ددوي ته به يې په يوه لوښي او به او خوا ړه و رکول، په يوه دسمال سره به يې د دوي لاسونه تړل، ددوي لوسړي اشنايي به په يوه هنداره کې د سره کتني له لاري وه او د اسي نور.

په دې تفاوت چې په راتلونکي کې د دوي ژوند نيکمرغ او د دوی ډير زوزاد ولري په دوي به يې د غلې داني شيندلې، دوا ده په بستر به يې ورته وا چه خوړول، د ناوې په پښو کې به يې يوکوچنی هلک کښيناوه او داسې نور.

د سيمې د پار ه ځيني خاص دودونه د سيمبول په ډول موجود وو ، د ناوې د پيغلتوب پيکي به په هغو ځنو بدليده چې د ښځيتوب نښه وه، په سرتړ وني، کميس او نورلباس کې هم دغه امتياز موجود ؤ.

د دې د پاره چې د خپل ميړه او د هغه د کورني په مقابل کې ناوې خپل بشپړ اطاعت و ښيي لازمه وه په نمايشي ډول د ميړه له پښو پاڅو ښيو باسی، د خواښې او خسر په مخ کې د احترام سر کښته کړي ، کورجاروا و د او بو ډيسي لا ړه شی.

په دغسې مراسمو کې چې د ولسمې ډيرى ترپايه ځای په ځای په ځينو بزگري کورنيو کې موجود وو ،د ځيرونکو په عقيده په دغه د ودکې د ډيرو لرغونو مراسمو پاتی شو عنا صرو موجوديت لاره.

دوا ده په مراسمو کې مرکزي شخصيتناوې وه، د دې خيره، مقدرات او تأثيرات د وانه د سندرو يا ساندو روح او مضمون وو. د ناوې د خپلوانو او ملگرو د پيغلو له خوا به په همدغه روح او مضمون سندرې ويل کيدې، سا ندې به خپله ناوې، يا د دې له خوا بل چاويلې.

دوا ده نه ترمخه به لا د ناوې د خوا شيني دوره شروع شوه:

په کومه پيغله به چې سرکه کيد له پيغلی به خپل مور او پلا رته په ـــــه اصطلاح (د تړون ژړا) غالباً په داسې عبارت کوله: (زه ستاسو لور، د زړه سر،

دکو رخستګاره يم،ساله‌خپله کو ره‌سه‌باسي، ساپر ديو ته سه‌و رکوی او ...).

ناوي‌به‌کوښښ کاوه‌چې‌خپل‌مو راو پلارد و رکړی‌په تږ و ن‌پښيمانه کا او کدداپښيماني به‌حاصله نه‌شوه،په‌هغه‌صورت کي‌به‌ناوي په خپلو انو،همز ولــو اوملګرو (دخداي‌په‌اماني دو ره) شروع کړه چي‌دادژ را خاص مرا سم وو.

داوخت ناوي نه‌يوازې ديوه‌محبوب چاپيرل سره خداي‌په امانی کوله، بلکي واده ددې‌په نظرله‌خپلوا کی ،ښکلا،لطافت او دپيغلتوب د نو رومزا ياوسره دخداي‌په‌اماني معنالرله. کوم‌وخت به‌چې دناوي‌دو رلو دپاره‌مورا راغله دي به پسانډو کي دمو راو،پلار،همز ولو او نو رو نه غوښتنه کوله چې‌ددې له و رکړې مانع شي. دغو ساندو به کله‌کله د وسره دوام و کړچي حتی دميسره به کو رکي به‌دميلمنو په‌مخ کي هم و يل کيدې‌مګر داوخت معموله‌ وه چي ناوي پټ‌مخ او پټه خوله وي‌اوساندې د دې په عوض‌بله‌داسي‌ښځه وو ايی چې‌پسلندو کي ښه‌و ارده‌وي. ناوي به‌يوازې دو اده په دريمه‌څلورمه‌ورځ‌مخ ښکاره کاوه،دنو روسره دخوښی په‌مراسمو کي، په سندرو و يلو او ښيلو کي برخه‌اخيستله⁽¹⁾ کاوه (۱).

په‌ننني لو يديځ کي‌دغسي‌مراسم‌له‌منځه تللي دي —واده دښادی يو‌معمولي پيښه ګڼلــه کيږي او په ډير بسيط ډول تجليليږي .

په‌ختيځ کي‌عموماً او زمو ږ په ټولنه کي خصوصاً دو اده دو د، رسم او

(۱)— روسی اولسی ادب ۸۸—۹۰ مخونه.

دستورلااوس هم ډېر سخت او درونددی. واده ته دیوې سیمه ییزې مهمې پېښې په شان دسیمې او اولس ډېر میلمانه ور بلل کیږي ، ملاماتو ونکی لګښتونه پکې کیږي. دواده سربوطو ختونه دکورنۍ داجتماعي مقام او اقتصادي شرایطوسره سم غالباً په تینګ تکور ،اتنونو، نڅاو،سندو راو سیمه ییز و لوبواومسابقو نمانځل کیږي.

دواده دسندرو یوه مهمه برخه اولسي لرغونې سندرې بابو لالې دی چې د پښتنو په مرکزي او لویدیځو سیمو کې زیات عمومیت لري.

بابو لالې خاص سندریز خصوصیات، اهنګ او تال لري چې دسیمه ییزې موسیقۍ سره یې په ښا صوغږونو ښځې وایي. بابو لالې غالباً له دریو برخوجوړې وي چې لومړۍ او وروستنۍ یې په یوه قافیه وي. کله کله لومړۍ پارکی بې معنا او خاص داهنګ دجوړولو له پاره وي. په بابولالو کې تکراراو غږ دلوړولو زاید (هو،ووی،های) اوازونه موجود او په لومړۍ پارکې کې یې غالباً ناوې، دهغې کورنۍ یادکورنۍ یوه غړي ته خطاب او په دویم اودریم پارکی کې دهغې دسیره کورنۍ ،اوتبرنوم په ستاینه کې یادشوی وی. بابو لالو کې کله کله دناوې او سیره دکورنیو ښځو ترمنځه په سندرو کې مقابله هم وي چې هره خوا دخپل نفر(ناوې،زوم) تله له بلې خوانه درنده بولي. هغه بابو لالې چې له دریو برخوجوړې وي- معمولاً هر پارکی اته سلابله وي او د کیسو دغږونو سره زیات مشابهت لري او ډېرې لرغونې ښکارې لکه:

تر بالښت لاندې انار دی .

داسي زوړه‌وو روستلي — چې‌نامتو د کندهار دی.

ځيني‌بابولا لي‌اوو،نهه،لس‌تر دیارلسو پوري سلابونه هم لري،خو هغه دوسره لرغوني نه‌ښکاري او معلومیږي چې دبابو لالودخپل تاټوبي (کندهار) مال نه دی لکه:

ناوې سترګې توروه ولاړو وبه‌دې — د(...) نيلي‌ولاړ دی‌سپرووبه دې

د کیسو غږونه

زموږ داولس په‌شفاهي ادب کې دوه ډوله کیسې لیدل کیږي .

۱ — ملي کیسې(قصې)چې‌زیږیدلې،واده‌او ژوندیې‌په‌همدغه‌اولس کې‌تیرشوی‌وي.

۲ — له نورو ژبوترجمه شوې کیسې چې د تاريخي سابقې او خصوصیاتو څخه يې پردیتوب معلومیږي په ژبو کې کیسې غالباً د تاریخي سابقې‌له‌مخې‌خپله‌څیره ښيي(لکه لیلااو مجنون ،فرهاد او شیرینه) چې یوه‌دیوه اولس اوبله دبل‌مال دی) خو په پښتو کې برسیره پر تاریخي‌سابقې او شواهدو دپښتنو خپلې کیسې یو ملي رنګ هم لري او دپښتونولی‌خاصه تاپه پرې لګيدلي ده او هغه داچې‌د کیسو په خاصوا وحماسو برخو کې د کیسو غږونه دي لکه دادم‌خان او دورخانی،دفتح‌خان‌او رابیااو نورو کیسې.

د کیسې غږد منثوری کیسې هغه‌منظومه‌برخه‌ده‌چې دپوښتنې،ځواب او یا د کیسې په یوه حساسه‌او لړزوونکی‌برخه کې د فوق‌العاده‌تأثراو خواشینی یادخوښی په‌وخت کې‌ویل‌شوی‌وي.په‌بله‌ژبه‌د کیسې دحساسې‌برخې حکایت‌په‌شعر سره کیږي .

داشعر کله د يوې لنډۍ په فورم وي لکه د مومن خان او شير ينو په کيسه کې

مثلاً د شير ينو داغيږ:

موسنه: محمد الله دي مل شه.

داشينکي خال او څنې تالره ساتمه

او کله کټ مټ هغه خصوصيات لري چې د هو تکو په نارو کې وړاند ې کيږي

البته غږ ونه په ښايې نو ر خصوصيات هم لري چې ښه لا نه دي څېړل شوي. د کيسو

غږ و نه يو تر بله څه ناڅه توپير سره لري دا هغو د غږ و نو توپير له دې امله

دی چې کيسې ز مو ږ د تو لنې په بيلو بيلو سرحلو او بيلو بيلو سيمو کې تيرې

شوې دي. نو د هر وخت او هرې سيمې د تال او اهنګ داغيزې لاندې جوړې

شوي، چې دا اغيزه يې هم په مضمون ، هم په وزن او هم په اهنګ کې ليدل کيږي.

دا اغيزه به يقيناً په لرغونو وختونو کې زياته نو مخو وخت په وخت او ځای

په ځای تکل چيانو دخپل وخت او سيمې داغيزې لاندې راوستې دي او توپير

په کې زيات شوی دی.

د کيسو د غږ يو ه مهمه برخه د هو تکو نا رې دي:

د هوتکو نا زې

دهو تکو نارې دفو رم لهسخې دکیسو لهغږو نو سره کوم تو پیر نه لري خو دموضوع په لحاظ داولسی سندرو په جمله کې مهم تاریخي مقام لري. دغه نارې دخارجي اشغالگرو یعنې د گورگین او صفوي تسلطه سره دپښتنو دملي مبارزو او جگړو د خاصي تاریخي مرحلې ځلا نده هندارهده.

دغه نارې دډیر و پس نیکه او د هغه د کورنۍ دو اکمنۍ په دو ره مپه ر نیا اچوي چې دډیرو تاریخي پیښو جریان ، دتاریخي اشخاصو او ځایو نو نومونه او رکې ساتل شوي دي. دغه نارې که څه هم دپښتنې فو لکلو ر په ځینو کتابو نو کې (۱) دپښتو داولسي ادب ځانگړی ژانر او قسم بلل شوی، هغه یې دپښتنو دخاصي قبیلې (هو تکو) مال او دتاریخ دخاصې مرحلې (دهو تکو دو اکمنۍ دو رې)

(۱)ــ دخلکو سندرې (۱۳۳ــ۱۳۹)مخونه.

ز یږ نده بلل شوي دي٠خو زما عقیده داده چې دهو تکو ناري داولسی ادب کوم ځانګړی ژانر او قسم نه٬ بلکې د کیسو د غړو نو په عموسي چوکاټ کې داخل او ښایي د کوسې کیسې غړو نه وي چې او س په لاس کې نشته دمفهوم له مخې دغه ناري لکه غړو نه حماسي او دیوې حساسې پيښې څرګندوی دي٬ د فورم په لحاظ له دریو پاړ کو جوړې دي: لو مړی پاړ کی(۱۲) سلابه (څپه)، دو یم چې له قافیې نه ازادوی(۸) سلابه او دریم چې دلو مړي پاړ کي سره یو ه قافیه لري (۱۲) سلابه لکه:

دهو تکو ناره:

که تیرې ګو رجې بیا کړې تیرې ناړې.

یو میر خان و ځینې پاتې ـــ میر خان هم او س، کندهار ته ګو رګین غو اړي (۲)

د کیسې غړ (دفتح خان کیسه .)

که ځو ړاندې د کو رنګ و رو ځې ځو ړا ندې.

فتح خان ځي دهندلو ر ته ـــ دغه ګل را بیاسې ځي تر تادو ړاندې(۳)

کله کله ددو یم اته څپه یز پاړ کی په یو ه کې هم نه وي:

دهو تکو ناره: که ګو ري له درستو ګو ري ځانو نه

په ناصرو پر و نو سو مستو بانو نه (۴)

۲ـــ دخلکوسندرې (۱۳۹) مخ.

۳ـــ » » (۱۸۹)» .

۴ ـــ » » (۱۴۴) » .

د کیسي غبرګ:

که و خوري د ادسر کسي سو وخوري .

که سامړ کړي دازسابادار ژوندی دی (۱)

دغبرګ و نو او دغو نارو یو بل ته خصو صیت دادی چې دغېنو په سر کې د شرط ادات ـ (که) بې مورده راغلي او وروسته کلمه په هماغه یا ړ کې کې تکرار یږي (پو رتنی دوه مثا لونه وګوری ء) یوازې د وسرهٔ تو پیرلري چې غبرګونه کله کله له قافیې ازادوي او دهو تکو ناري قافیه ساتي . دتا ریخي شو اهدو له مخې د کیسو غبرګونو دوسره تا ریخي نو مونه نه دي ساتلی لکه څومره چې د هو تکو په نارو کې شته، دهو تکو هره ناره په حقیقت کې د هو تکیانو دتا ریخ یو باب دی .

دهوتکو ناري زمونږ داولسی ادب یخي بیا په او دقدرو رحماسه ده . دلته دخپلو ملي مشرانو سره دپښتنو سینه او داشغا لګرو په مقابل کې احسا س ژوندی ساتل شوی دی .

د خلکو سندرې (۱۹۳)مخ .

کاکړۍ

کاکړۍ سندرې که څه هم د پښتو دا لسي ادب یوه سیمه آییزه برخه ده چې تاتوبی یې د پښتنو یوه خاصه برخه (کاکړ) دی خو هم په رزمي او هم په بزمي لحاظ زمونږ د ملي ادب یوه مهمه برخه ده.

اوس یې یوه اندازه عمومیت هم پیدا کړی او د پخوا په شان په یوې سیمې پورې محدودې نه دي(۱) دغه سندرې چې کله د(کاکړۍ، کاکړۍ غاړې، کاکړۍ نارې) په نامه یادېږي په ځان کې یې له یوازې د شنه خال، تورو ځنو او سپینې خولې ستاینې ساتلې دي، بلکې د استعمار په ضد یې د ملي مجاهدینو ښه یادونه په خپلو خوږو آهنګونو کې خوندي کړې او زمونږ د ملي تاریخ سره په زیاتو برخو کې ښه مرسته کولای شي.

---

(۱) کله کله د ګلزمان په خوا بره غږ کې له راډیو څخه خپرېږي.

کاکړي چې په خاصه غاړه او اهنګ ویل کیږي د فورم په لحاظ عموماً مثنوي (دوبیزې) دي چې هر مصرع یې اته سلابه ده. په دویمه مصرع کې دا ضمیر متل کیږي خو لومړۍ کله اووه او کله شپږ هم وي. ډېر لږ لیدل کیږي چې دویمه مصرع اووه سلابه وي. قافیه یې هم دلیکلي ادب په شان دومره مقیده نه ده او فني ښکلاوې ورکې لیدل کیږي. د کاکړو غاړې دژانر له مخې لرغونې دي او ښایې د روب او ښځین په غیږ کې به په سلګونو کلونو روزل شوې وي، خو دموادو له مخې یې یوه برخه ښځي او سني ده. اصلاً دغه غاړې په دوو (رزمي او بزمي) برخو ویشل کیږي. رزمي برخه یې یادتیولو پښتنو د نومیالیو ستاینې دي لکه د «امیر امان الله»، او یاددوی د قومي نومیالیو او اتلانو لکه (طالب اخکزی، قدم جان، نصرو جان، او حاجي) او نورو وړنې او ستاینې دي چې غالباً د برتانوي استعمار په ګولیو لګېدلي

او یا په سیمه ییزو پېښو کې وژل شوي دي. مثلاً د حاجي یادونه چې دانګریزانو په ګولیو شهید شوی دی: (۱)

یو حاجي بل یې وراره　　　په سم یو ړي وګړیده

یو حاجي بل فتح خان　　　پر سم سړک وهلی ګورګیان

د یو ړي په چوکو ښوري　　　سپین حاجي پرنګیان ګوري

د کاکړو غاړو د بزمي برخې لکه (سترګي، زړه، خالونه، سپینه خوله، او ښکې، پیلتون، شین خالو). او نورو په باب د زماني اټکل ګران دی.

---

(۱) کاکړي ۳۷ مخ.

د کاکړ یو تولي برخي فولکلوریکې نه دي، ځای په ځای یې جوړونکي معلوم دي لکه (غلام محمد، سیال کاکړ)، او نور.

د پښتو د یوې لهجې په حیث د کاکړوژ به خاص اهمیت لري او د هغې دیالکتیك خصوصیا ت په دغو غاړو کې ښیخي څرگندېدی دا یادیا له مخې هر ډول فکاهي، عشقي، اجتماعي موضوعات په کې ځای شوي دي، خو له دې تولو ښیگڼو برسیره ښه تاریخي سواد هم لري چې د ځینو پښتنو نومیالیو په پېژند نه کې ښه سرسته کوي او په دغه خاوره کې د انگریزي استعمار او د هغو د اخلافو د ظلمونو یوه مهمه برخه روښانوي (۱) .

۱- زیا ت معلومات : کاکړۍ ـ سیا ل کاکړ .

لنډکۍ (سورې)

دادپښتو داولسي ادب خاص ډول سندرې دي چې په پکتیا کې رواج لري او غالباً داتڼ په ډگر کې په خاصو غږ و نو ویل کیږي.

لنډکۍ ځانګړې نه ویل کیږي بلکې دسرو کو په شان د لنډ یو سره ویل کیږي. دسرو کوسره یې تو پیر دادی چې دایوازې د لنډیو په ځای کې ویل کیږي، دواړه سمراع یې په یوه عروض (۸ څپې) وی) دلنډیو په شان په غږیزو ځای ته رسیږي او دواړه سمرع یې په یوه قافیه نه وي لکه:

تهٔ په کنډ وواړوښتې راپرې دې ښول غمو نه
سرې ستر ګې راجګې که لو ګي شو وطنو نه

کله کله دلنډکیو تقطیع ګران ښکاري ځکه چې دڅپو په ویش سره یوه کلمه نیمیږي او یایې یوه برخه ډیره لویه او بله یې بیخې وړه راځي.

ډیر ځله داسې لیدل کیږي چې یوه سیمه ییزه پیښه په څو لنډکیو کې افاده شوې وي او په دغه صورت یې ویونکي دتسلسل سراعات کوي. دلنډکیو تال او اهنګ ډیر لرغوني دی بحث یې په (د پښتو اهنګو نو لرغونیتا) کې وګوری

اولسي تاريخي حماسي سندرې

اولسي تاريخي حماسي سندرې دداولسي منظوم ادب يوه خاصه نوعه ده چې يوې تاريخي معينې پيښې ته وقف شوي او تاريخي معين هيروګان لري.

دتاريخي حماسي سندرو لوی خصوصيت دادی چې دوی دنورو فولکلوري اثارو په شان په خپل جوړښت او افاده کې ساده، عامفهمه او داولسي ادب ټول خصوصيات په ځان کې ساتي. په دغو سندرو کې دیوې تاريخي واقعې په نسبت داولسي ذهنيت او فکر عکس العمل انعکاس مومي. دغه سندرې دتاريخي پيښو، تاريخي اشخاصو او تاريخي ځايونو نومونه په ژوندي ساتلو کې ډيره سرسته کوي، ځکه نو تاريخي سندرې علاوه په دې چې دیوه ملت ادبي قيمتي پانګه او افتخار دی، دتاريخ له نقطه نظره هم ډیر اهميت لري.

له دغه کبله آ.م.ګورکي په دې باب ليکلي وو: «فولکلور ګام په ګام په خاص ډول دتاريخ سره ملګری دی، دواقعيت په باب خپل نظر لري او خپل هيروګان لري» څرنګه چې دپښتنو ژوند له تاريخي مبارزو او مجاهدو ډک دی

ددوی په اولسي ادب کې حماسي تاريخي سندرې خاص ځای لري. ددغو حماسي تاريخي سندرو يو لوی خصوصيت دادی چې دپښتو دادب لرغوني ادبي رنګ يې ترسمکنه حده په خپل ځان کې ساتلی او دپرديو ژبو داغيزې نه خپلوا کی لري د پښتو ليکل شوی ادب نسبتاً بهای دی او دادب دميدان لوی لوی پهلوانان لري خو داولسي ادب دنورو انواعو په شان تاريخي حماسي سندرو ته چاتوجه نه وه کړې ځکه چې يا خو دپرديو ژبو او د هغوی د يونکو دسنفی نفوذ په اثر له منځه تللي او ياخو خپله په پښتنو کې ددغه لوی امانت دساتلو ځای نه و.

له دغه کبله ډيرې لرغونې تاريخي ملي حماسي سندرې له موږ سره نشته او که وي بيخي به لږې وي، کومې چې زموږ ګوتو ته رارسيدلی دی هغه د سيکا نو او انګريزانو سره دپښتنو تاريخي جګړو ته وقفې دي، په دې باب خورا پخوانی مجموعه دناستو فرانسوي ختيځپوه دارمستتر «دپښتنو نخواهار او بهار» ده چې په پاريس کې (۱۸۸۸ کال) خپره شوې ده. بيا په (۱۳۴۷) کال کې پښتو ټولنې يوه وړه مجموعه خپره کړه چې هغه هم د غې موضوع ته وقفه او (تور بريښ) نوميږي.

دلته داولسي تاريخي حماسي سندرو څخه مطلب هغه حماسي سندرې دي چې لوسړي جوړونکي يې معلوم نه وي او په اولس کې د فولکلوريکو سندرو په حيث پاتې وي.

دغه سندرې چې اولسي قهرمانان (لکه ملتان، چمني خان)، مهمې تاريخي پيښې

لکه(دا نګريزانو له خوا د خيبر، چترال) نيول او نورسيمې و اوړات تمثيلوي کله د غرونو په ډول وي(لکه د هو تکو نارې – بحث يې مخکې راغلى دى) کله په لنډيو کې

چيرته چترال چيرته لندن دی — بې ننګي زور شوه پرنګيان چترال ته ځينه .

يا په سرو کو کې لکه :

اوې صاحب په سلکنډ کړي جنګونه — تالاشو زيړ ګلونه(۱)

کله په داسې چاربيتو، غزلو، خلوريځو بګتيو او نورو کې چې د جوړوونکي درک يې نه وي. زيا تې نمونې يې(تور بريښ)اخيستې دي.

۱— «ښتنې سندرې»دويم توک(۲۵۱)مخ.

د کورنیو پېښو فولکلور

دغو پېښو په جمله کې چې ټاکلی اولسی ادب او دودونه لري ځینې کورنۍ پېښې هم شاملې دي لکه: زېږنده، واده، مړینه او نور چې په دغو کې د کورنۍ داجتماعي دریځ او نفوذ سره سم د کورنۍ غړي، ګاونډیان او نور برخه اخلي. په کورنیو کې حتی ډېرې وړې وړې پېښې هم وي چې خاصې فولکلوري جملې او عبارتونه په عنعنوي ډول ورباندې ویل کېږي چې د اولسي ادب بیخي واړه واړه عناصر دي، خو ځینې یې په نسبتاً لوړه سویه وي چې د اولسي ادب زیاته پانګه هم لري. البته د ټولنو اجتماعي، اقتصادي او ذهني انکشاف د دغسې پېښو په اهمیت اغیزه کوي. هم دا سبب دی چې په لویدیځو اولسونو کې دغسې پېښو خپل لرغونی زیات اهمیت له لاسه ورکړی او دومره ستړې غونډې ورباندې کېږي خو په ختیځ کې د کورنۍ د نفوذ او رسوخ په سویه دغه مراسم په ځای کېږي. کورنۍ پېښې د مکان او زمان د شرایطو سره سم کله وړې او کله

لو يې گټل کیږي مثلاً عسکرى خدمت ته دیوې کو رنی د غړی تلل یو ه و ړه او عادى پیښه ده، خو په لو یدیځ کې چې خو پېړی دمخه دعسکرى خدمت دو ره ډیره او ږده وه دکو رنی له پاره هم یو ه ډیر ه سهمه پیښه گڼله کیده . مثلاً په روسیه کې له عیسوى ۱۶۹۹ کال نه تر ۱۸۳۴ کاله پورې دعسکرى خدمت دو ره (۲۵) کاله وه او بیا په دغه کال کې (۲۰) ته را کمه شوه. دغه خدمت ته د یوه زلمی رخصتول په خا صو فولکلو رى سندرو سره بدرگه کیدل چې معمولاً به یې دوه درې هفتی دوام کاوه (۱) خو اوس عسکرى خدمت ته رخصتید ل نه کو مه سهمه پیښه ده او نه فولکلو ریك ادب لرى. همدارنگه زیږ نده یو ه نسبتاً وړه کو رنی پیښه ده . خو په هغو اولسو نو کې چې شخصي کساتونه ، د کو رنیو ترمنځه دو ینو بدل اخیستل او د تیر و نو ترمنځه دښمني او بدى په میراث پاتې وي او یا په اصطلاح د کو ردمیراتی موضوع په منځ کې وي د هلك زیږ نده دیو ى کو رنی له پاره خو راستره پیښه ده. د فلکلو ریستانو په عقیده دزیږ ندی په باب فلکلو ریك آثار دمړینی دآثارو په شان ډیر لرغو نی دى . خو دا پیښه دفلکلو ریکو آ ثارو له حیثه دو مر ه بډا یه نه ده ا و خصوصاً ایتنو گرافیك ارخ یې نسبت فلکو ریك ته ډیر بډاي دى—له لرغو نو زمانو څخه په دى باب دفلکلو ریکو آثارو هدف د ا دى چې د ماشوم ا و د هغې د مور روغتیا ، په راتلو نکې وخت کې د هغې نیکمرغي په دعاگانو، ټوټکو او نورو جملو او سندرو کې وغواړى.

۱— روسی ادب (۹۱—۹۲) مخونه

د ماشوم زیږنده (خصوصاً د هلک) زموږ په ټولنه کې د کورنۍ د یو ستر ښادي په حیث نمانځل کیږي، خو کومې خاصې فولکلوریکې سندرې نلري او عادي سندرې د محلي موسیقۍ سره ورکې ویل کیږي.

د زیږندې په باب علاوه په سندرو او ټنګ ټکور څینې اولسونه خاصې جملې او عبارتونه هم لري چې عموماً د فال نیولو، زیري ورکولو او ټوټکي معنا لري

په زیږنده کې دغه سروکې کله کله له ټنګولنډیو سره ویل کیږي چې د ګل په باب وي او د ماشوم تر یندی او د کلي نجونې او نورې یې وایي.

سروکې: د ګلاب ګل دې خدای دې ډیر لري ګلونه

وروره! ښادي دې مبارک شه

لنډۍ د سروکې سره:

په لوړو غرو د خدای نظر دې — وروره! ښادي دې مبارک شه

په سرې واورې وروې چاپیر ګلونه — وروره! ښادي دې مبارک شه

د ګلاب ګل دی ...

د خاصو وختونو اولسی ادب

داولسي ادب ځيني انواع په ځينو خاصو کتیګوریو کې شامل دی لکه متلونه، کیسی، افسانی اونور. ځينې بيا داسې هم وی چې د اولسونو د چاپیر یال دزمان دخاصو شر ایطو زیږند ه وی او له هغو پر ته بل وخت نه وی. د غه آثار کله کله منظوم او کله منثور، کله سندریز او آهنګ لرونکی او کله بې آهنګه وی چې دافرادو دژوند له پیښې او یاد اجتماع له پیښې سره اړه لری.

دنړۍ اکثر اولسونه دخپل ژوندلویې لویې پیښې لکه سلی اخترونه، جشنونه، ماتمونه، لو، کرونده اونور په خاصو حرکاتو، اټنونو، سا ندو اوسند رو بدرګه کوی. دغه سندرې کله کله مذهبی صبغه هم لری چې په فولکلوریک ډول اجراء کیږی. په تیره بیا په پرو نی اروپا کې د غو سندرودو سره ژورې ریښې لرلې چې د ځینوفولکلوریسا نو (په فرانسه کې

گ.پاریس G. Paris په جرمني کې. سینتیف P. Sintiv، په روسیه کې ا.ن بیلشوفسکي او نورو) په عقیده همدغه سندري چې (دسر اسمو د نظمو نو) په نامه یادیدې دارو پا دمنځنیو پېړیو دټو لو ادبي آثارو منبع او سرچینه وه(۱)

البته او سني پو هان دانظریه نه تائیدوي او وايي چې عشقي اولسي سندری، حماسي سندرې او نور دوسره لر غوني دي لکه «دسر اسمو نظمو نه او سندرې».

په هر صورت دغه نظمونه په لو یدیځ کې داولسي ادب ستره پانگه وه چې دژوند په ډیرو برخو کې معموله وه.

دهغو اختصاص نه یوازې دملي ورځو، جشنونو، اخترونو پورې وه، بلکې دکال بیل بیل موسمونه لکه دپسرلي، دفصل لو، دمني او بل موسم رابره کیدل. په داسې موسمي سندرو کې به دکلي یادیوه اولس «لکه ختیځ سلاو یاني قبایل» ټو لو بالغانو گډون کاوه او په اتڼونو او نڅاو به یې نمانځل. (۲)

زموږ داولس په بیلو بیلو برخو کې هم داسې ورځې او شپې شته چې خاص فو لکلوري آثار لري لکه داخترونو، دپسرلي درابره کید وفولکلوریک ادب دبرات دشپې فالو نه، دصفرې دوتلوفو لکلور اونور.

دصفرې سیاشت زمونږ داولس دزیاتو خلکو په عقیده د بلاگانو، خطر ونو ویرې او ډار سیاشت ده. ددغې سیاشتې په وتلو سره ځای په ځای فو لکلوریک دودونه شته، مثلاً څوک دصفرې په وروستی ماښام تورې ما تې کټوې

۱—روسی اولسی ادب۱۴—۲۴ مخونه

۲— روسی اولسی ادب (۴۶)مخ .

اوسنګي « په صفرې پسې » پرزمکه ولي اوڅوك دکور ديوالونه اوبسترې وربسې چاروکوي. دلته پهدې باب زمونږ د ټولني ديوې برخې «اغمان» دوداوڅولکلوريك عبارات وړاندې کيږي:

دصفرې دسپاشتې پهوروستي ماښام دکلي هلکان اونجونې ديوې کودې لوخو يابل څه چارو پهلاس هرکورته ننوځي، دکورديوالونه ،لوښي، بسترې، ستنې پهدغه کوده په اصطلاح جاروکوي اوداسجع عبارت وائ: «صفره ووته—بلاووته، له هرې خوا ووته— زموږله کلاووته—رابره— شوه د برات سيا شت ،دبرکات سيا شت ». وروسته دلوخو ياجارو کوده پهيوه سات خاورين لوښي کې سوزوي، بيايې ايرې پهروانو اوبو کې خوشې کوي او په تيروا وډبرو يې ولي.

ټوټکي او کوډې په اولسي ادب کې

په بشري فولکلوري ادب کې يو خاص ډول هم وجود لري چې د ټوټکي، کوډې، افسون، سنتر او جنتر په نامه ياديږي او د الفاظو ديوې خاصې فارمولا څخه عبارت دی.

د اولسي ادب دا ډول ځو راډير لرغونی دی او تقريبا ټولو اولسونو په تاريخ کې موندل کيږي.

فولکلورستان نظريه وړ کوي چې په لرغوني باختر، ساکو، مصر، اسور، يونان او نورو پخوانيو ټولنو کې چې لا په پوره ونه وويشل شوي ټولنه عموميت لاره او په ماقبل التاريخ دورو کې ځينو اروپايانو (لکه سلاوانيانو) د اولسي طبي ذريعې په حيث ورنه کار اخيسته (۱)

د فولکلورپوهان عقيده لري چې د اولسي ادب دغه برخه ډيره لرغوني او زيات تاريخي شواهد لري. په وروسته پاتې او پر مختيايي ټولنو کې او س هم د موثرې ذريعې په حيث استعماليږي.

---

(۱) روسي اولسي ادب (۴۷) مخ

تو ټکي په ژبنتو ډیر و قسمو نو دي او دیوه خاص تعریف لاندې نه راځي، خو خو دو سره و یلای شو چې تو ټکه یو ه داسې لفظي فارمولا ده چې دا و لسي طب د معالجوي یا بل مقصد له پاره دیو ې ذریعې په حیث دیو ې تا کلې نتیجې له پاره لکه دنارو غی سحوه کو لو ، په سینه کې دبر یالی کیدو ، د بد نظر د ځنیو ي، دپلي یا تو پان بندو لو او نو رو له پاره استعمالیږي .

دسترگو دنارو غیو په با ب ځینوار و پایانو عقیده در لوده چې دغه نارو غی د کوم بد کا ر کو ډ گر په ذ ریعه په ناروغ نازلیږي. دوی به د هغو کسانو معالجه هم په تو ټکواو کو ډو کوله بې په سینه کې په نا کام شوي و و .دوی به د کو ر او کر و ندې کار و نه هم کله کله په تو ټکو شر و ع کول .دبدو سترگو د ځنیوی او تیغ بندی بقایا په ځینوار و پایانو کې حتی لا ددو یمې عمومی جگړې پو رې موجو د وو (۱)

تو ټکې نه یوازې دانسان دخیر او دنارو غیو دمعالجې له پاره ،بلکې د انسان دتړلو، هغه ته دضر ر رسولو ،په کو رنۍ کې دنفا ق ا چولو او نو رو له پاره هم استعمالیدې، خو دا هم په اسلامي او هم په عیسوی عقیده گناه گڼل کیږي.

د بدو تو ټکو داجراء په و خت کې به ار و پایي تو ټکه سارا نو دمر ستې له پاره شیطان،غو لا ن، پیر یان او خبیث ار واح راغو ښتل . دلته تو ټکه سارانو د مر ستې له پاره کله کله د پیر یانو او ښاپیر یانو، ځینو ستو ر و ،او خا صو مکانی او زماني شر ایطو و جو د ضر و ري بلل.

۱-روسي اولسي ادب (۸ ۴)مخ

دټوټکو دفار مولا په باب فولکلوریستان عقیده لري چي دغه فرمولا له یوه نسل نه بل نسل ته په شفاهي ډول په داسي طرز پاتې شوي چي حتی الا مکان له تغیراو بدلون څخه خوندي ساتل شوي ځکه چي ددوي په عقیده که بدلون پکي راشي هغه بې اغیزي کیږي.

ددي موضوع اوي شاهد دټوټکو متنونه دي. د ټوټکو فارمولا معمولاً داسي ارغوني الفاظ تر کیبونه او جوړښت لري چي په ژوندیو ژبو کي غالباً ساري نه لري او معمولاً اوریدونکي پري نه پوهیږي.

البته داسي متنونه هم لري چي یاله بې معنی الفاظو جوړوي (لکه - «...م کافه» دپیر - یانو منتر) او یاله کومي پردي ژبي رانقل شوي وي او خپل هویت یې ساتلی وي.

ټوټکي غالباً مسجع نثر وي خو کله کله په شعر هم لید لي کیږي.

دمحققینو په عقیده ټوټکو په ارغوني با ختر کي رواج درلود چي بیا یې وروسته په زر دشتي مذهب کي ځاي وموند او د اوېستا په متونو کي د(منتر سپینتا Mantar spenta) په نامه یاد شو. (منتر سپینتا) هغه سنع کوونکي الفاظو وچي د(بند) معنایې لرله، دارو احو او پخوانیو نیکو پالنه پکي نغښتیي وه او دتوان سره سم څه «شکرانه» یا «کفاره» هم ورسره وه.

همدارنګه لرغونو ساکو په خپلوا خترنو کي ځیني ټوټکي لرلي. یوناني تورخ سترابون روایت کوي: چیر ته چي د رب النوع انا هیتا معبدشته هملته په شوراوځوږ سا ك د «ساکیا» (۱) سیله جوړوي چي شپه او ورځ دوام کوي.

---

۱ د «ویساکی» دمیلې سره لفظي او معنوي ارتباط لري

د شرابو دښبلو شو راو څو بیی دټوټکی عناصر لرې. سا کوبه دټوټکی په ډول په سینه، ټ، و رون اوپایل ځای داغ پاخاپ او خا ل اښیو ده.

هېرو د وتوایی: ساك دځینو بوتو سیوه پهاو ر کی اچوی بیا چی ښه تو ده شی تر هغی پی بو یوي تر څو چی سست شی او په ګډا او سندرو پیل وکړي. دوي دهغی له بو یو لو داسی نشه کیږي لکه ایلیان (د یونان لرغونی اوسیدو نکی) چی په شرابو څو سره نشه کیږي. ددوي دا کار هم ښایی د کومی ټوټکي معنالر له (۱)

ټوټکی غالباً په مسجع نثروی کله کله په شعر هم لید ل کیږی.

دلته د لرغوني روم او په وروستیو پېړیو کې د اروپا د یوې ټوټکی مثال وړا ندې کیږی.

په لرغوني روم کې دستو نی ددرد ټوټکه چې د« لیوی» له قصې څخه اخیستل شوی ده چې تاریخ یې د میلا د ی لومړ ی پېړی پیل د ی

« و څه ـو څه ـو ځبه که ته نن که ته پخوا زید لی یې

که ته نن پیدا شوی یې که پخوا پیدا شوی یې» (۲)

دغا ښ ددردله پاره دروسی ژ بې نه دیوې ټوټکې ترجمه چې دنفې له پاره په سوالیه فورم ویل کیده:

«دده (دمخاطب نوم) غاښو نه نه خوږیږي؟ هېو کی یې نه ساتیږي؟ نه، خو یند و!

۱ـ دتاجیکی نظم اه تاریخ څخه ۷۴ - ۷۵ مخونه

۲ـ «دلرغونی روم منتخب ادبیات» ۱۲ مخ

نه خوږیږي زما غاښونه، نه ساتیږي زما هډوکي — بلکې داد پیشو، دادسوی، داد نولي، دادغویی، داد غوا، داد سیږې، داد وري غاښ خوږیږي. او داددې له پاره چې دخدای دبنده (دنارو غ نوم) سرله او سه ذتل له پاره غاښ و نه خوږیږي» (۱)

په پښتو کې دبدو سترګو دنظر ساتي د یوې تو تکي متن :

نظر سات، نظر وچ، دتو رو سترګو، دبو رو سترګو، ددوست دسترګو، د دښمن دسترګو، د کو راو کلي دسترګو، وچو م نظر، وچو م دبې او دسه او دبې نمانځه دسترګو، دخو راو و رو رد سترګو، د ترو را و سو رد سترګو — دلوی پیر په حکم او اجازه چف — چف چف »

۱ — روسی اولسی ادب (۹۳) مخ

ساندې

طبيعي‌ده چې د کورنۍ نه‌ديوه غړي‌په کميدلو سره پاتې کسان خواشينې کيږي. دخواشينۍ او درد دغه احساس دنړۍ په بيلو بيلو اولسونو کې‌نه يوازې په‌او ښکوتو يولو، سخ وهلو، گريوان څيرولو څرگنديږي بلکې په نظمونو، اهنگ‌لړونکو او شاعرانو جملو هم‌بيانيږي چې په‌پښتو کې ورته (ساندې، ويرنه، دو ير غړانگه) او نور نومونه اخلي.

دفولکلوريستانو په‌عقيده دپيدايښت په‌لحاظ دغم‌او ښادۍ دټولو دودونو څخه دسړينې دماتم ساندې ډيرې لرغونې دي‌خو داچې د دغو ساندو لرغونی فورم به څنگه وي؟ يقيني ځواب نه لري.

دسړي دخښولو په‌باب په‌لرغونو زمانو کې ځينې دودونه سرو‌ج‌وو لکه دسړي‌سره دوسلو او دفاعي شيانو، خوراکي موادو ايښود ل چې‌گويا په‌هغې نړۍ کې به‌يې‌په کار راشي او حتی‌دغو رواجونو په ځينو اروپايي اولسونو

کې د (۱۹) پېړۍ ترنیمایي پورې دوام درلود(۱). ددغسې روا جونو په باب ارکیالوژیک سواداو پخوانی لرشمیر کتیبې شا هدي ورکوي، خو متاسفانه ددغه مواد دلرغونو ساندو او ویرونو فورم او خصوصیات نه شي را ښوولی.

د لرغوني روم په باب تاریخي اسناد وايي چې په هغه ټولنه کې خاصې ویراچوونکې او ساندې ویونکې ښځې موجودې وې چې همدغه یې کسب و.

کله به چې کوم نامتو شخص مړشو دغو اجیرو ویرا چوونکو ښځو به د اجرت او مزد دوری په بدل کې وربانديې ساندې ویلې. ددوی چغو او انګولاو په خلکو کې یوه ولولې او کړکه پیدا کړه – بیا داسې قانون پاس شو چې د هغه په حکم «ښځې دې په سړینو کې مخ نه شو کوي او چیغې دې نه پورته کوی» خو داسې ښکاري چې په کوم ځای په تیره بیا کوم ولایت کې به دغه لرغوني دود ساتل شوی او بیا به په نظمونو او شعرونو او ښتی وی.

دلته دیوې ویر ساندې مثال وړاندې کیږي. په دغو ساندو کې به زاید غږونه هم وو (۲).

هغه منظومه سانده چې دسو رله خوا دیوې پېغلې لور په سړینه ویل شوې ده:

خپله مور دې پرېښوده

په غم، په ژړا په ځیګر وي کې

۱– روسی اولسی ادب (۷۵) مخ.

۲– دلرغونی روم منتخب ادبیات (۶۳۹) مخ

بد سر گی ر انه پته کړي
پا کي پيغلي، بد سر غي!
ز سار نيا! تا سو ر پر يښو ده (۱)

د اسلام نه د مخه به چي په عربي قبايلو کي کله د قبيلي کوم مشر يا کوم مهم غړی مړ شو — د هغه د مړ ينې اعلام به د يوې خاصې و ير نې (سا نحې) په بانگ سر ه کيده. په عربي قبايلو کي به ځينې ښځي موجو دې وې چي د هغوی کسب او شغل به په مړ ينو کي ساندې و يل و و. د اسلام په راتگ سره د غه دود پای ته و رسيد او اوس په اسلامی ټولنو کي د مړ ينې مراسم په اصولو کي نژ دې سر ه يو شان شوی دی.

په لو يديځ کي د مسيحي مذهب له خپر يدو و ر و سته هم د مړ ينې عجيب عقايد او دو دونه موجو دو و. مثلاً په سلاو يانی قبا يلو کي عقيده موجو ده وه چي روح له بدنه د اسي الوځي لکه يو مر غۍ يا بل الو تونکی له خپلې ځالې څخه. نو له دی امه دوی کوشش کاوه د هغې کوټې و ر، کړ کی يا بل وت پر انيزي چي ناروغ پکې د ځنکدن په حال کي وی، يعنی دروح د الو تلو له پاره به يې لاره خلاصو له. د مړی د ساو تلو سره بايد سر سته شوی وای، او که نه، نو عقيده موجو ده وه چي (سا به بير ته راستنه شي او ژ و نديو ته به ضر رو رسوي).

د دې له پاره د خلکو په عقيده نو رې د فاعي چا رې هم موجو د ې و ې لکه

۱ — د لر غونې روم منتخب ادبيا ت (۱۲) مخ

دسړيډارول. کوم وخت‌به چې سړی دخپلولوله پاره له کوره ويستل کېده هغه اس‌به‌يې‌ډاراوه، ځغلاوه او بې لارې کاوه چې سړی به‌پرې باړؤ.

خصوصاً دغه اقدامات به‌دهغه سړي په‌باره کې ډېرسخت وو چې په‌غير طبيعي مرگ (لکه وژل‌شوی،ډوب‌شوی) به مړ و. خپله مرگ همدخلکو په عقيده‌دډاروونکي انسان،کوم خطرناک غوندې حيوان يا دبل کوم خيالي موجود په بڼه‌مجسم و. ځينو به‌ورته بخښنه غوښته، ځينو به د پخوانيو مړيو له پاره‌سلاموونه او پيغاموونه وراستول او ځينوبه .....

دغسې‌عقيدې حتی‌دشلمې پېړی دپيله پورې ځای په ځای‌موجودې وې. دمړينې په مراسموکې لوی‌ځای ساندو او مرثيوډرلود.په ختيځوسلاوياني‌قبايلـو کې دساندو تاريخ عيسوی يوولسمې پېړی ته رسيږی او په لرغونو ساندو کې به‌د توولې تمې او اړلس غږيدو برخه اخيسته (۱).

بنايې‌داسلام‌نه‌دمخه به زموږ په ټولنه کې هم‌دمرگ او روح په باب‌بيل بيل عقايداودمړينې دماتم بيل‌بيل دودونه اوساندې موجودې وې چې د هغوی په باب موږ اوس پوره معلومات نه لرو،خو داسلام‌په راتگ سره‌دمرگ او روح په باب‌دغه عقيدې واوښتې او په‌دې باب‌دزړو او لرغونو دودونو سره مجادله وشوه.

ساندې ويل،سخ وسروهل،گريوان څيرول سنځ شول خو بيا‌هم دغم‌او درددارامولواودمړي ددرناوي په عرض دښځوساندې‌ويل د يوه‌لرغونـې

۱— روسی اولسی ادب (۷۵—۷۶) مخونه.

دو دپه حيث عموميت لري.

ساندې چې په ژړاندا ولړ زوو نکی غړو يل کيږی عموماً په دوه ډوله دی:

۱—دلنډيو په فورم، تال او اهنگ چې کوشش کيږي که ممکنه وي په هغې کې دسري يادهغه دکوم نژدې خپلوان او وارث نوم يادشي او داسې ينه يزه ژړوونکې پيښه وښوو له شي

۲-- دويز (مثنوی) ډوله غړونه چې لومړی پارکی يې غالباً (۷) سيلابه او دويم پارکی يې (۱۵) يا (۱۶) سيلابه وي لکه:

که گل دی دسور ساندی

زه خبره نه يم «فلانی» چاکه ترخاورو لاندې (۱)

کله لومړی او دويم پارکی سره تقريباً برابر او کله دويم پارکی لـه لومړی څخه لږ اوږدوي. په هرصورت کوم ټاکلی تال او اهنگ نه لري.

۱ دخلکو سندري (۱۸۰) مخ.

اولسي ننداري او اولسي تياتر

داولسي ادب ځينې ژانرونه او قسمونه (لکه قصې، سندرې) داولسي هنرمندانو له خوا کله کله په خاصو ځايونو، خاصو کاليو او لباسونو کې په خاصو حرکاتو او اشارو ښوول کيږي چې يا بيخي د تياتر صحنو ته ورته او يا د ليدونکو او ننداره کوونکو ذهن ته د بشر ابتدايي تياترونه او د تمثيل صحنې وروړي.

دا کار يوازې فني او اولسي هنرمندان نه کوي، بلکې په ودونو، زيږندو ښاديو او په نورو وختو کې يې عادي ښځې هم کوي چې کله د ناريينه کالي واغوندي، ږيره کيږدي او د نورو ښځو د خندولو او خوښې ساتلو له پاره يوه فکاهي سندره يا قصه وايي.

په هغو ښاديو کې چې تنګ تکور وركي وي داسې ننداري زياتې ليدل کيږي او د ناريينه و په منځ کې يې پياوړي او تکړه هنرمندان اجرا کوي. د دغه ننداري او تمثيل په حقيقت کې «اولسي تياترونه» دي چې له ډيرو لرغونو وختو څخه

د یونسل نه بل ته په میراث پاتې دی.

بدبختۍ کې د اولسي تیاتر د تاریخ په باب پوره معلومات نشته خو په دلو یدیځ کې یې تاریخ د لرغوني یونان د قبل المیلاد پېړیو څخه شروع کیږي.

د تیاتر تاریخ وایې چې په لرغوني یونان کې به اولسي ننداری او ننداښونه د اتن په یوه مرکزي میدان کې جوړول کېدل. د ننداری میدان گرد چاپېره د لرگیو په تختو د ننداره چیانو له پاره پوښل شـــــوی و.

د قبل المیلاد (۵۰۰) کلونو په شاوخوا کې یوې ننداري ته دومره زیات خلک ور ټول شوي وو چې هغه تختې تولې ماتې او د ننداري ځای وران شو. د اولسي غونډې په فیصله بیا د اتن د حصار (اکروپول) په سوېلي څنگ کې یو دایمي تیاتر جوړ شـــــو. (۱)

د نو لسمې پېړۍ په پای کې لرغون پوهانو د یوه لوی کیندنو په ترڅ کې د دغه تیاتر کنډوالې ومومندلې. خو یې خوږه لومړني تیاتر چې لا هماغه وخت خوشحاله و ران شوی و کوم نخښې یې نه دي پاتې.

د دغه تیاتر چې د تیاتر په تاریخ کې تر ټولو لومړی مستند تیاتر دی د څوارلسو زرو نه تر پنځلسو زرو پوري ننداره چیانو کې ځای پېدل. (۲)

۱ـ د لرغوني یونان د ادب تاریخ (۷۴) مخ

۲ـ د لرغوني یونان د ادبیاتو د منتخباتو لومړی ټوک (۱۴۲) مخ

ددغه تياتر دهنرمندانو (بنځو او نرو) په منځ په ماسکونه مخونه پټول شوي او مخصوص کالي په بې اغوستي وو.

دلرغوني يونان نه وروسته بيا د تياتر تاريخ په لرغوني روم کې لټول کيږي.

د لرغوني روم تياتر د لرغوني يونان له تياتر څخه يو اندازه توپير درلود ددغو توپيرونو په جمله کې يو دا و چې د يونان تياتر له يوه مهم دايروي او گرد ډگر څخه جوړ شوي و چې قطر يې نژدې (۲۷) متره و او په مرکز کې يې ستيج ځاى درلود چې د (ډيونيس dionis) د قرباني ځاى او په گرد چاپيره به ورته اکتوران په نڅا او کورس ويلو تا ويدل.

دغه مرکزي برخه د (اورخيسترا orxestra) په نامه يادېده چې په يوناني کې يې معنى نڅا ده (۱) ننداره چيانو چوکې يا دنلستي ځاى ونه په مرکزي برخه باندي لوړ وو چې له هرې برخې څخه ننداره ښه ورښکاره کيدل.

خو د لرغوني روم تياتر او سني تياتر ونو ته نسبتاً ورته و.

په روم کې چې ترڅو ننداره له پاره دايمي ځاى نه و جوړ شوي ننداره چيانو له پاره به د لرگيو څوکۍ لېږدول کيدې په بيا وروسته يو مجلله ودانۍ ورته جوړه شوه. د دغه تياتر يوه برخه د ديکور ديوال و چې د مرمرو په ستنو او مجسمو ښکلى شوي و. د منورسر خلاصي او ننداره چيانو په ځايونو د توکرانو څخه جوړ شوي و چې د توندو څپو د وخت کې به يې پرې سيوري کاوه.

د يونان تياتر چې د څښنا لکه د رب النوع «ډيونيس» د مذهبي مراسمو د اجرا ځاى و

---

۱ - ديونان د لرغونو ادبيا تو تاريخ (۲۷) مخ

بالعکس په روم کې تياتر دمذهبي مراسمو ځای نه و .

دروم دامپراتورۍ په وخت کې دغسې تياترونه خو ځايه او ضمناً په يونان کې هم جوړشوي وو (۱)

تياتر بياو روسته په اروپا کې عام شو او د لسمی عيسوی پيړی تر پايه پې په شاهانو او اشرافی کورنيو پورې اختصاصی جنبه درلوده. په يولسمه او دولسمه پيړی کې له انحصاره ووت خو مذهبي خصوصيت يې لاره چې درنسانس له دورې پورې يې دوام وکړ. بيا وروسته هم په اروپا او هم په آسيا کې دټولو اولسونو او دژوندد چارو د تمثيل ډگر وگرځيد. (۲)

په لويو مرکزو نو او ښارونو کې دتياترداخال و په ځنگ کې يې په وړو وړو کليو او بانډو کې گرځنده تياترونه هم وو چې د اولسي خلکو د خوښې په کوم ځای کې به جوړيدل چې همدغه ساد «اولسي تيا تر» په نامه ياد کړ ياپې «اولسي ننداری» بولو، لکه دمداريانو ، په ټنگ ټکور کې د ټوکما را نو اوپه و دونو او نوروښاديو کې دبچو تمثيلونه.

دغسې ننداری په ډيرو وختونو کې د بيلو بيلو اولسي خلکو له خوا شوول کيږی . د لته يې ژمونږ په ټولنه کې دنسبتاً عامي ننداری ، «سپين ږيرکي» په ننداره چې د «خو ټنگک»، «لو لاډنگه» لالولډنگه» (۳) په نامه هم ياديږی لږ ه رڼا اچول

۱ــ د (يونان دلرغونی ادب تاريخ) ۱۹۵ــ۱۹۶ مخونه

۲ــ «فرهنگ دانش و هنر» تهران ځلورم چاپ ۱۳۴۹ کال

۳ــ د (خلکو سندرې) ۳۶۳ مخ

کيږي.دانندار ه د ليکو نکي په سيمه کې،هغه و خت کيږي چې مو سمي بارانونه (ښول) د وام و کړي، هلکان په کو رونو کې خپه شي . په يوه ځاى کې سرهغو نډاو يو ه کوميډينه دله جوړه کړي. يو تن(ياځو تنو) ته مخصوصه سپينه ږيره جوړه کړي، مخصوص کالي و رواغوندي، اسپا په لاس ور کړي او له کاو ندبو کو رونو څخه د ميلې کولو له پاره خوراکي مواد راټولوي او ځيني مخصوصې سندري وايي . يوه له دغو سندرو څخه داده:

لو لانگه څه غواړي — دآسمان تو رې او به غواړي

دزمکې شنه و ابه غواړي — او ره بارانه اوره (۱)

دسپين ږ يرکی کوميډي ننداره زمونږ د ټولني تقريباً په هره برخه کې ژوندۍده، خوو ختونه يې سره توپير لري.

دپکتيا په ځينو برخو (منگل،ځاځي،...) کې داخترونو په شپه چې په همدې نامه ياديږي، په لغمان کې دپسرلي په لومړي ورځ کيږي چې دسپين ږيرکی دهلک سرهداسسا په ځاى دگلونو سره غونچه وي او د« نوروزگل» په نامه ياديږي، په ځينو برخو کې هغه و خت کيږي چې وچکالي وي او باران نه کيږی لکه(وردگ)او داسی نو ر.

اولسی ننداري چې غالباً کوميډيني او دساعت تيرۍ له پاره وي زمونږ دټولني په ښځو کې هم عموميت لري چې په ود ونو او دنوروښاديو وختو کې يې

---

۱ — دخلکو سندري (۶۵)مخ

هتنګ تکو رسره اجرا کوي(لکه دسوداګر یا بنجاره، بنګوالوي)سندري(١)دلته دمثال له پاره یوسپمه لیږه نغداره چي«د بووارې»(٢)ننداره نوسیری ورانديږ کیږي.په دغه ننداره کي چي عموماً د کوچیانو په پول شوول کیږي یو ښځه دیو سپین ږیري په لباس کي ځان جوړ کړی او سپینه ږیره کیږدي.په ښکلي کپړي يوه بله ښځه وي چي مخ یي تور کړی او زاړه کالي یي اغوستي وي چي د «بووارې»رول اجراء کوي .

دمحلي تنګ تکو ر دپیل سره سم سپین ږیري په بووارې پسې تیریږي او بووار ه داسي سندره شروع کوي:

ورانه یي کو رمه کړي نن یي بیاو هلي یم

نوري ښځي: خوري بیا په څه ؟

بووار: ده(سیره) راته ویل ډوډۍ راکړه— ما کونجاره ور کړه

ورانه یي کو رمه کړي نن یي بیاو هلي یم

ښځي: خوري بیاپه څه ؟

ده راته ویل جوار بوخ کړه— ما دتبي په شا بوخ کړه.

ورانه یي کو رمه کړي نن یي بیاو هلي یم

ښځي: خوري! بیاپه څه ؟

ده راته ویل خرو تړه— ما دلکی نه و تاره

١— دخلکو سندري(٦٦—٦٨) مخونه

٢— (بووار— چټله،په پخلي کي نالایقه)

ورانه‌يې کوږمه کړې ننيې بيا وهلي‌يم

ښځې: خوري بيا په‌څه ؟

ده‌راته‌ويل‌او به‌راکړه— مالوښني(۱)وركړه

ورانه‌يې کوږمه کړې ننيې‌بياو هلي يم

ده‌را ته‌ويل ...

په‌دغه صورت‌دوام وركوى او دهر بند سره‌خرڅ خورى‌اوګډيږى‌او د هر بندپسې سپين‌ږيرى ډب وركوى.

۱— (لوښني)دلوښود کنګا لولواوبه

د پښتو د اولسي آهنګونو لرغونتیا

تر دغه ځایه د پښتو په اولسي آهنګونو او سندرو څه رڼا واچول شوه. په دغو اولسي سندرو او منظومو کې مو د بېل بېل آهنګونه‌مو ښودلای شو. دغه آهنګونه البته ډېر پخواني دي چې له یوه نسله بل ته سینه په سینه نقل شوي دي. د هغوی څرګندونې په ډېرو لرغونو آثارو کې موندلای شو، لکه په اوېستا کې.

د دغو آهنګو د تثبیت او مقابلې له پاره به دا ډېره ښه وه چې د لرغونو ساکي قبایلو آهنګونه هم څېړل شوي وای، خو متاسفانه چې د هغو څرګندول اسان کار نه دی .

د دغو آهنګونو د موندلو له پاره اوس یوازې مونږ د اوېستا د لرغونو برخو د آهنګونو سره د پښتو د اولسي سندرو (او منظومو متلونو) په مقایسه او پر — تله اکتفاء کوو، ځکه چې د زردشتي مذهب د متنو لو د کتاب (اوېستا) شعرونه او مذهبي ترانې په همدغه خاوره کې لا ډېر پخوا جوړ شوي او د پښتو

فولکلوریک اهنگونه او اولسي سندرې هم دهمدغي خاورې زېږنده ده.

پهمطلق ډول ویلای شو،لکه څنګه او څومره چې زموږ ملي ژبې داریایي لرغونو ژبو ډېر خصوصیات په ځان کې ساتلي دي همدغه شان د اویستا د شعري خصوصیاتو پاتې شوني او بقایاد پښتو په فولکلوریکو سندرو کې ساتل شوي دي.

د او یستاپوه مهمه او لرغوني برخه (یاسنا) ده چې ګاتونه هم د دغې برخې جزء دي. (ګات) چې دویدي ژبې د (ګیت) او دهندي (ګیتار) سره د معنااو ریښې خپلوی لري دسندرې په معنا او په منظوم او عروضي (میتریک) ډول ویل شوي دي. او جوړوونکي یې په عنعنوي ډول دروایاتو له مخې خپله دمذ هب موسس زردشت دی. ګاتونه په پاخه شعر لیکل شوي دي او دا پوخوالی یې لرغوني اساس نه لري. دمحققینو په عقیده له زردشته لادمخه په ساکو او باختریانو کې دارباب الانواعوا و اولسي اتلانو په باب ډېرې حماسي منظومي قصې، سندرې او ترانې موجودې وې او اولسي ژبې په منظومو اثارو بډای وې. دغه منظومې بیاوروسته دزردشتي مذهب متونو ته ننوتې او په شفاهي ډول له یوې سینې نه بلې ته ننوتې. او په دغه صورت ویلای شو چې د ګاتونو شعري خصوصیات او دافادې اسلوب او اهنګونه ېېخي لرغوني دي.

ځینو محققینو (لکه ج. هیرتیل – J. Hertel) په زیاتو دلایلو

ثابته کړي چې داویستا دیر لرغوني متنونه دویدي متنونو په شان منظوم وو.

او (له ګاتونو پرته) په داسې شعر لیکل شوي وو چې هر مصرع یې ۱۱ ته څېرمې (سیلابه) وه (او ډیر لږ یې (۱۰+۱۲) ته هم رسېدل). دغه شعرونه کټ مټ د ویدي ژبې د اشعار و دشلوک (shloka) غوندې دومسر یېزوو یعنی هر بیت یې له دوو دوو ټوټو څخه جوړ و چې ټول بیت یې (۱۶) څپې او هر مصرع یې (۸) څپې وه. دګاتو هر بیت هم غالباً له دوو دوو ټوټو څخه جوړ و چې ټول بیت یې (۱۶) څپې کېده خو لومړی مصرع یې غالباً (۷) او دویمه یې (۹) سیلابه وه.

دلته په زړه پورې دا ده چې د ګاتونو ورستی توری په داسې نحښو لیکل کیده چې غږیز (واویل) او د غږ په اوږدوالي یې دلالت کاوه. د دې معنا دا وه چې د شعر نو ره برخه په عادي غږویل کېده خو په وروستي څپه د پښتو د ټلکلو ریکوسندرو په شان غږ او ږدیده لکه په لنډیو د قصو په غږونو، د اتڼ په نارو، کاکړیو غاړو او نورو باندې. دا هم باید یاده شي چې داریانی منځنیو ژبو د شعر د تنوع په عکس په اویستا کې ایو ا زې سلابیک عروض لیدل کیږي (او د ځینو محققینو په عقیده د تونیک عروض څرک هم ورکې ښکاري)

دګاتونو له پاره ځینې ادبي اصطلاحات هم ساتل شوي دي لکه :

هاتي (hatay) یا (ها ـ ha) = عنوان سرخط.

وچاستاشتی(Vecha—stashtay)–مقطع و زمه‌تو ته، دشعر هغه‌پر و ګراف چي (هاتی) سره‌بیلوی.

افسمن(afsman) = کر ښه،لیکه،سطر .

پاد(Pad)–قطعه‌شعر ،دشعر تو ته،دو ه‌هجاوی(له‌لسوهجا وڅخه‌جو ړه کر ښه پنځه‌پاده کیږی) .

وچنګه(Vachanga)= کلمه،لفظ،و یې .

داو یستادستنو‌یله‌مهمه‌بر خه‌یاشتو نه دی.دادزر دشتي‌مذ هب‌دبیلو بیلو ار باب الانواعو (۲۲)ترا نې دی‌چې‌زیات افسانوي عناصر لری. د یاشتو نو اکثر یت له داسې‌اشعار‌و څخه عبارت‌دی‌چې‌هره مصر ع یې‌اته‌سیلابه او ټول‌بیت‌یې شپاړس سیلابه کیږی.دشعر همدغه‌عرو ض په یاسنا او داو یستا په‌نو رو بر خو کی‌هم لیدل کیږي . یاشتونه د(نمر،ار د یسو و اناهیتا، میتر ا،سروشی‌اونو رو)ز ردشتی اربابالانو اعو .دستاینی‌مجموعه دماو ددغو ار باب‌الانو اعو دستاینی په باب و ر کې‌لرغو نې‌اد‌یاني ترا نې‌منعکسی‌دی، خو‌په‌یو ه‌کې یې‌هم لرغو نی بشپړه افسانه نه‌ده پاتې .پوهان اټکل کوي‌چې یو وخت به پخوانی بشپړې‌حماسي قصې‌و ر کې وې چې اوس له منځه تللي دي .

دهمدغه افسانوي روح اوموضوع له مخې پوهان عقیده لري چې یاشتونه په اساساً دزردشت له وخته دمخه‌جوړشوي وي او وروسته په

د زردشت د مذهب د غوښتنو له پاره برابراو استخدام شوي وي .

په بل عبارت دپاشتونو لرغوني حماسي توتې وروستيو زردشتي مغانو په دغه شکل برابرې کړي دي چې په دغه صورت پاشتونه دمضمون او روح له مخې د اويستا خو رالرغونې برخه ده ،خو دلاس وهنې له امله يې ژبه دومره پخوانۍ نه ده (۱)

په هرصورت دپاشتونو دشعري خصوصياتو څېړنه موږ ته داعقيده راکوي چې ترزياتې اندازې ورسره سمون او ورته والي لري .

لکه چې وويل شول ،دپاشتونو اکثريت په داسې شعرليکل شوي دي چې هر بيت يې (۱۶)سيلابه او هره مصرع يې (۸) سيلابه وه . دغه ډول شعر دپښتو په فولکلوريك (اوليکلي) ادب کې سترمقام لري . او همدغه (۱۶)څپه ييزشعر زمانه خيال له اولسي ادب نه ليکلي ادب ته هم په زياته اندازه انتقال شوی دی او هلته يې ډېرمهراختياموندلي د ه.دپښتو د اولسي ادب يوه ستره برخه چې د کاکړو په غاړو او دشين خالو په نامه يادېږي اساساً په دغه عروض جوړه شوې ده چې هربيت يې (۸)سيلابه او هره مصرع يې (۱۶)سيلا به دی :

دادې دپا شتونو څخه يومثال :

۱—(دفارسی ـتاجيکی ادب تا ريخ) م ٥ـ٥٥ مخ ونه

 y̌ad[1] ti[2] ta[3] rad[4] aŋ[5] rō[6] main[7] y̌uš[8]
Dā[1] him[2] a[3] ša[4] hē[5] vaŋ[6] he[7] uš[8]
Aŋ[1] ta[2] re[3] pai[4] ri[5] a[6] vāi[7] tem[8]
Vo[1] hu[2] ča[3] ma[4] yō[5] a[6] fars[7] č a[8]

ترجمه:

کلهچې اهریمن یرغلوکړ — د«اشا»پهبرکتي سیمه بانديې
هلهدوی پهمنځ کې راڅرګندشول — «وهومن» او«ارترا»
(۱۳ یاشت ۷۷ بهارکی)

دادي لهیاسناڅخه بلمثال :

Tēm[1] a[2] ma[3] vaŋ[4] tem[5] ya[6] za[7] tem[8]
Su[1] rēm[2] da[3] mo[4] xu[5] Se[6] viš[7] tem[8]
Mit[1] rem[2] ya[3] zay[4] za[5] ot[6] rab[7] y̌ o[8]

ترجمه :

دیما پهروښانه پاچایۍ کې — نهساړهوو او نهګارمهوو
نهناروغۍ او نه مړینــــه — نهدیوانو خلق کړی حسد
(۱۰ یاشت — ۹ بهارکی)

لهو بندبدادنه بومثال

Āad̄[1] hē[2]mra[3]om[4]Za[5]ra[6]tušt ra[8]

A[1] zĕm[2] hō[3]a[4]hu[5]rō[6]Maz[7]dāo[9]

[y̌e[1] zi[2]]mē[3] y̌i[4]ma[5] [noid[6] viv[7] (1) sē[8]

۸ Mĕrĕ[1]tō[2] bĕrĕ[3]ta[4] ča[5] dāe[6]na[7]y̌āy[8]

(۱)

په پورته توګه داو یستا له دریو برخو څخه درې مثالونه وړاندې شول. د همدغو مثالونو په عروضي قالب کې د پښتو داولسي ادب د یوې مهمې برخې (د کاکړیو غاړو) څو مثالونه وړاندې کوو:

کمسې هیره ستاخندا که (کړه) — تراوږ زیاته سزا راکه
په دنیا کې خوارې دوې دي — یوسر ګی بل الدیښتې دي
ګرا نه را شه روغه وکو — اندیښنو دواړه زاره کو (۲)

همداشان:

د کلاترشا تېر یږي — مرو ربې که شر میږي

۱—پورته او راتلونکي مثالونه (دتاجیکي ملي نظم له تاریخ څخه) (۲۰۰، ۲۰۲ مخونه) په قوسینو کې نیول شوې برخې بل ډول هم لري.

۲— (د کاکړو غاړې) (۱۱۷—مخ)

سر و رنه یم شرمیږم — دتومته دې و یریږم

تو رمشپه دمتو رمشو سه — شین خالو نه دمالو مه

تو رمشپه په خدای سپاکي — شین خالو په خدای پیداکي (۱)

همدارنگه دپښتو دلرغونو کلاسیکو اشعارو زیاته برخه په همدغه عروض لیکل شوې ده لکه دبیټ نیکه مناجات، دارزاني دیوان، روښاني رساله، د عبدالقادر ختټك یوسف او زلیخا، دصدر خان ختټك آدم خان او دو رخانی، رشید بیان، دشیرمحمد اسرارالعارفین، دخوشحال فضل نامه (او نخینې نورغزلونه) درحمان بابا نخینې شعرونه، دمیرزاخان الفنامه او زیاتی قصیدې، ددولت لوانی نخینې اشعار او داسې په سلگونو نور.

دپښتو داولسي ادب په نخینو نورو برخو کې هم دغه اته سیلابه سندرې او اهنگونه موندلای شو لکه داټن په نارو، بابو لالو، سروکوا و نورو کې.

خصوصاً دبابو لالو دامثال داو یستا دو یند یداد دمثال سرمسمون لري:

ناوې پښه اخله سپر یږه + زما جانان درته ولاړدی — په نخوانی یې هوسیږه (۲)

دپښتو داولسي ادب او کلتو رنو ترمنځه نورکې خصوصیا تنا هم زیاته نیدل کیږي. محققین عقیده لري چې کاتونه اصلاً د داسې منثور و متونو مجموعه وه چې نخای په نخای شعرونه و رکي پیبل (نخای) شوي وو. بیا دوختونو په تیریدو سره دهغو منثو رې برخې (چې په یاد کې یې ساتل گران وو) له یاده ووتې

۱— (پښتنې سندرې — لو مړی توک) (۳٦٦مخ)

۲— (پښتنې سندرې — دو یم توک) — (۳٦۱مخ)

او په حافظو کې دهغو يو ازې منظومې برخې پاتې شوې (۱)

دغه نظر په زړو د پام دپښتو فولکلو ر يکو حماسي قصو (ادم خان او درخانی فتح خان او رابیا، مومن خان او شیرینی، سیف الملوک او بدری جمالهأو داسې نورو) ته ازوی .

دغه حماسي قصې معمولاً دخپل عادي نثر په جريا ن کې په حساسو او خاصو برخو کې ځینې شعرونه لري چې هغو ته (دقصو غږونه) وايي او دقصو له پاره داسې حیثیت لري لکه داو يستا د لرغوني متنو رستن له پاره گاتونه.

دگاتونو عروض او شعري خصوصيات هم دپام وړدی: د قطعو، کربو او په کزبو کې دهجاولسخې گاتونه په عنعنوي ډول په پنځو کرو يو نوو يشل کيږي:

۱ـ اهو ناد(ahund) يااهونا وات گاتونه چې ســل شعري پړوگراو نه لري، هر پړوگراف يې درې کرښې او هره کر ښه يې داسې بيت دی چې له(۷+۹)(يا۷+۸) هجاو څخه جوړدی چې تول يې (۱۶) څپې کيږي.

دلته د(۷+۹)څپو يو مثال:

---

۱ ـ (دتاجيکي اولسي نظم له تاريخ څخه)(۲۰۱ مخ)

Ab[1] yǎ[2] ẏā[3] sā[4] nĕ[5] maŋ[6] hā[7]

Us[1] tā[2] na[3] zas[4] to[5] ra[6] fĕd[7] rah[8] yā[9]

همدغه اهنګ دپښتو په اولسي ادب (لکه سروکو ، نیمکیو ، سالدو او سنظه سو متلونو کې)ډېر زیات دی ؛

لکه دا ساندهٔ!

داوبود ارزانی — شهید غوښتې به زاری (۱)

یادانتل :

بدیه دې‌په‌زړه لرم — سلام‌به‌دې‌په خولدلرم . (۲)

دپښتو داولسي ادب پهځینو برخوکې دغه(۷+۸) عروض زیات‌دی‌لکه دکاکړو په غاړو کې:

چې‌راواوړې ستالمبې ⠀⠀⠀ برتن‌مې اور اخلي جاسې
زه‌دې واخلم ستا بلا ⠀⠀⠀ لکه سهوږمی برغرو‌بالا
سهوږمی لا یقه بېه ده ⠀⠀⠀ د هرچاپه دیلمړه ده (۳)

همدارنګه داتن‌په نارو کې:

۱— (دخلکوسندرې) ۱۸۰ مخ

۲— (دخلکوسندرې) ۱۳۰ مخ

۳— (دخلکوسندرې) ۱۱۷ مخ

برو سر کال لابه وو — (لالیه!) د شاتوت لاندې میشته وو
دخدای فضل که نه وا یې — (لالیه!) سر به دو اړه سره بره وو (۱)

۲— اوشتاواد (ushtavad) یا (اوشتا و ا تی) گاتونه.
تول ۶۶) قطعې، هره قطعه (۱۱) شمې چې (۳+۷) او پنځه پنځه کرښې دی
او کله هم (۵+۷) هجا کیږی. د (۳+۷) مثال.

Spěŋ[1] těm[2] ad[3] tvā[4]
Maz[1] dā[2] meŋg[3] hī[4] a[5] hu[6] rā[7]

دغه عروضی تول او اهنګ د پښتو د اولسي ادب په منظومو متلونو کې
زیات لیدل کیږی .

چیر ته ا و سی   په خوی به د هغو شې (۳+۷)
شل روبی پور کړه   دا ختر شپه به کور کړه (۵+۷)
ورغستلي   له سنځه وتلي (۳+۶)
چې دول ترخنګ کا   له و هلو (یې) خه ننګ کا
سړات شې بوره   چې ورکه دې کړه دوه کوره

۳— د سپینته‌من (Spenta—man) یا (پسپانتما) گاتونه
د(اوشتاواد) په تول او ا هنګ دی ، تو پیر یې و رسره همدو مره دی چې

۳-(پښتنې سندرې) داتین لا رې.

ددې هره قطعه (بند) څلور کرښې او دا هغې پنځه کرښې دی.

۳ — وو هوخشا تره (Vahuxshatra) ګاتو ته: پو ل (۲۲) قطعې چې هره قطعه یې درې کرښې او هر کرښه یې یو بیت دی، هر بیت یې (۱۴) څپې او هره مصرع یې (۷) څپې ده، مثال:

Vo¹hū² x̌sa³t³rĕm⁴ va⁵ i⁶rīm⁷
Bā¹gĕm²aī³ bī⁴bai⁵ris̆⁶ tĕm⁷

د پښتو په اولسي ادب کې ددغه عروض ډیر مواد شته لکه په سرو کو کې تو رې سترګې خمارې — در ته کړ مناله زاری

په سورو (لنډکیو) کې:

غو ټه سنډه زه یم — بار سې پله لټوینه
لږ سې درځګه که — د کاله شپه یمه

په سنظوسو سلو نو کې:

راغلې یکې کښیو تې — ولېدي یکې یریو تې
ازرائیل (عزرائیل) زی ته لرې — په پل زړسوی ته لرې.

دزانګو په سندرو کې:

اللو للو للو — (زلمی) داسې او ده دی
لکه ګو دی درنجو — اللو للو للو

د پښتو په لیکلی اد ب کې په دغه عروض زیات اشعار لیکل شوی دی :

سر زما سامان زما	—	جار شه ترجانان زما
زیان زما نقصان زما	—	و ار ه دیار هجر دی
و اره دیار هجر دی	—	زیان زما نقصان زما

یا لکه:

په نظر د بې بصر	—	لکه شام هسې سحر
لکه شام هسې سحر	—	لکه سنګ هسې ګو هر

(رحمان بابا)

۵ واهی شا یشت (Vahishaisht) ګـــا ت :

دغه ګات له دريو کرښو جوړ دی چې لومړی او دو یمه مصرع يې (۷+۷) دريمه يې (۵) يعنې (۷+۷+۵) دی.

A'šaṭ hā čā Ahurō Mazdāo ... vōi vis pai ...
hu' vah hā vi ... ēm ...

په دغه عروض او اهنګ د پښتو په اولسي ادب کې ډېر مواد شته هم په سرو کو، نیمکیو او هم په ټپو او نورو کې. په سرو کو کې :

مااېلېندته خېژوی(نه) — زماتورهجانانه — کوې باریږي.

دغه چاربيته هم په دغه اهنګ کې راتلای شي:

راغلله په زار و ملا — یادر ته ېګم جان جان

وردېده سر توره
پرېوده نیمبولا د خدای — د پاره خونجان جانان
ظلم مه کړه منور (۱)

د لته باید وویل شي چې په عمومي ډول هم د اوېستا او هم د پښتو د اولسي سندرو او اهنګونو ترمنځه نورګډ خصوصیات شته چې د پام وړ دی.

د اوېستا په شاعرانه ټوټو کې علاوه پر سیلابونو هغو څپونو له پاره اغېزه لرله چې د کرښو په منځ کې په ځینو برخو پورته کېده او د کلمو د ګرامري څپونو سره یې سمون لاره (۲) چې د اوېستا (پاد — pad) پېښې جوړاوه او د هرې مصرع د کلیمو له دوېیم څپ سره یې تطابق پیدا کاوه. د پښتو په اولسي سندرو او خصوصاً په لنډیو کې البته د دغه څپ مراعات شته او یوازې د هجاو شمېر کفایت نه کوي. پښتو لنډۍ د سیمې د غږونو له مخې سره د څپونو په باب څه ناڅه تو پیر لري خو معمولاً دلنډۍ هره د ویمه هجا ګرامري څپ لري او له دغه ځایه ده چې دلنډۍ لومړۍ او دویمه مصرع هیڅکله په څپ لرونکي غږ پای ته نه رسیږي چې همدغه د اوېستا د (پاد) سره سمون لري.
لکه :-

زما — دېځه — وکړه — چې لا — ړې
ځان دې — په خپه — لېبې — دیده — نه کړ — ومې — نه

---

۱ — (دغلګوسندرې) ۲۳۲ مخ
۲ — (دتاجېکي ملي ملم له تاریخ څخه) ۳۰۲ مخ

کم استثناآت اري لکه :

که په میوند کې شهید نه شوې

خدای ږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتي نه

چې دلته د(شهید) په کلمه کې په دو یمه هجا کې استثنا دی.

نو که سو ږ مثلاً دخوشحال خټک دغه لاندې شعر :

دافغان په ننګیالیو تر لږ تو رمه ننګیالی دزماني خوشحال خټک یم

دهجاو دشمیر له مخې دلنډیو په قالب کې و اچو و لکه:

دافغان په ننګه و لاړ شو مه ننګیالی دزماني خوشحال خټک یمه

نو د دغه شعر لومړی برخه (۹) او دو یمه (۱۳) هجاده چې د لنډیو سره سمون لري خو د لنډیو دڅپو تو د نه لرلو له امله بیا هم لنډی نه ده او په دغه صورت کو رو چې داو بستا (پاد) د پښتو لنډیو د څپو سره پوره سمون لري.

د ماشومانو فولکلور

لکه څنګه چې د لویانو اولسي ادب په پایه فولکلوریکه شتمني لري، همدغه شان د هرې ټولنې ماشومان هم ځانته خاص فولکلوریک ادب لري.

د ماشومانو په فولکلوریک ادب کې د اتشخیص ګران دی چې څومره یې خپله ماشومانو جوړ کړي او څومره ورته لویانو د دوی د ذهن او سویې سره سم جوړ کړي دي؟

په هر صورت بدیعي او خواږه الفاظ، شاعرانه او سندریزې جملې او اهنګ لرونکي خواږه عبارتونه د ماشومانو په روحي او جسمي ودې اغیزه کوي. د زانګو اهنګ لرونکي عبارتونه، په ساده او روانه ژبه تفریحي وړې وړې قصې، د خوب راوړلو سندریز غږونه ماشومان خوښ ساتي، ارامولي یې او ترهغه وخته یې د ډیرو ښو خاطرو ذخیره وي چې لوی شي ځل له کتابه استفاده کوي.

د ماشومانو طفلانه روحیه د غو خوږو الفاظو او سندریزو جملو ته ډومره

ضرو رت لري، لکه بدن یې چې په خپله و د ه کې صحي غذا ته اړ دی.

دماشومانو فولکلور دلویانو دفولکلور په اندول بېخي اېرخېړل شوی دی او راتو لولو ته یې هم دومره پام نه دی اړول شوی. د ماشومانو د فولکلور راتولو لو ته دلویدیځو فولکلوریستانو توجه د (۱۸) پېړی په پای او د(۱۹) پېړی په سر کې اوښتې وه، دمثال په توګه په روسیه کې دماشومانو دفولکلور لومړی مجموعه د(۱۹) پېړی په نیمایي کې تدوین شوې وه. په دویمه نیما یی کې ورته توجه زیا ته شوه او زیا ت شمیر فولکلوریستانو، لیکوالو ښوونکو او نورو څېړونکو دکوچنیانو فولکلوریک اثار راټول کړل او ویې څېړل.

دغه اثار په هغو جریدو او مجلو کې چې دماشومانو له پاره خا ص وو، په پرله پسې دول خپریدل او نور لوستونکي دهغو راټولولو ته تشویقید ل.

ددغو آثارو په راټولولو کې ځینو لویو پوهانو هم برخه ا خیسته چې دهغو په جمله کې مشهو رژ پوه، دسترقاموس مو لف ــ و ، ی، دال هم شامل دی (۱)

دماشومانو فولکلوریک ادب لکه دلویانو اولسي ادب پو ل پو ل دی:

منثو ر، منظو م، سندر یز، بې اهنګه .

دماشومانو فولکلوریک اثار کله خپله ددوی له خو اجو ړ یږ ي او کله د لو یانو له خوا ددوی دذهن او پو هې د سو یې سره سم جوړ شوی وی چې دوی هغه حفظ کړی او تکرار وی یې ترڅو چې دما شوم عمر کم وی ، هما غومره یې فولکلوریکه برخه دلویانو له خواجو ړیږي، په هغوی کې له هرڅه نه زیات

۱ــ «روسي اولسي ادب» ۲۹۲ــ۲۹۳ مخونه

اهنگ،قافیه او سندریز خصوصیات په نظر کې قبول شوي وي .دهرچا لـه خولې که جوړ شوي وی،بیاهم دماشومانو فولکلو ر گڼل کیږی او د دوی مال دی او دلته یوشان خیړل کیږی .

دماشومانو دفولکلو ر په باب په پښتو کی تراوسه نژدې هیڅ کا ر نه دی شوی یوازې سیال کاکړ دخپلې سیمې د ماشومانو په فولکلو ر کې یو څه خیړنه کړې او ښه مواد یې راټول کړی دی.(۱)

دماشومانو په فولکلو ر کې موږ ددوی دذهني شرایطو سرهسم هر ډول موضوعات مو ندلای شو ولکه دغه دهیلواو ارمان سندره !

کاشکې زه هیلۍ وای — غاړه سپې نری وای

ناسته پر هګۍ وای — شیر کې لا لا

یالکه دغه بله:

کاشکې زه کوتره وای-ښه پ مېدسرو زرو وای،شیر کی لالا

دماشومانو په سندرو کې نا آشنا او مبهم لغات ، دېر دیوژ بو ناآشنا کلمی او هغه الفاظ چې مجرداو انتزاعی مفهوم او معنالري،نه وی.ددوی سندرې دخپل چاپیر یال داشناشیانو ،طبیعی پیښو (لکه باد،باران)او نورو په باب وی.

لکه داو بل په باب:

او ښه او ښه ډانګه—هسکه دې غړا نګه

۱ — «پښتنی فولکلو ر»سیال کاکړ—کو ټه ۱۹۷۱ کال

کوچي ماماناري وهي—دوه غبرګي نغارې وهي
يالکه‌دا

و روره و رو ر ه ستا يمه - بلبله د تيرايمه- چرګه راته وا خله -
چې چرګ کوري درته بيايمه دلته که ساه‌ونشو -(...) ته به يې بيايمه

يالکه دا، چرګې ته دهګيوا چولو په‌وخت کې :

چرګې! چرګې! وی (هويه) وا چوه - پا س په کو تنی وا چوه
ا وس په‌ګيدړ راشي تا به‌و خوري-ما به‌پر يږدي .

د کوچنيا نو دفلکلو ر په‌لړ کې ددوی د لو بو سر اسم‌او دو دخاص ځای لري
حتی‌دتيو لې نړی‌دکو چنيانو لو بې‌څه‌ناڅه ډراماتيک ا و آهنګ لر و نکی‌الفاظ
لري‌هغه‌الفاظچې کو چنيان يې‌په‌لو بو کې‌استعمالوی ډېر ځله‌ليد ل کيږی چې
کومه‌معنانه افاده‌کوی اما وجو د يې ضر و ر ی وی . د لو بو په پيل کې
دملګر و سره‌و يشل‌دنو ر و په‌مقابل کی يوه‌پارتۍ‌جوړول «لنده او و چه» ا چول
اوداسی‌نور يوه‌خاصه سلسه‌فلکلو رې جملې لري چې د لوبود نو رو اصولو
په‌خير دماشو مانو په‌نزددمنل شو يو مقر راتو په شان دهغوی‌مر اعات لازمي‌دی.
د کو چنيانو دلو بو په‌جمله کې يوه‌د«پټوو نکې» يا« پټاپټ»په نامه يادېږي
چې‌دلږڅه‌تو پير سره‌هم‌دلو يديځ او هم دختيځ په کو چينيانو کې معمو له ده .
ددې‌لو بې‌اجر اهلته‌او دلته‌سره دو مره تو پير نه‌لري،اما داچې څو ک بايد سترګې
پټې کړ ي ا و څو ک بايدغلی او چيرته‌پټ شي،ددی‌دپاره‌دهرځا ی وا ره خپل
دو دو نه‌او خپل‌الفاظلري.دهغو الفاظوله جملی‌څخه‌چې ليکو نکی ته د وړکتو ب
نه په‌زړه‌دی په‌دې‌ډو ل‌دی:

اکوبکو سارسیندکو-غواسی لاړه‌په‌تر پکو، اباسین بیری‌بیری پکې‌ناسته در خانی-الی‌شرنگه دېلی.....

ددغې‌لوبې‌پیل‌داسی کیږی: په لوبه کی گډون کوونکی کوچنیان د ا سې سره‌راټول شي‌چې‌په اصطلاح‌پینځه‌ورځخه جوړه شی، بیا هر یوخپل لاسو نه یایو لاس‌په‌خپل‌سخ کې و غځوی،د هغوی‌له‌جملې‌څخه یوماشوم‌پاسنی (اکو بکو) شروع کړی‌او په‌ترتیب سره‌دهری هجا د ویلو په‌وخت کی د یوه ماشوم‌په‌لاس‌خپل لاس ږدی،په‌هر چاچې‌ختم‌شو هغه‌سترگی پټوی‌او نور پټیږي.
د لټون‌په‌وخت کې‌بې که‌هرماشوم‌دلوسړی‌ځل له‌پاره ولید، خپله وظیفه‌بیا هغه‌ته پریږدی‌او په دی‌ډول لوبه‌دوام‌مـــــومی.

دزانگوسندرې

د فولکلوریستانو په عقیده‌دزانگو سندرې‌دماشو سانو دفو لکلوریوه‌ډېره لرغونې‌نوعه ده‌چې دسیندوله خوا جوړې‌شوې او سندریز اوشا عرانـــــه عناصر لري.

دغه‌سندرې(لکه‌چې‌درو حیاتو پو هان وایی)نه‌یوازې‌داچې آهنگونه یې په‌ماشوم‌باندې هیپنوزی اغېزه لری‌او هغه ته خوب ورولی، بلکی دهغه‌په ما شو مانه ذهنیت کی‌دخوب‌یوه نړی‌تصویر وی او هغې‌ته‌یې وربولی.

ما شوم‌چې‌څو ځله‌په داسی آهنگونو اوسند رو ویده شوی وي، دهغو په اوریدلو ورته بیاخوب ورځي.

ددزانګو په سندرو کې سیندې کوشش کوي (دخوب په نړۍ کې)د اسې تصویر جوړ کړي چې دهغو دنو سو نو سره دماشوم غوږونه آشنا وي.

د زانګو آهنګونه او سندرې کوم خاص فارمول نه لري ، په هر ځای کې په بېل بېل ډول ویل کیږي ،یوه یې داده.

آللو للو ـخوب دې درشه په لېمو

(د ماشوم نوم)داسې و بدمدي ـلکه ګوډی در نجو ـآللو للوللو ..

کیسی

کیسی چې اړې، چیستان او معما هم ورته وایی، دماشومانو په فولکلوریک ادب کې خاص مقام لري. د کیسو سره نه یوازې ماشومان بلکې کله کله لویان هم مینه لري او له دې امله دماشومانو او لویانو یو ګډ ادبي ژانر او قسم ګڼل کیږي.

کیسی د یو اشنا شیز یا تکرارېدونکی پېښې او پېښې او منحرف اړخ ښئي چې د یوه دویم شیز یا پېښې په صفاتو چې کوم مشابهت او ورته والی ورسره ولري ذکر کیږي .

کیسی په خبرو کې کوم مهم رول نه لري، بلکې دماشومانو تر منځه دساعت تېرۍ او دمخاطب دذهن دسویې دمعلومولو ،بې ځوابه کولو او مقابلې له پاره طرحه کیږي .

کیسی کله ددوو تنو او کله ددوو ډلو تر منځ ترحه کیږي چې په «داڅه شی

دی؟»سره د پوښتني په ترخ کې و ړاندي کیږي .

د کیسي یوه خاصه داده چې دستل په شان دو یمه کنایي معنا، په لنډو او اشنا الفاظوو یله کیږی او کوشش کیږی چې دستل په شان یې دالفاظو انډ ول او تناسب و ساتل شی .

دفلکلو رستانو په عقیده کیسی په ډیر لر غو ني و خت کې دودونو په دو د او دستو رکې شامل و ې.لکه چې لر غو ني افساني او روایات شاهدی و ر کوي په ډیرو لر غو نو و ختو نو کې دناوې کو رنی ددې له پاره چې د خپل ز و م د ذهنیت اوپوهی اندازه معلومه کړي،له ده څخه به یې د کیسی په ډو ل څو پو ښتني کو لې اوپه دې صو رت به یې معلومو له چې ددو ی زو م ددو ی د خو ر یالو رسره دګډژوند وړدی که نه؟دسیف الملوک او بدر ی جمالی په لر غو نې قصه کې ویل کیږی: کله چې له دولس کاله سزل او خو اریو او زحمت ګاللو نه و روسته سیف ـ الملوک د بدر ی جمالي سره و اده کاو ه،د بدر ی جمالي پلار دسیف ا لملوک نه دا د ر ي پو ښتني و کړې.

الف ـ د څه شي غوړ تر ټو لو زیات دی؟ځو اب: دباران . ځکه چې هر شی ته غوړو ر کوي.

ب ـ د څه شي ګل ډیر ښه دی؟ځواب اد پو ښې.ځکه چې د هرچا پوښاک دی .

ج ـ د څه شی زور زیات دی؟ځو اب:دآ س ځکه چې ملکونه ا پل کو ي او د پېړو د ر زهاريې تر لیر ي ځای پو ر ي ر سیږی.

کیسې بیاو روسته و رو په ورو دروغژنې بڼه غوره کړه او سیندې اوپلرونه په تیره بیا دژمي په شپو کې دخپلو ماشومانو دذهنې ودې او دهغوی دذکاوت دمعلومولو له پاره ورته رامنځ ته کوي.

کیسې په ماشوم کې دتجسس، لټون او کنجکاوۍ فکر پیداکوي کیسې هم په منثور او هم په منظوم دوول وی چې دهغوی منثوردول هم خاص آهنګ او خاص سندریز خصوصیات لري.

په پښتو کې کیسې زښتې ډیرې دي، په هره سیمه کې په بیلو بیلو ډولونو موندلې کیږي. خوتر اوسه په دې باب کوم سهم لټون نه دی شوی، یوازې پښتو ټولنې په (۱۳۳۱) هـ ش کال «پښتو قصې» کې د هغو یوه برخه خوره کړه.

دمنثورو کیسو مثالونه:

داخه شی دی! ورو کې نورګې لالاو ډک؟ (انار)

داخه شی دی! ټوله و رخ ګرځي، ګرځي، دشپې خواله واز وي سي؟ (بوټ)

داخه شی دی! نه پښې نه یې وزرښته، په یوه رپا دغرو نو تیرشي؟ (نظر)

دمنظومو کیسو مثال:

نه تیره ده نه لوته ده ګرده سرده سوړه ده

کیږ ی په پټی کی ډیری په بټی کې (ګوره)

نه ګرځی نه خوراک کا نه یې بلې خواته تله شي انسان ورته وایه شي

همیش په یوه حال وی سترګې هم رپوي نه شي انسان ورته وایه شي (عکس)

بل مثال :

هيڅ نه وی دو رځی - خو چې شپه شی راپيدا شی - هر چاته په خنداشی

خندايي د فيض نا که - د خنداسره ژړيږی - ځان و خوری بيا ورکيږي (شمع)

منظومې کيسې غالباً دادې دي يا د ولس څخه راجوړې شوې دي، خو څرنګه چې د ماشومانو

په باره کې وي نو ځکه د ماشومانو د فلکلور په برخه کې ځيرل کيږي .

مأخذونه

د دغه کتاب په لیکلو کې له لاندینیو کتابونو څخه لیږه یا ډیره استفاده شوې ده:

۱-«پښتنې سندرې» لومړی ټوک-پښتو ټولنه- ۱۳۳۴ کال

۲-«پښتنې سندرې» دویم ټوک-پښتو ټولنه-۱۳۳۵ کال

۳-«دغلکو سندرې» دښاغلي «رفیع» لیکنه- دافغانستان اکاډمي-۱۳۴۹ کال

۴-«پښتو متلونه». د ښاغلي ژواک په اهتمام- پښتو ټولنه-۱۳۴۴ کال

۵-«روسي اولسي ادب» مسکو-۱۹۶۶ ع کال

۶-«فولکلور دلفظي هنر په حیث» دمسکو دپوهنتون چاپ ۱۹۶۶ کال

۷-«د پښتو متلونو او محاورو ژبه او نظم» مولف: س-سیر گانوف دډکتورا تیزس مسکو-۱۹۷۳ کال (ناچاپ)

۸-«دلرغوني یونان او روم منتخب ادبیات» مسکو ۱۹۶۵ کال (لومړی ټوک)
« « « یونان، دویم ټوک د روم ادبیات)

۹-«دیونان او روم دانتیکو ادبیاتو تاریخ» دلیننگراد دپوهنتون چاپ - ۱۹۶۳ کال

۱۰-«پښتني فولکلور» ښاغلي سیال کاکړ- کوټه-۱۹۷۱ کال

۱۱- کاکړۍ» ښاغلي سیال کاکړ- کوټه ۱۹۷۳ کال

۱۲-«تاجیکي اولسي نظم له تاریخ څخه» مولف: ی، س. براگینسکي-مسکو-۱۹۵۶ کال

۱۳-«دافغانستان تاریخ» لومړی ټوک-مولفین: و.م. ماسون. او. و. ا. رومودین مسکو ۱۹۶۴ کال

۱۴ ـ دپښتونستان «نه ایلیدو نکی او لس» ادب: مولف ـ ګ، ف، ګیرس ـ مسکو ۱۹۶۶ کال

۱۵ ـ «د تاجیکی پارسی ادب تاریخ» مولف ـ ی. بر تیلس ـ مسکو ـ ۱۹۶۰ کال

۱۶ ـ «دمینی جهان» دښاغلی محمد عالم لیکنه ـ په خلور وتو کو کی چې د پښتو تولنی په کتابتون کی خوندی دی.

۱۷ ـ د سروتو کسرو نه» د عبد الرحیم مجذوب تالیف ـ د پیښور د پښتو اکامی د چاپ.

فهرست

۱ـسر یزه ـ دښپرندوي محمدصدیق «روهي» له‌خوا	ـالف مخ
۲ـددي کتاب په‌باره کې ـدښپرنمل‌خیر محمد سادله‌خوا	زمخ
۳ـاولسي ادبا و فولکلور	۱«
۴ـزموږ هیواد دآریایې فولکلور او تمدن‌زانګو	۳«
۵ـاولسي ادب‌ته دنړی والو پام	۴«
۶ـ فولکلوریکا او لیکلی ادب	۲۰
۷ـپه‌فلکلور کې‌ملیت‌او بین‌المللیت	۲۵
۸ـاولسي ادب‌دفورم او مضمون‌له‌مخی	۳۰
۹ـ اولسي ادب‌ـهنر اونورعلوم	۳۳
۱۰ـاولسي ادب‌او دهغه ویش	۳۶
۱۱ـافسانه‌په‌اولسي ادب کې	۳۹
۱۲ـ تاریخي افسانوي حماسه	۴۶

۱۳- میلي داولسي ادب یوسهمه څانګه ۵۱
۱۴-اولسي عشقي سندرې ۶۵
۱۵- لنډۍ ۷۰
۱۶- سروکی ۷۵
۱۷- داتن ناري ۸۶
۱۸- بابو لالې ۸۸
۱۹- دهوتکو نا رې ۹۵
۲۰-کاکـــړی ۹۸
۲۱- لنډکی ۱۰۱
۲۲- اولسي تاریخي حماسي سندرې ۱۰۲
۲۳- دکورنیو ښځو فولکلور ۱۰۵
۲۴- دخاصو وختونو اولسي ادب ۱۰۸
۲۵- توتکي او کوډې په اولسي ادب کې ۱۱۱
۲۶- ساندې ۱۱۶
۲۷- اولسي ننداري او اولسي تیاتر ۱۲۱
۲۸-دپښتو داولسي آهنګونو لرغونتیا ۱۲۸
۲۹- د ماشوما نو فولکلور ۱۴۳
۳۰- کیسې ۱۴۹
۳۱-د فولکلور دراتبولو لارې ۱۵۳

PROPERTY OF ACKU 1518

سهون لیک

مخ	کرښه	نا سم	سم
دریم مخ	لومړی کرښه	اریابی	اریایی
۳	لومړی کرښه	داپیدایښت	دپیدایښت
۴	۱۵	باتی	پاتې
۵	۹	بهر ینو	بهرنیو
۵	۱۰	څېړنی	څېړنې
۵	لمن لیک	تاریځ	تاریخ
۵	« « «	تطم	نظم
۶	۱۴	بینسو تنیست	بینو بیست
۸	۳	شودی	شوې دي
۸	۱۱	دبهداسی دول	پهداسې ډول
۸«	۱۹	اثر الباقیات	اثار الباقیات
۱۱	۷	غوځ	غوخ
۱۲«	۱۲«	دسرورزو	دسرو زرو
۱۳«	۱«	ظیفه	وظیفه
۱۴«	۲«	راتول	راټولول
۱۴	۶«	همزولی د «	همزولي دي.
۱۵«	۱۰ «	و ینو	و نیو
۱۵«	۱۷«	ساف	سلف
۲۳«	۱«	اغزي	اغېزې

۲۳«	۸«	اغزي	اغېزي
۲۳«	۱۹ »	شخصي	شخص
۲۴"	۱«	بربل	بیربل
۲۶	۱«	دژ و نداو ژ بی	په‌ژ و ند او ژ بي
۲۶«	۱۱«	فو رلکلو ر	فو لکلو ر
۲۷«	۱۲«	اپپو نه	تیپو نه
۲۸«	۱۸«	اونوووسره	او نو ر و سر ه
۲۹ »	۷«	د هغو سر ه‌سنم‌و ده	د هغو سر ه‌سمه و ده
۳۶«	۸«	خپل	خپل
۳۹«	۷«	طبعی	طبیعی
۴۱ »	۹ »	نه‌وی‌و پشل‌شوی	نه‌و و پشل‌شوی.
۴۲	۵ »	سپیك	سبك
۴۳«	۲ »	قو یشت	نو شت
۴۸«	۱۹«	اریخي	تار یخي
۵۲«	۹ »	خاطب	مخاطب
۵۹«	۳ »	رو بثی	رو ښی
۶۰«	۱۰	مستدااوسندالیه	مسند اومسندالیه
۶۰	۱۱«	انگلسی	انگلیسی
۶۲«	۸ »	بهیقی	بیهقی
۶۲«	۱۱ »	پښتو فسا ن	پښتو نستان
۶۳«	۳ »	دو کتو ر	دو کتو ر ا

٦٣«	٥	هەمدا	هەمد
٦٤«	١٠«	ځوږلیږوی	ځوږلږوی
٦٧«	١٤«	دپوندەو کوچپو	دپوندەو کو چیو پەتوگە
٧٠«	٥«	کولکتور	کولتور
٧٢«	٢«	اود ١٨	او(١٨)
٧٢«	٤«	کمصله	کم‌اصله
٧٢«	١٢«	کی‌سلابل	کی‌دسلابل
٧٣«	٧«	خواشینو	خواشینیو
٧٨«	٣«	ملغلری‌دی	ملغلری‌سی
٧٩«	٤	کوزدچنارهه	کوزدچنارو
٧٩«	١٧	جاروی‌سی	جارو کڕی
٧٩«	١٨	زماجانه	زماجانانه
٨٠«	٣«	دهیرو	دهپو
٨١«	٧«	غلنکی	غنکلی
٨١«	١٠	ولوولونه	ولونەولونه
٨٣«	١٦		

وروخه‌پەبلی—بادی‌دزلنو : پەبلی‌وروخه—لیلاوروخه—بادی‌دزلنو

٨٥«	٩«	پرسرمی کوردی	پەسرمی کوردی‌گله
٨٥«	١٣	نورمی‌دپ‌سوی	نورمپ‌دسوی

٨٥	١٣	عمجن كرمه	غمجن دی كرمه
٨٥	١٠	پەغنود وله ـ	پەغود و له
٨٩	١٥	كو دكرى	كو د كرى
٩٠	١٢	پاتیشو عناصر و	پاتیشو نو عناصر و
٩٢	١٠	و رستنى	و ر و ستنى
٩٥	٣	تسلط	تسلطه
٩٨	١	السى	اولسي
١٠٢	١	داداولسى	داو لسي
١٠٢	٣	نو الكلورى	نو لكلو ري
١٠٣	٣	داغبيري	داغيزي
١٠٤	٤	پرانكيان	پرنكيان
١٠٦	١٢	زبيرندى	زبيرندي
١٠٧	٩	د كو رنی دیو	د كو رنی دیوي
١٠٨	١١	نو لكلو رپسانو	نو لكلو ر پستانو
١١٠	٦	ستري	بستري
١١٢	٨	كولەيي پەمينه كى پە	ـ كولەچى پەمينه كى پە
١١٣	٢	ايهيوده	ايپيوده
١١٦	٤	شاعرانو	شا عرانه
١١٩	١٨	پەعرض	پەغرض

də

paṣtó

də ūlasí adáb lāre

Cerənwāl

D. Dost

paṣtó tolána

1978

دولتی مطبعه